بسم الله الرحمن الرحیم

د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

(٥)

ډاکټر کفايت الله وردګ

د کتاب په اړه ....

د کتاب نوم : د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه (۵)

لیکوال : ډاکټر کفایت الله وردګ

د کمپیوټر چارې : محمد نذیر (ذبیح)

د چاپ وار : لمړی

د چاپ شمېره : ۲۰۰۰ ټوکه

ZamZam



زم زم

Publication Company


خپرندویه ټولنه

Zamzam_publication@yahoo.com

00923009808094
00923009101098

Unit R 7 Alwajid Plaza, Faisalcolony Chawk, Dalazak road
Peshawar, KPK, Pakistan







د اسلامي تاريخ له پاڼو څخه

په زړونو کې د اسلامي جذبې لرونکو ځو وروڼو زمونږ ددې لپاره ملا تړلې ده چې تر پورتني نوم لاندې د کتابونو يوه سلسله روانه وساتو پدې هلو ځلو کې زمونږ هېڅ مالي او دنيوي فايده نشته زمونږ غرض صرف د الله تعالى رضا ده او پدې سلسله کې مونږ ځو نکتې تر نظر لاندې لرو چې مونږ دې ټولو هلو ځلو ته هڅوي .

١. پښتنو وروڼو ته ددوی په خپله خوږه ژبه کې ديني معلومات ورکول.

٢. د اسلامي تاريخ د مهمو واقعو ياد را تازه کول .

٣. مسلمانو وروڼو ته د دوی د مقدس دين په اړه د مطالعې ضمينه مساعدول.

٤. په تېر تاريخ کې د قربانيو مثالونه د نن زمانې ويده مسلمان امت ته ور په زړه کول .

٥. د اسلام په تاريخ کې د تېرو مسلمانانو د صبر واقعې هغه خلکو ته ور په يادول چې اوس هم په کومه نه کومه وجه د کفر له لوري نه ځوريږي .

٧. موجوده مسلماني جامعې ته موقع ورکول چې د خپلو تېرو مسلمانانو د ژوند، مېړانې، ځوانمردۍ، قربانۍ ... نه عبرت واخلي .

او بالآخره نوي ځوان تنکي نسل ته د اسلامي تاريخ د لويو کتابونو څخه لويې خبرې د وړو رسالو او کتابونو په شکل کې ددوی د اسانتيا لپاره وړاندې کول .

دا پورتنی او څه نوري داسې نکتې دي چې مونږ ددې سلسلې رواني ساتلو ته هڅوي او ان شاء الله ترڅو مو چې وس وي دا لړۍ به مونږ همداسې روانه ساتو لله الحمد داده ستاسې تر لاسونو پورې ددې مبارکې لړۍ پنځمه کړۍ هم در ورسېده او پدې کړۍ کې هم مونږ د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابه وو په غزواتو باندې د څلورم کتاب په تعقیب باندې خبرې کوو امید دی چې ستاسې د خوښې وړ به و ګرځي او که کوم ملګري دې لړۍ ته د لا زیاتو ښه کولو لپاره په ذهن کې مشورې لري او یا خدمت کول غواړي زمونږ غېږه ورته خلاصه ده او که ددې کتاب او یا دې لړۍ په اړه ستاسې څه ډول اعتراض، سوال، نیوکه، نکته، نظریه او یا مشوره وي نو ددې سلسلې چلونکي به یې له ستاسې نه د کور ودانې په ویلو سره په ورین تندي واوري او په راتلونکو کتابونو کې به یې په یاد لري . مننه

د زمزم خپرندویه ټولنې اداره

E-mail: zamzam_publication@yahoo.com

سرية عبد الرحمن بن عوف ❽



پدې سريه کې رسول الله ☸ حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ د اوو سوو کسانو سره دومة الجندل ته لېږلى وو او دومة الجندل هغه تر ټولو لرې ځاى وو چې د رسول الله ☸ جنګيالي ور رسېدلي وو دا له مدينې منورې نه د دمشق په درى چنده سره لرې وو او په دښته کې واقع ځاى وو پدې علاقه کې د کلب الکبرى قبيلي خلک اوسېدل او دا خلک نصارا وو ځکه چې دا د روميانو همسايه ګان وو دهغوى نصرانيت په دوى کې حلول کړى وو رسول الله ☸ حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ ته وويل ځان تيار کړه نن يا سبا زه تا چېرته لېږل غواړم ان شاء الله حضرت عبد الله بن عمر رضى الله تعالى

عنهما فرمايي ما وېل چې زه به د سحر په مانځه کې د رسول الله ☸ سره شريک کېږم رسول الله ☸ چې هروخت څوک کومې خوا ته لېږي نصيحت ورته کوي او زه به هم هغه نصيحت واورم چې سبا شو زه په مانځه کې ورسره شريک شوم مونځ مو وکولو حضرت ابو بکر صديق او حضرت عمر او د مهاجرينو څخه نور خلک ☙ هم وو او پدې ډله کې حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ هم وو رسول الله ☸ هغه ته ووېل چې د شپې به روان شې دومة الجندل ته هغه خلکو ته به د اسلام لوري ته دعوت ورکړې بيا يې حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ ته ووېل شا ته دې څوک دي؟ هغه ورته ووېل ابن عمر دی حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ ووېل کاش زه په آخر ځل لتاسره په داسې حال کې ملاقات وکوم چې د سفر لباس مې په غاړه وي پدې وخت کې حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ لنګۍ په سر کړې وه رسول الله ☸ را وغوښتو په خپل مخ کې يې کېنولو او توره لنګۍ يې ور په سر کړه او شمله يې د اوږو په مينځ کې ورته پرېښوده بيا يې ورته ووېل داسې لنګۍ په سر کوه ای ابن عوف دا يې ښه طريقه ده او پدې وخت کې د حضرت عبد الرحمن ابن عوف ❽ په اوږه کې توره پرته وه.

رسول الله ☸ حضرت بلال ❽ ته امر وکول چې بيرغ ورته راوړئ هغه ورته راوړل شو حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ ته يې په لاس ورکړو او ورته

يې وويل : دا واخله ټول د الله ① په لاره كې جهاد وكوئ .
د يو روايت له مخې ورته يې وويل : د الله په لا ره كې د الله په نوم سره جهاد وكوئ هرچا چې له الله ① نه انكار كولو دهغه سره جنګ وكوئ ، خيانت به نه كوئ، غدر به نه كوئ ، ماشومان به نه وژنئ دا ستاسې د الله سره عهد دی او دا په تاسې كې ستاسې د نبي اخلاق دي . حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ بيرغ واخيستو او د رسول الله ☸ څخه روان شو ملګري يې چې دده څخه وړاندې تر الجفر نومي ځای پورې رسېدلي وو هلته يې مركز جوړ كړی وو مخكې تېر شول چې اوه سوه كسان وو په هغوی پسې ور ورسېدلو د خپلو ملګرو سره په يوځای روان شو تردې چې دومة الجندل ته ورسېدو هغه خلک يې اسلام ته را وغوښتل چې چا به انكار كولو نو په توره ورسره مخامخ كېدل تردې چې هلته په دريمه ورځ يې د قبيلې مشر الاصبغ بن عمرو الكلبي ته د اسلام دعوت وركړو هغه اسلام ورسره قبول كړو چې ددېنه وړاندې نصراني وو .
رسول الله ☸ ته يې ددې خبر را ولېږلو او رسول الله ☸ ته يې دا هم وويل چې زه غواړم پدې خلكو كې واده وكوم رسول الله ☸ ورته ځواب ور ولېږلو چې د الاصبغ نه دهغه لور وغواړه هغه يې وغوښته الاصبغ هم ترېنه انكار ونه كولو او خپله لورېې حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ ته

ورکړه په هغې باندې يې هماغلته واده جوړ کړو او بېرته په راتلو کې يې مدينې منورې ته ورسره راوستله يو روايت داسې هم شته چې کله دوی تلل رسول الله ﷺ ورته وويل : که هغوی ستا اطاعت وکولو نو د مشر لوريې د ځان لپاره وغواړه او واده ورسره وکوه .

ددې سريې په واقعه کې رسول الله ﷺ د حضرت عبد الرحمن بن عوف ❸ سره ډېره مينه او خپله عاجزي ښکاره کړېده چې هغه يې را وغوښت او په خپله مخه کې يې کېنولو او هغه ته يې په خپل لاس باندې پټکی ور په سر کړو پدې سره د عبد الرحمن بن عوف ❸ معنويات ډېر لوړ شول او د رسول الله ﷺ نه ډېر زيات خوشحال وو ځکه د قائد له لوري د افرادو سره ښه رويه کول د کاميابي د لويو اسبابو څخې دی .

حضرت عبد الرحمن بن عوف ❸ ته چې رسول الله ﷺ کوم نصيحت کولو بنيادي خبرې يې ورته وکولې هغه دا چې : د الله په لا ره کې د الله په نوم سره جهاد وکوئ هرچا چې له الله ① نه انکار کولو دهغه سره جنګ وکوئ ، خيانت به نه کوئ، غدر به نه کوئ ، ماشومان به نه وژنئ پدې نصحيت کې چې رسول الله ﷺ راجمع کړي ټولي داسې خبرې دي چې يو مجاهديې بايد خامخا ساتنه وکوي .

رسول الله ﷺ ددې مجاهدينو د مشري لپاره جناب حضرت عبد الرحمن بن عوف غوره کړو ځکه چې دا يو داسې مجاهد وو چې د اُحُد په غزوة کې شل

ځايه زخمي شوی وو چې اکثر زخمونه يې سخت وو او د هماغه له وجې نه يې اوس په يوه پښه کې ګوډ والی هم را پيدا شوی وو .

رسول الله ﷺ حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ ته په صفا ټکو کې ويل چې ګوره د بل څه لپاره جنګ ونه کوې صرف د الله په نوم به جهاد کوې او د الله په لاره کې به جهاد کوې .

لکه چې مخکې د اسلام نه جنګ صرف کاميابي ګڼل وو چې په هره لاره وي لکن رسول الله ﷺ ورته وويل : دوکه به له چا سره نه کوې خيانت به نه کوې.

د اسلام نه وړاندې به چې د دښمن هرڅوک په لاس راتلل نو قتل کېدل به اوس رسول الله ﷺ په صفا ټکو کې ورته وويل ماشومان به نه وژنې .

پدې وخت کې رسول الله ﷺ حضرت عبد الرحمن بن عوف ته لنګۍ ور په سر کړه او شمله يې هم ورته پرېښوده او هغه يې د اوږو په مينځ کې ورته پرېښوده او بيا يې دا هم ورته وويل چې همداسې يې په سر کوه .

رسول الله ﷺ د يو روايت له مخې حضرت عبد الرحمن بن عوف ته دا هم وويل که هغوی ستاسې اطاعت وکولو نو د الاصبغ (د دوی د مشر) لور ځان ته وغواړه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چې پدې سره به ددوی د مشر ا د مسلمانانو ددې لښکر د امير په مينځ کې داسې رابطه جوړه شي چې نه شکېدونکې وي او دا په رښتيا هم اول د دواړو مشرانو بيا

د ټول لښکر د هغه خلکو سره يوه داسې رابطه وه چې ډيره ټينګه او موثره وه .
لنډه دا چې دا سريه په علمي او عملي ډول باندې د مجاهدينو د جهاد څرنګوالى، هدف، مقصد، او د مجاهدينو سره د قائد رويه او د مشر قائد د کشر قائد سره رويه او وضع ښکاره کوي .

سرية علي ابن ابي طالب ❽

دهجرت په شپږم کال کې د شعبان په مياشت کې رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې يوه ډله ده هغوى غواړي چې د خيبر د يهودو سره مرسته وکوي او د مسلمانانو سره يې جنګېدلو ته تيار کړي رسول الله ﷺ حضرت علي ❽ په دوى پسې د دوو سوو (۲۰۰) کسانو مجاهدينو سره فدک نومي ځاى ته ور ولېږلو او تر دې ځايه پورې دې شپږو شپو لاره وه دوى به د شپې منزل کولو او د ورځې به يې چېرته په خفيه ځاى کې ارام کولو تردې چې هلته ورسېدل د هغه ساحې يو کس يې پيدا کړې دوى ورسره خبرې وکولې هغه ورته وويل چې ماته به څه نه واياست زه به تاسې ته ددوى په اړه ووايم دوى ورسره وعده وکوله هغه کس اعتراف وکولو چې زه هم د دوى له ډلې نه يم او زه يې همدا اوس د خيبر يهودو ته ور لېږلى وم چې د هغوى سره دا خبره وکوم چې مونږ لتاسې سره مرستې کولو ته تيار يو او تاسې به مونږ ته د


خيبر په خورما وو کې برخه راکوئ بيا يې دوی ته وښودل چې هغه کسان چېرته دي صحابه وو په نا خبری کې په هغوی باندې حمله وکوله پنځه سوه اوښان او دوه زره مېږې يې ترينه په غنيمت ونيولې او دا کسان ټول وتښتېدل پدې وخت کې ددوی سردادر وبر بن عُلَيم وو .

سرية ابي بکر الصديق ❽

رسول الله ☸ ته خبر راغلو چې د بني فزارة قبيلې يوې کورنۍ څه کسان را ټول کړي او په رسول الله ☸ باندې حمله کول غواړي رسول الله ☸ حضرت ابو بکر صديق ❽ د يو قول له مخې حضرت زيد بن حارثه ❽ د هجرت په شپږم کال د رمضان په مياشت کې د صحابه وو ﷺ سره په هغوی پسې ور ولېږلو يو صحابي حضرت سَلَمة بن الاکوع ❽ فرمايي زه پدې سريه کې لاړم او مشري يې حضرت ابو بکر صديق ❽ کوله چې هغه ځای ته ورسېدو چېرته چې ددې قوم اوبه وې دوی هلته را ټول شوي وو ابو بکر صديق ❽ وربانديې حمله وکوله او څه کسان چې ووژل شول هغوی ووژل شول يوه ډله خلک ما وليدل چې دغره خوا ته تښتي زه وډار شوم هسې نه چې دوی لماڅخه غره ته مخکې رسيږي بيا يې زه نه شم را نيولی نو مې يو غيشی ددوی او دغره په مينځ کې ددوی مخې ته وويشتلو دوی چې غيشی وليدلو نو ودرېدل زه

ورغلم په دوى کې يوه ښځه وه ام قرفة نومېده او يوه ددې لور هم وه ورسره دا مې ټول حضرت ابو بکر صديق ❽ ته را وستل او ام قرفة هغه ښځه وه چې پدې واقعه کې يې غټ لاس درلود او لويه شيطانه وه او د رسول الله ☸ د قتل دسيسه يې جوړه کړې وه او صرف له خپله کوره يې دېرش سپاره جنګيالي تيار کړي وو الله ① يې ددې شيطانت سزا دېته ورکړه او هغه ټول دېرش کسان يې ووژل شول دا چې له مسلمانانو سره وينزې شوې ابو بکر صديق ❽ يې لور ماته راکړه رسول الله ☸ احوال را ولېږلو د ام قرفة لور يې وغوښته هغه يې بيا د مسلمانانو څه بنديان وو دهغوى تبادله يې ورباندې وکړه او مسلمانان بنديان يې پرې راخلاصه کړل .

غزوة بني لحيان



كله چې د غزوة خندق لپاره د مسلمانانو مقابلې ته ټول عرب را ټول شول او بيا هم له ماتې سره مخامخ شول نو ټولو خلكو ته ښكاره شوه چې د اسلام مقابله اوس څوك نشي كولى او پدې اړه رسول الله ﷺ د صحيح بخاري په يو حديث كې فرمايي : ددينه وروسته به مونږ دهغوى سره جنګ كوو هغوى به يې راسره نه كوي .

ددې امله رسول الله ﷺ ددينه وروسته مختلفو ځايونو ته د صحابه وو ډلې لېږلې لكه يو څو مثالونه يې مخكې تېر شول او پدې حركاتو سره خلكو ته ښه په ټينګه ثابته شوه چې نور د اسلام مخه نيول د چا د وس كار نه دى نو په همدې

وخت کې رسول الله ﷺ هغه خلکو ته سزا ورکول غوښتل چې يو څه وخت وړاندې يې لس کسه صحابه په شهادت رسولي وو تفصيلي قصه يې ددې نه په وړاندې کتاب (د همدې سلسلې دريمه برخه) کې تېره شوېده .

د بني لحيان سره د جنګ سبب

بني لحيان هماغه کسان وو چې د رسول الله ﷺ د لېږل شويو لسو صحابه وو سره يې خيانت وکولو او دهغوی د شهادت سبب شول لکن ددې امله چې ددوی ځايونه مکې مکرمې ته نېږدې وو نو رسول الله ﷺ نه غوښتل چې په داسې ځای کې حمله وکوي چې هغه لوی دښمن (د مکې مشرکينو) ته ډېر نېږدې وي ددې امله رسول الله ﷺ په هماغه وخت کې ددې لسو کسانو د شهادت په مجرمينو پسې روان نه شولو او څرنګه چې اوس پوه شو چې د خندق له غزا وروسته ټولو کفارو همت له لاسه ورکړی دی او اوس هرڅوک پوهېدل چې که د مکې سره بالکل نېږدې هم مسلمانان په چا حمله وکوي د مکې نه به کفار ددې زړه ونه کوي چې د مسلمانانو په مقابل کې دفاع وکوي نو رسول الله ﷺ د هجرت د شپږم کال په ربيع الاول د يو قول له مخې په جمادي الاول کې د وو سوو کسانو صحابه وو سره په دوی پسې ور ووتلو سره ددې چې لکه څرنګه چې تاسې ته په پورتنۍ نقشه کې ښکاره کړل شوېده د بني لحيان علاقه غُران د مدينې منورې نه

زياته لري وه چې تر ۲۰۰ ميلونو څخه زياته وه لکن رسول الله ﷺ د خپلو ملګرد بدل په اخستلو او هغه قومونو ته چې په اسانه سره کړی تعهد ماتوي او د هېڅ ډول تړون قدر نه کوي ادب ورکولو ته ډېر لېواله وو نو ددې اوږدې لارې ټول مشکلات يې په خپله مبارکه ذمه قبول کړل او د مدينې منورې نه د خپل عادت مطابق د شمال په لوري ووتلو سره ددې چې اراده يې جنوب ته وه ددې لپاره چې چاته معلومه نه شي چې دوی چېرته لاړل کله چې راغلل غران سيمې ته هغه ځای ته را ورسېدل چېرته چې د هغه صحابه وو ځنې ۸ کسان په شهادت رسېدلي وو دهغوی د شهادت په ځای کې يې هغوی ته دعا وکوله او بيا د بني لحيان د کورونو خواته ور روان شول کله چې هغوی ته ددې خبر ورسېدو چې رسول الله ﷺ راغلی دی او دخپلو شهيدانو ملګرو بدل به له مونږ نه اخلي نو کورونه يې پرېښودل او پخپله ټول ترېنه د غرونو سرونو ته و تښتېدل رسول الله ﷺ د خپلو زړورو فوځيانو سره لاړو د دوی د کورونو په مينځ کې يې ورته خپل مرکز جوړ کړو او د هغه ځای نه به يې صحابه ډلې ډلې لېږل او ورته ويل به يې ځئ لاړشئ چېرته چې مو ددوی د کسانو څخه څوک پيدا کول نو را يې ولئ صحابه وو دوه ورځې مسلسلې په هغه ساحه کې د خلکو په لټون کې تېرې کړلې لکن څوک يې هم پيدا نه کړل ټول خلک د غرونو سرونو ته ختلي وو .


رسول الله ﷺ د دوی په ځای کې دوه ورځې تېرې کړې دوی ته يې وښودل چې زه ستاسې په ځای کې هم ستاسې د جنګ لپاره انتظار کولی شم او پدې سره يې د ټولو خلکو په زړونو کې د اسلام قوت په ښه توګه ور ځای په ځای کړو او ټول خلک يې يو ځل بيا پوه کړل چې د مسلمانانو مقابله اوس څوک نشي کولی بيا رسول الله ﷺ د موقع نه په ا ستفادې سره غوښتل چې مشرکين وډار کړي نو عسفان نومي ځای ته چې مکې مکرمې ته ډېر نېږدې دی راغلو بيا يې حضرت ابو بکر صديق ؓ را وغوښت او لس په آسونو سپاره کسان يې ورسره کړل چې دا له ځانه سره کړه او د مکې مشرکان وربانددې وډار کړه هغه دا کسان له ځان سره ملګري کړل او د مکې مکرمې ډېرې نېږدې ساحې ته ورغلل چې کراع الغميم يې ورته ويل هغه ځای مکې ته دومره نېږدې وو چې د مکې مشرکينو د دوی اوازونه واورېدل هغوی په منډو شول او دوی فکر وکاوه چې مسلمانانو په مکه بانې حمله وکوله او وارخطا حرکتونه يې وکول د رسول الله ﷺ مطلب همدا وو چې د دوی په زړونو کې وېره ور واچوي او ځينې خلکو ته دا خبره هم ښکاره کړي چې د مکې قريش د مسلمانانو څخه څومره ډارېږي او دا خبره هم ښکاره شوه چې مسلمانان له کفارو څخه نه ډارېږي او دومره نېږدې ساحې ته هم چې وغواړي راتلی شي .
ددېنه وروسته په خوشحالۍ او په امن سره د الله ① د شکر او د حمد سره مدينې منورې ته را

ستانه شول د تبوک سفر موده يې تر ۱٤ ورځو پورې ورسېده .

پدې غزوة کې اگر که جنګ ونشو او رسول الله ﷺ په سلامتيا سره راغلو لکن رسول الله ﷺ خو د جنګ لپاره تيار وتلی وو او په جنګي سامان باندې ټول مجاهدين مجهز وتلي وو او خاص د جنګ لپاره وتلي وو دا خو بېله خبره ده چې دوی د بني لحيان ځای ته ور ورسېدل نو هغوی تر پېنه تښتېدلې وو او سره ددې چې د رسول الله ﷺ سره جنګ ونشو لکن دا خبره ښکاره شوه چې رسول الله ﷺ څومره دخپلو ملگرو سره په وفا کې دی او هغه کسانو چې شهيدان شول دهغوی د انتقام لپاره پخپله را ووتلو .
او ددې غزا بله لويه فايده دا وه چې ددېنه وروسته د ټولې علاقې کفار پدې پوه شول چې مسلمانان هر وخت وغواړي زمونږ ځای ته هم راتلی شي او هر وخت به يې دهغه ورځې انتظار کاوه چې مسلمانان به په دوی باندې حمله کوي .



غزوة ذي قرد



دا غزوة د هجرت په شپږم کال د جمادي الاول په میاشت کې هغه وخت واقع شوه کله چې یو کس عیینة بن الحصن الفزاري چې په الاحمق المطاع باندې یې شهرت درلود د بني غطفان د قبیلې د څه نورو کسانو سره د مدینې منورې په چاپېریال کې په الغابة نومي ځای کې د رسول الله ﷺ په اوښانو باندې چې پدې ځای کې څرول کېدل چاپه واچوله او د حضرت ابو ذر غفاري ❽ زوی یې ووژلو او د ابي ذر غفاري مېرمن او اوښان یې له ځان سره روان کړل دا چې د پېښې وخت

وو نو څوک پرې خبر نه شول صرف د عبد الرحمن ابن عوف يو غلام دوى وليدل او په داسې وخت کې چې د سحر اذان ته لږ وخت پاتې وو هغه مدينې منورې ته منډه را اخستې وه چې رسول الله ﷺ پرې خبر کړي نو اول صحابي چې دهغه سره مخامخ شو هغه سَلَمة بن الاکوع وو هغه ته يې قصه وکوله سلمة بن الاکوع په لوړ ځاى باندې وختلو او په لوړ اواز سره يې د مدينې منورې لورې ته درى ځله ور چغه کړه (يا صبا حاه) يعنى اى سبا .... د مدينې منورې ټولو خلکو ته دده اواز ورسېدو او خپله يې په يوازې ځان په دښمن پسې ور منډه کړه دده سره دده غيشى او توره وه پدې غزوة کې د سلمة بن الاکوع کار ډېر عجيب وو پداسې حال کې چې دښمنان ډېر زيات او دى يوازې وو په دښمن پسې ورغلو او دى په پښو باندې په تېزو تللو کې مشهور وو چې منډه به يې کړه په آس سپور کس چې لږ به ورو روان وو را ګير کولو يې نو ددې امله په دښمنانو پسې ور ورسېدو په هغوى باندې يې د غيشو وارونه وکول او چې هغوى به پرې مخ را واړولو نو دى به په منډه بېرته تربنه را و تښتېدو او چې هغوى به بېرته مخ واړولو نو دى به بيا پسې ورغلو او هغوى به يې په غيشو ويشتل په يوازې ځان يې هغوى داسې وارخطا کړي وو چې هغوى زغرې غورځولې وې ترڅو منډې ته برابر شي آخر هغوى دده څخه ډېر زيات په تنګ شول عيينة بن حصن خپلو ملګرو ته وويل په ده

پسې دې څوک ور پاځېږي او سم کار يې د وکوي نو څلور کسان پسې ور غلل هغوی چې ده ❽ ته ور نږدې شول ده ❽ ورته وويل : تاسې ما پېژنئ زه ابن الاکوع يم د رسول الله ﷺ د مخ له برکته په ما پسې چې څوک راځي ما نشي ګير کولی او زه چې په چا پسې ورځم لما څخه نشي خلاصېدلی هغوی چې د حضرت سلمة بن الاکوع ❽ دا اواز واورېدو نو وډار شول او بېرته ترېنه لاړل.

له بله پلوه کله چې حضرت سملة بن الاکوع اول ځل پدې واقعه خبر شو او مدينې منورې لور ته يې اوازونه وکول نو په آسونو سپاره صحابه ﷺ د رسول الله ﷺ خوا ته را ټول شول چې په اوله دفعه کې ورته آته په اسونو سپاره کسان راغلل چې په دوی کې حضرت مقداد، او قتاده او اخرم او داسې نور ﷺ شامل وو رسول الله ﷺ په دوی باندې سعد بن زيد امير کړو او دوی ته يې وويل چې د دښمن په طلب کې لاړ شئ ترڅو چې مونږ په تاسې پسې در روانېږو تاسې به تر ډېره ځايه پورې رسېدلي ياست .

د آسونو پدې ډله کې يو حضرت ابو عياش هم وو رسول الله ﷺ ورته و فرمايل : دا آس به دې بل داسې چا ته ورکړی وو چې دهغه په آس باندې ښه واک وي او د آس په زغلولو کې تجربه ولري .. ده ورته وويل : زه په خپله ښه د آس سپرلي کولی شم او ددې خبرې سره يې په آس سپور شو

چې روان شو تـر پـنځوسو مـترونـو څخه زيـات نـه وو تـللـى لـه آس نـه ولـوېـدو .

پـه آسونـو سپـاره صحابـه د دوى پـه طلب کې ووتـل او تـر حضرت سلمة بـن الاکـوع پـورې پـه داسې وخت کې ور ورسېدل چې هغـه د دښمن لـورې تـه غيشي ور ويـشتل اول چې هغه ❽ تـه ځان ورسولـو حضرت اخـرم ❽ وو پـه ده پسې شا تـه حضرت مقـداد ❽ د رسول الله ☸ نـومـيـالـى آس سپـور وو حضرت اخرم چې کـلـه پـه سلمة پسې اول ور ورسېدو نـو سلمة ورتـه وويـل اى اخرم صبـر وکـوه چې نـور خلـک راشي ځکه دوى ډېـر زيـات دي نـو حضرت اخرم ❽ ورتـه وويـل اى ابـن اکـوع کـه تـه پـه الله او دهغـه پـه رسول بـانـدې ايـمـان لـرې نـو لـرې شه زمـا او د شهادت پـه مـينـځ کې خنډ مـه جوړېـږه ددې واقـعې نـه يـوه ورځ وړانـدې حضرت اخرم ❽ خوب لـيدلـى وو چې اسمانـونـه تـر اوم اسمـان پـورې خلاص شي او ده تـه وويـل شي چې ځـه دا ستـا لاره ده نـو ده ❽ خپـلـه د خوب قـصه حضرت ابـو بـکر صديـق ❽ تـه وکـولـه هغه ورتـه وويـل : اى اخرمـه تـه شهيـد کـېږې .

نـو پـدې ورځ چې کـلـه دښمن تـه ور وړانـدې شو جنګ يـې شروع کـړو د حبيـب بـين عيـينـة پـه لاس بـانـدې شهيـد شو پـه ده پسې ابـو قـتـادة ❽ را ورسېدو او حبيـب بـن عيـينـة يـې ووژلـو .


حضرت قـتـادة چې د حبيـب بـن عيـينـة د وژلـو نـه فـارغ شو نـو د مسعدة سره مخامخ شو .

مسعدة هغه کس وو چې څو ورځې وړاندې يې حضرت قتادة ❽ د مديني منورې په بازار کې ليدلى وو چې هغه آس يې اخستلو چې اوس وربانديې سپور دى مسعدة چې مشرک وو دده نه يې پوښتنه کړې وه پدې آس څه کوې؟ ده ورته وويل د رسول الله ﷺ سره يې په جهاد کې د شرکت لپاره اخلم .
مسعده ورته وويل ستاسې : وژل څومره اسانه او جرئت مو څومره زيات دى ... ده ورته وويل زه ددې سوال کوم چې زه لتا سره په داسې حالت کې مخامخ شم چې زه په همدې باندې سپور وم مسعدة هم وويل آمين ...
پدې ورځ چې حضرت قتادة ❽ د مسعدة سره مخامخ شو ډېر زيات خوشحال شو او ډېر زر يې ووژلو او بيا يې خپل څادر وربانديې واچولو چې خلکو ته معلومه شي چې دا ابو قتادة وژلى دى .
واقعه پاى ته ورسېده څه اوښان او هغه بېول شوي ښځه ترې پاتې شول او کفار و تښتېدل حضرت سلمة بن الاکوع وويل اى رسول الله ﷺ که ما ته د يو څو د آسونو سپاره صحابه په لاس راکړې واى نو په دوى پسې ورتللو رسول الله ﷺ ورته وويل : نه دوى اوس بني غطفان ته رسېدلي دي صحابه چې بېرته را ورګرځېدل په ميدان کې يې په مړي باندې د ابي قتادة ❽ څادر وليد دوى فکر وکاوه چې دا ابي قتاده دى او انا لله و انا اليه راجعون يې وربانديې وويل رسول الله ﷺ ورته وويل دا ابو قتادة نه دى دا دهغه ملګرى دى (

هغه کس دی چې ده و ژلی دی) صحابه ﷺ له رسول الله ﷺ سره را ټول شول او په ذي قرد کې يې مرکز جوړ کړو يوه ورځ او يوه شپه دلته پاتې شول بيا بېرته را وګرځېدل رسول الله ﷺ د خپلو دوو پهلوانانو په اړه وويل زمونږ په آسونو کې تر ټولو غوره سپور حضرت قتادة دی او د مونږ په سړيو کې غوره سړی حضرت سلمة بن الاکوع دی په غنيمت کې يې حضرت سلمة بن الاکوع ته دوه برخې ورکړې يوه يې په آس د سپاره برخه ورکړه او يوه يې د په پښو سره د روان کس برخه ورکړه او کله چې مدينې منورې ته را ننوتلو په اوښ باندې يې په ځان پسې کېنولی وو .



صلح الحديبية



د هجرت په شپږم کال د ذی الحجې په میاشت کې چې د مارچ ۶۲۸ سره سمون خوري دا صلح هغه وخت وشوه کله چې رسول الله ﷺ په همدې کال د ذی القعدې په میاشت کې صحابه وو ته وویل چې مکې ته ځو او عمره کوو ۱۴۰۰ صحابه کرام رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ سره روان شول دوی د ځان سره صرف توري واخیستې چې که په لاره کې د څه مشکل سره مخامخ شي نو له ځان څخه به دفاع وکوي او د جنګ په اراده نه وو تللي نو ځکه یې نوره اسلحه له ځان سره نه وه وړې او له مدینې منورې نه یې احرامونه واغوستل ترڅو قریش هم پدې پوه شي چې اراده یې عمره کول دي او جنګ

کول نه دي کله چې دوی مکې مکرمې ته نېږدې شول دوی ته خبر راغلو چې قریشو خو د جنګ تیاري کړېده او هغوی به په زور سره دوی د مکې نه بندوي

رسول الله ﷺ ته چې دا خبر راغلو هغه حیران شوویل یې اوس مونږ د بیت الله د زیارت نه پداسې حالت کې بندوي چې مونږ صرف زیارت ته راغلي یو نو یې خپلو ملګرو ته وویل (اشیروا علی ایها الناس) ای خلکو ماته مشوره راکړئ چې څه وکوو؟ حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه ورته وویل تاسې پدې نیت را وتلي وئ چې بیت الله زیارت وکوئ او دا چې اوس کفار تاسې نه پرېږدې نو مونږ به همداسې د بیت الله په لوري ځو او که هرچا مو مخه ونیوله نو مونږ به ورسره جنګ کوو رسول الله ﷺ همدا رایه خوښه کړه او جنګ ته تیارشو بیا یې چاته وویل مونږ به څوک مکې ته په داسې لاره باندې بوزي چې تر هغه ځای نه چپه وي په کوم ځای کې چې قریش را ټول شوي دي؟ یو صحابي رضي الله عنه وویل زه ای رسول الله ﷺ بیا په داسې لار روان شول چې له هغې نه بدله وه په کومه کې چې ورته قریش ناست وو کله چې حدیبیة ځای ته ورسېدل نو د رسول الله ﷺ اوښه کېناسته (چو شوه) صحابه وو وویل د رسول الله اوښه و درېده (تلی نه شي) رسول الله ﷺ ورته وویل نه درېدلې نه ده بلکه هغه ذات یې د مخکې تلو نه مخه ونیوله چا چې په عام الفیل کې د فیلانو مخه نیولې وه رسول الله ﷺ پوه شو چې الله

① نه غواړي چې اوس رسول الله ﷺ مکې ته ننوزي او يا د مشرکينو سره جنګ وکوي .

نو ځکه رسول الله ﷺ راغلو او په حديبية (په پورتنۍ نقشه کې ښکاره کيږي) کې دېره شو او حضرت عثمان ❽ يې مکې ته ولېږلو ورته يې وويل چې اول هغوی د اسلام لوري ته را وغواړه بيا ورته ووايه چې مونږ د جنګ لپاره نه بلکه صرف د عمرې لپاره راغلي يو او که په مکه کې دې کوم مسلمانان وليدل نو هغوی ته زېری ورکړه چې ډېر زر به مکه د مسلمانانو په لاس باندې فتح شي او الله ① به په مکه مکرمه کې د اسلام رڼا راولي .

بيعت رضوان

حضرت عثمان ❽ چې کله دلته راغلو دوی يې خبرې واورېدې او دی يې له ځان سره کېنولو زيات وخت يې و ځنډولو مسلمانانو فکر کاوه چې کيدای شي هغه يې شهيد کړی وي نو رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره بيعت شروع کړو او د ټولو صحابه څخه يې ددې بيعت اخستلو چې مونږ به تر خپلې آخرې سلګۍ پورې جنګېږو او په شا به نه ځو پدې وخت کې رسول الله ﷺ تر ونه لاندې ناست وو او صحابه ؓ راتلل بعيت يې ورسره کولو دې بيعت ته بيعت رضوان ويل کيږي .

او د همدې بیعت په اړه آیت نازل شو .

سورة فتح آية ١٨

لَّقَدْ رَضِىَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِى قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَٰبَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾

ترجمه :بېشکه الله راضي دی له هغه مومنانو څخه چې ستا سره یې تر ونه لاندې بیعت کولو الله پوهېږي په هغه څه چې د دوی په زړونو کې دي بیا یې په دوی باندې خپل اطمنان نازل کړو او دوی ته یې په نېږدې وخت کې لویه فتح ورکړه.

کفار چې ددې بیعت نه خبر شول نو وډار شول او حضرت عثمان ❽ یې پرېښودو بیا یې خپل یو کس عروة بن مسعود (دا د حضرت مغیرة ابن شعبة ❽ تره وو) مسلمانانو ته را ولېږلو هغه چې بېرته خپل قوم ته لاړو ډېر زیات حیران وو او خپلو خلکو ته یې ویل : ای خلکو زما د قسم وي ما د روم ، حبشې او نور بادشاهان لیدلي دي ما د هېچا داسې تعظیم نه دی لیدلی لکه صحابه چې د رسول الله ❽ څومره تعظیم کوي زما د قسم وي چې رسول الله ☸ نارې تف کړي هغه یو صحابي په لاس کې واخلي په خپل ځان او مخ یې وموښي، کله چې په څه کار امر وکوي ټول په هغه کار پسې منډه کړي، هغه چې اودس وکوي په هغه اوبو یې صحابه جنګ کوي ، کله چې رسول الله ☸ خبرې شروع کړي ټول خپل اوازونه ښکته کړي او رسول الله ☸ ته

دده د احترام له امله هېڅوک پورته نه ګوري تاسې ته د هدايت يوه نښه ښکاره شوېده قبوله يې کړئ .

د کفارو استازی سهيل بن عمرو

بيا قريشو ډېر زر خپل استازی سهيل بن عمرو رسول الله ﷺ ته را ولېږلو رسول الله ﷺ چې وليدو ويل يې بس اوس کار اسان شو او قوم غواړي چې مونږ ورسره صلح وکوو ځکه يې دا کس را ولېږلو او د سهيل په رالېږلو کې د قريشو خپل مقصدونه وو اول دا چې دا هغه کس وو چې په جنګي لست کې دده نوم ځلاند نه وو لکه خالد بن وليد، عکرمة بن ابي جهل، ابو سفيان او داسې نور .

دوهم دا چې دا په خپله هم د مسلمانانو څخه ډېر زيات تنګ وو او په زړه کې مسلمانانو ته زيات غصه وو لکن د فکر او مفکورې سړی وو د جنګ سړی نه وو او د مسلمانانو څخه ددې امله په تنګ وو چې دده په خپل کور کې څلور اولادونه په اسلام مشرف شوي وو دوه لوراني حضرت ام کلثوم او حضرت سهلة رضی الله تعالی عنهما او دوه زامن يې مسلمان شوي وو يو عبد الله چې له دواړو خورانو سره مخکې په اسلام مشرف شوی وو او اوس يې په مدينه منوره کې ژوند کاوه او بل زوی يې ابو جندل په کور کې يې ددې امله بندي ساتلو چې مسلمانانو ته ور ونه تښتي او درې يې ورونه مسلمانان شوي وو السکران بن عمرو، أبو حاطب بن عمرو او سَلِيط بن عمرو نو د سهيل په اړه

پدې خبرو کې دوه نکتې وې يوه دا چې د قريشو په اړه دی د ظلم تړون نشي کولی ځکه سره ددې چې ټوله کورنۍ يې مسلمانان شوي دي لکن دی بيا هم د قريشو ملګرتيا کوي او بله دا چې د کورنۍ اوه غړي يې د مسلمانانوسره دي نو مسلمان به هم د ده سره هر ډول خبره په اسانه سره مني .

سهيل د رسول الله ﷺ سره اوږدې خبرې وکولې بالآخره صلح وشوه .

د صلح حديبيې ليکل

حضرت علي رضي الله عنه ته را وغوښتل شو چې د صلح لپاره خط وليکي رسول الله ﷺ ورته و فرمايل : وليکه په بسم الله الرحمن الرحيم سره پدې وخت کې سهيل ورته ويل دا الرحمن څه شی دی؟ داسې مه ليکه بلکه وليکه باسمک اللهم لکه مخکې مو چې ليکل مسلمانانو وويل نه بسم الله الرحمن الرحيم به يې په سر کې وليکه .

بيا رسول الله ﷺ وويل چې ځه سمه ده وليکه باسمک اللهم .

بيا وليکه دا هغه څه دي چې رسول الله ﷺ وربانديې فيصله کړيده .

سهيل ويل : که مونږ پدې پوه وی چې ته رسول الله يې نو بيا مو ولې د بيت الله نه منع کولې بلکه داسې وليکه : دا هغه څه دي چې محمد ابن عبد الله وربانديې فيصله کړيده .

رسول الله ﷺ ورته وويل زه د الله رسول يم اګر که تاسې يې ونه منئ حضرت علي ؓ رسول الله ليکلي وو نو رسول الله ؓ ورته وويل دا وران کړه محمد ابن عبد الله وليکه هغه قسم وکولو چې زه يې همداسې رسول الله پرېږدم او ما اوس ليکلی زه يې بېرته نه ورانوم رسول الله ﷺ سره ددې چې ليکل يې نشوای کولی لکن د معجزې په ډول يې هغه وران کړو او محمد ابن عبد الله يې وليکلو او په لاندې مادو باندې فيصله وشوه .

١. څوک چې د قريشو په عهد کې داخليدل غواړي دا خلېدلی شي او څوک چې د مسلمانانو په تعهد کې داخلېدل غواړي د قريشو نه بيغير نور هرڅوک پکې داخلېدلی شي .

٢. تر لسو کلونو پورې جنګ بند دی .

٣. پدې کال به مسلمانان د عمرې نه بيغېر ځي بل کال به د عمرې لپاره راځي او صرف دومره سلاح به له ځان سره راوړي لکه يو مسافر يې چې له ځان سره ساتي .

٤. يو پر بل تجاوز کول بند دي که هرڅه سبب يې وو هغه به نه کتل کيږي او دا به د تړون ماتېدل ګڼل کيږي .

٥. که د قريشو نه مسلمانانو ته څوک ورځي نو مسلمانان به هغوی بېرته قريشو ته حواله کوي کله يې چې هغوی وغواړي او که د مسلمانانو څخه څوک قريشو ته راځي نو په قريشو باندې لازمه نه ده چې بېرته يې مسلمانانو ته حواله کړي .

حضرت عمر ❽ چې دا شرط واورېدو حضرت ابو بکر صديق ❽ ته يې ويل : آيا دا رسول الله ☸ نه دی؟ هغه ورته وويل هو! بېشکه رسول الله دی بيا حضرت عمر❽ ويل : مونږ مسلمانانو نه يو؟ ابو بکر صديق ❽ ورته وويل هو بېشکه مونږ مسلمانان يو بيا يې ورته وويل دوی مشرکين نه دي؟ ابو بکرصديق ❽ ورته وويل هو ! بېشکه دوی مشرکان دي . حضرت عمر ❽ وره ويل بيا ولي رسول الله ☸ د دوی سره داسې شرطونه مني بيا ابو بکرصديق ❽ ورسره خبرې وکولې او هغه يې په قرار کړو.

کله چې رسول الله ☸ ته ددې شرط په اړه وويل شول هغه ☸ وفرمايل : که مونږ ته څوک مسلمان راشي او دوی يې بېرته وغواړي نو خير دی مونږ به يې ورکړو آخر به الله سهولت راولي او مسلمانان به ددې مشکل نه خلاص شي او که چېرته زمونږ نه څوک ورشي نو هغه خو به هسې هم مرتد شوی وي نو مونږ بيا وربانديې څه کوو؟ نو صحابه ټول د رسول الله ☸ په حکمت پوه شول او غلي شول .

د همدې فيصلې په وخت کې د همدې سهيل زوی ابي جندل بن سهيل د مسلمانانو لوري ته را منډه کړه سهيل ورغلو خپل زوی يې په مخ ووهلو او تر جامو يې ونيولو او د قريشو لوري ته يې ور کش کولو هغه مسلمانانو ته اوازونه کول چې ما تري خلاص کړئ سهيل رسول الله ☸ ته وويل چې که تاسې دده څخه دفاع کوئ نو دا زمونږ او ستاسې

په مینځ کې اول عهد ماتول دي نو رسول الله ☸ ابو جندل ته وویل څه ته لاړ شه له دوی سره په خپل حالت صبر وکوه زر به الله ① په تاسې باندې فراخي راولي .

مسلمانان ددې شرطونو په اړه ډول غصه وو فکر یې کاوه چې پدې کې د مسلمانانو په اړه باندې د ظلم فیصله شوې ده بیا رسول الله ☸ ورته خبرې وکولې او د ډولو غصه یې مړه کړه .

ابو بصیر ❽

ددې صلح نه یو څه وخت وروسته حضرت ابو بصیر ❽ مسلمان شو او مدینې منورې ته راغلو قریشو ورپسې دوه کسان مسلح را ولېږل چې بېرته یې بوزي رسول الله ☸ ته چې هغه دوه کسان راغلل نو رسول الله ☸ ابو بصیر ❽ ته وویل چې تاته معلومه ده چې مونږ د دوی سره تړون کړی دی او زمونږ دین مونږ ته د خیانت اجازه نه راکوي ددې امله زه بېرته تا دوی ته په لاس ورکوم هغه ورته وویل ای رسول الله ☸ ته ما مشرکینو ته په لاس ورکوې چې هغوی ما په زور له خپله دینه واړوي او یا په ما باندې لوبې وکوي؟ لکن رسول الله ☸ د خپل تړون له امله مجبور وو او ابو بصیر یې له دوی سره بېرته ولېږلو په لاره کې ابو بصیر دهغه دوه کسانو څخه د یو په توره

باندې حمله وکوله او دهغه نه یې توره واخیسته یو په هغه دوو کسانو کې یې قتل کړو او بل تړینه را وتښتېدو او بېرته یې رسول الله ﷺ ته پناه راوړه هغه کافر رسول الله ﷺ ته قصه کوله چې ابو بصیر ❽ د تورې سره پسې را ورسېدو رسول الله ﷺ ته یې ویل ای رسول الله ﷺ ستا ذمه فارغه شوه تا زه دوی ته په لاس ورکړم ما اوس پخپله ددوی څخه ځان خلاص کړو رسول الله ﷺ چې کله دی په داسې حالت کې ولیدو په لیدلو باندې یې خوشحال شو .

بیا چې ابو بصیر پوه شو چې نه اوس په مکه کې دده ځای وو او نه په مدینه کې مسلمانانو ورته ځای ورکولو نو د بحر په خوا کې العیص نومي ځای ته لاړو هلته یې ځان ته د اوسېدلو لپاره ځای پیدا کړو هلته اوسېدو چې د قریشو قافله به تېرېدله ده ❽ به یې مخه نیوله او یو څه به ئې ترېنه شکول په هغه به یې ګذاره کوله په مکه کې چې کوم پټ مسلمانان وو هغوی ددېنه خبر شول چې ابو بصیر هلته د اوسېدلو لپاره ښه ځای پیدا کړی دی نو یوه یوه به کوښښ کاوه چې هلته ورشي تردې چې د اویا کسانو ډله ترې جوړه شوه او ابو جندل بن سهل هم ور رسېدلی وو (چې د صلح حدیبیې په موقع باندې مسلمانانو ته راغلو لکن د ترون له مخې پلار په زور بېرته کش کړو) د قریشو نه به چې څوک پدې لاره تېرېدل نو دوی به وژل او چې کومه قافله به وربانديې تېرېدله


نو دوى به چور كوله قريش ترپنه سخت په تنګ شول رسول الله ﷺ ته يې د منت او زارى خط وروليږلو ترې غوښتل يې چې دا كسان خپل ځان او خپل لوري ته در وغواړه زمونږ نه دي په كار .

پدې سره قريش د هغه مادې نه تېر شول چې مسلمانانو ډېره په سختى سره منلې وه او قريشو ته ځان ډېر لوى ښكاره شوى وو چې دا ماده يې په دوى باندې منلې وه (په پورتنيو مادو كې پنځمه)

په حديبية كې ځان له احرام نه ويستل

په صلح حديبية كې د صلح د فيصلې نه وروسته رسول الله ﷺ اواز وكولو پاڅېږئ خپل مالونه حلال كړئ او ځانونه له احرام څخه و باسئ ... هېڅوك له خپل ځاى څخه و نه ښوريدل ، رسول الله ﷺ بيا ورته اواز وكولو د دريم ځل اواز سره هم چې څوك پا نه څېدل رسول الله ﷺ په خپله پا څېدو او خپل اوښ يې حلال كړو او خپل سر خريونكې ته يې وويل چې راشه سر مې وخريه هغه راغلو چې د رسول الله ﷺ سر مبارك يې وخريلو نو ټولو صحابه كرامو ﷺ همداسې وكول او يو د بل سرونه يې وخريل .

غزوة خيبر



کله چې په مدينه منوره کې سر په بله پسې يهودو د رسول الله ﷺ سره کړی تړون ماتولو نو رسول الله ﷺ به هغوی له مدينې منورې نه شړل او په هغوی کې به مشران خيبر ته تلل نو په اوس وخت کې خيبر د ټولو شيطانتونو ځاله شوې وه او لږ وخت وړاندې د خيبر يهود هغه کسان وو چې د خندق په غزا کې يې د رسول الله ﷺ په خلاف جنګ کې پوره ونډه اخستې وه او په اوس وخت کې يې د بني غطفان قبيلي سره ټينګ تړون کړی وو چې ددوی سره به د مسلمانانو په ضد يو منظم او نه ماتېدونکی صف جوړوي نو رسول الله ﷺ چې کله د

صلح حديبې نه را وګرځېدو اوس يې غوښتل چې يهودو ته يو داسې د عبرت درس ورکړي چې د دوی په دماغو کې تر ډېره وخته پورې پاتې شي مسلمانان روان شول حضرت علي ❽ ته رسول الله ﷺ وويل چې کله هلته ورسېږو نو ته به يهودو ته دعوت ورکړې چې اسلام قبول کړي او چې الله ① ستا په واسطه باندې يو کس ته هدايت وکوي دا تا ته له ډېرو نعمتونو څخه غوره دی پدې خبر سره رسول الله ﷺ صحابه وو ؓ ته وښوده چې مونږ ته د دوی اسلام په کار دی ددوی مالونه مونږ ته نه دي په کار سره دې ټولو هغه خيانتونو چې دوی له مسلمانانو سره کړي وو اوس هم مسلمانان دېته تيار وو چې که دوی اسلام قبول کړي نو دوی ته امن ورکړي او دوی خپل ورونه و ګڼي مسلمانان لاړل د خيبر سره نېږدې ساحه کې يې خپل مرکز جوړکړو او شپه يې همدلته وکوله چې کله يې د سحر مونځ وکولو نو د خيبر د يهودو په لوري ور روان شول

خیبر ته د غازیانو رسېدل

مسلمانان غازیان په داسې وخت کې خیبر ته ورسېدل چې دوی په خپلو فصلونو پسې را وتلي وو نو چې په اسلامي لښکر یې سترګې ولګېدې نو په منډو شول او چیغې یې وهلې چې محمد د خپل لښکر سره راغلو منډې یې وهلې او په کورنو ننوتل رسول الله ﷺ په زوره اواز سره تکبیر ویلو او په داسې تېز اواز سره چې ټولو مجاهدینو واورېدو رسول الله ﷺ وویل :

"اللَّهُ أَكْبَرُ! اللَّهُ أَكْبَرُ! خَرِبَتْ خَيْبَرُ، إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ، فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ"

یهود را ټول شول پدې وخت کې یې مشري سلام بن مشکم کوله هغه یهودو ته مشوره ورکړه چې خپلې ښځې او ماشومان به په الکتیبة قلا کې را ټول کړو او له دوی سره به جنګ په حصن نطاة الحصین کې وکوو بیا یې دوی ته ډېرې خبرې وکولې او دوی یې جنګ ته تیار کړل او د صبر ، مقاومت او جنګ په اړه یې ورته نصحیتونه وکول .

مسلمانانو حصن نطاة الحصین محاصره کړو او دهغې نه چې کومې خورما ونې تاو وې چې د یهودو سره یې په جنګ کې مرسته کوله او یهودو هغه ونې د سپر او ډال په توګه استعمالولی شوې مسلمانانو هغه پرې کړې او جنګ په داسې ډول شروع شو چې دوی له خپلو کورنو څخه جنګ کولو او میدان ته د جنګ لپاره نه راتلل د خپلو قلا

ګانو په مخ کې به جنګ ته را ووتل او که به وربانديې سخته شوه نو په شا به يې منډه کړه قلا ته به ننوتل او دروازې به يې بندې کړې پدې وخت کې د مسلمانانو جنګيالي ۱٤۰۰ کسان وو او د يهودو جنګيالي ۱٤۰۰۰ کسان وو .

د جنګ ورځې په همدې ډول اوږدې شوې په شپږمه ورځ رسول الله ☸ په مسلمانانو کې اواز وکولو زه به سبا دا خپل بيرغ داسې چا ته ورکوم چې دهغه الله او رسول خوښ دي او د الله او دهغه د رسول هم هغه خوښ دی سبا ټولو صحابه وو انتظار کاوه چې دا بختور به څوک وي رسول الله ☸ حضرت علي ❽ ته احوال ور ولېږلو چې راشي پدې وخت کې چې د حضرت علي ❽ په سترګو باندې بيماري لګېدلې وه او ډېر په تکليف به يې يو شی ليدل نو صحابه وو ورته وويل رسول الله ☸ هغه خو بيمار دی او په سترګو هېڅ شی نشي ليدلی لکن رسول الله ☸ بيا هم وويل چې ماته يې راولی کله چې هغه راغلو رسول الله ☸ يې په سترګو مبارکو باندې د خپلې مبارکې خولې ناړې پورې کړې هغه داسې روغ جوړ شو چې بالکل نه ښکاره کېدو چې د ده په سترګو کې بيماري وه .

حضرت علي ❽ جنګ ته را وړاندې شو د يهودو د جنګ مشر حارث بن ابي زينب ورته را وړاندې شو دواړو سخته مقابله وکوله بالآخره يې حارث بن ابي زينب يهودي ووژلو دهغه نه وروسته د يهودو مشهور پهلوان مرحب په داسې حالت کې را ووتلو

چې دوه زغرې او وسپنيزه خولۍ يې په ځان وو او دوه تورې يې په لاس کې وې او دا داسې کس وو چې خلکو به ويل چې دا د زرو کسانو عامو جنګياليو مقابله کولی شي لکن چې حضرت علي ❽ ورسره مخامخ شو ډېر په اسانه سره يې قتل کړو او د يو قول له مخې چې مرحب عامر ابن اکوع ❽ ووژلو پدې سره مسلمانان و توانېدل چې پدې قلا باندې ور وخيږي دې قلا ته (الناعم) ويل کېدل چې دا قلا فتح شوه نو نورې قلا ګانې يو په بله پسې فتح کېدلې او ورانېدلې بالآخره صرف دوه قلا ګانې پاتې شوې يوې ته يې الوطيح او بلې ته يې السلام ويل مسلمانان تر هغو هم تاو شول او څوارلس ورځې يې محاصره کړې پدې وخت کې د مسلمانانو سره شته خوراکونه او غذا ختمه شوه او مسلمانان د سختې لوږې سره مخامخ شول رسول الله ☸ لاسونه د الله ① دربار ته پورته کړل او دعا يې کوله پداسې حال کې چې صحابه ☙ ورباندې آمين ويل رسول الله ☸ د الله تعالی ① نه و غو ښتل چې مجاهدينو ته د خوراک څه شی ورکړي ددې دعا نه وروسته د مسلمانانو په لاس د قلعة الزبير په نوم باندې قلا فتح شوه چې په هغې کې مختلف ډوله نعمتونه ، د خوراک او څښاک شيان وو او څنګه خوراکونه چې مسلمانانو غوښتي وو الله ① دوی ته ورکړل دا ډېره سخته ځکه وه چې څوک به پدې کې ننوتل په هغه وخت کې يې د فتح کولو

هېڅ لاره نه وه د غره د پاسه جوړه وه چې له
يوې خوا نه هم وربانديې حمله كول ممكن نه وو .

د يهودو د قلا په اړه مهم معلومات

رسول الله ﷺ ته يو يهودي په داسې وخت كې چې
تراوسه لا په اسلام هم مشرف شوی نه وو وويل چې
كه ته دا قلا يوه مياشت هم محاصره كړې ددې فتح
كول ممكن نه دي ځكه خوراک د ننه شته او په
اوبو پسې د شپې په داسې حالت كې راوزي چې
مسلمانان وربانديې نشي خبريدلی نو كه ددې په
اوبو باندې ستا واک راشي نو بيا فتح كيږي همدا
وو چې صحابه ور وړاندې شول اود يو سخت جنګ نه
وروسته يې هغه ساحه ونيوله چې اوبه يې لرلې نو
چې په دوی باندې اوبه و دريدلې دوی تسليم كېدو
ته غاړه كېښوده نو ښكاره شوه چې همدا يهودي هم
چې وروسته بيا په اسلام مشرف شو پدې وخت كې د الله
تعالی مرسته وه چې مسلمانانو ته يې را ولېږله .
يهودو دا قلا ګانې په داسې ډول جوړې كړې وې چې د
هرې يوې نه به بلې ته لاره وه چې يوه به په تكليف
كې شوه دوی به هغه پرېښوده بلې ته به لاړل
مسلمانان به په هغه قلا ور وختل يوه په بله پسې
فتح كېدلې تردې چې دوی ټول په يو ځای كې را ګير
شول او هغوی بله لاره پيدا نه كړه تسليم كېدو ته
تيار شول او مسلمانانو ته يې وويل مونږ پرېږدئ
مونږ به تاسې ته جزيه دركوو د خپلو مالونو څخه
به نيم مال تاسې ته دركوو او حضرت عبد الله بن
رواحة د دوی د مالونو په را ټولولو باندې مقرر
شو او د خيبر غزا د مسلمانانو په كاميابي سره

پای ته ورسېده له ۱٤۰۰ مجاهدینو څخه ۱٦ کسان په شهادت ورسېدل او د دوی د ۱٤۰۰۰ کسانو څخه ۹۳ کسان ووژل شول .

عمرة القضاء



کله چې د هجرت په شپږم کال رسول الله ﷺ د عمرې په اراده مکې مکرمې ته لاړو نو د مکې کفارو هغه عمرې کولو ته پرې نه ښودو او د عمرې په ځای صلح حديبة وشوه او دهغې په مادو کې يوه دا وه چې سږ کال به مسلمانان له همدې ځای نه بېرته ګرځي او بل کال به عمرې ته راځي او صرف د مسافر اسلحه به له ځان سره راوړي او د مکې خلک به د دريو ورځو لپاره مکه مکرمه دوی ته پرېږدي نو چې اوس يو کال پوره شو چې د هجرت په اوم کال په ذی القعده د يو قول له مخې په ذی الحجة کې رسول الله ﷺ اعلان وکولو چې عمرې

ته ځو او هغه کسان چې تېر کال په صلح حديبية کې شريکان وو هغوی به خامخا ځي رسول الله ﷺ د زنانه وو او ماشومانو څخه بغير د دوه زرو کسانو سره د عمرې لپاره په هر ډول اسلحو باندې مجهز روان شو سره ددې چې د صلح حديبې په يوه ماده کې وو چې دوی به صرف دمسافر سلاح له ځان سره راوړي دهغې مطلب دا وو چې دوی به جنګ نه کوي لکن رسول الله ﷺ پدې يقين وو چې مسلمانان جنګ نه کوي لکن د قريشو په اړه يې هم دا يقين نه وو چې دوی به خيانت نه کوي نو ځکه يې صحابه وو ته اجازه ورکړه چې هرډول سلاح له ځان سره يوسي لکن ترڅو چې ددوی سره څوک جنګ ته نه وي را وړاندې شوي دوی به جنګ نه کوي کله چې مکې مکرمې ته ننوزي د تړون له مخې به د مسافر له سلاح سره ننوزي او نوره سلا ح به له مکې مکرمې نه بهر پرېږدي.

مکې مکرمې ته روانېدل

رسول الله ﷺ د معتمرينو په ډله کې له مدينې منورې نه روان شو او په ذی الحليفة کې يې احرام وتړلو او په تلبية باندې يې شروع وکوله او په پښو باندې د راتللو لس ورځې لاره وه دوی په مسلسله توګه باندې روانه تلبية ويله ټول صحابه رضي الله عنهم او رسول الله ﷺ پدې خوشحال وو چې اوه کاله وروسته خپل ګران وطن ته تلل په داسې وخت کې رسول الله ﷺ له مکې مکرمې څخه وتلی وو

چې ځان به يې پټولو کله په يو ځای او کله په بل ځای کې او اوس په داسې حالت کې مکې ته روان دی چې ښکاره اعلان يې کړی دی صرف د مکې خلکو ته نه بلکه ټولو عربو قبيلو او ټولو خلکو ته معلومه ده چې رسول الله ﷺ د مکې په مبارک سفر باندې روان دی .

يو وخت داسې وو چې د مکې قريش به په رسول الله ﷺ پسې په پټو ځايونو کې ګرځېدل چې په لاس ورشي او قتل يې کړي او هغه څوک چې رسول الله ﷺ قتل کړي او يا يې ژوندي راولي دوی ورته سل اوښان په انعام کې ورکوي او نن هغه ﷺ مکې مکرمې ته راځي او دوی به ټول په شريکه سره مکه ورته خالي کوي ترڅو هغه په ډاډه زړه سره خپل د عمرې کارونه په سمه توګه سر ته ورسوي رسول الله ﷺ چې د ښځو او ماشومانو څخه بغير ۲۰۰۰ کسان ورسره دي د تلبيې اواز يې د دښتو چوپتيا په ډېره عجيبه ډول سره ختمه کړېده او په ډېره مينه مسافر اوه کاله وروسته خپل وطن ته راځي او د الله ① رښتيني بندګان د خپل رب په دربار کې حاضري ورکولو ته را روان دي او د لمړي ځل لپاره به د مکې مکرمې ديوالونه هم پدې خوشحال شي چې مسلمانان به د عمرې کارونه د خپل مهربان قائد او پيغمبر ﷺ تر مشري لاندې د اسلامي هداياتو مطابق اداء کوي او د مکې کفار به د دوی لپاره ساحه پرېږدي او صرف د دوی

كتنه به كوي او نور به يې څه هم په وس كې نه وي .

د رسول الله ﷺ د مبارك لښكر نه يو اواز پورته كيږي :

لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ داسې ښكاره كيږي چې په دښتو كې كاڼي بوټي ټول ددې اواز په آرويدو سره تازه او خوشحال دي رسول الله ﷺ ډير كوښښ كولو چې خلكو ته د اسلام او مسلمانانو قوت ور ښكاره كړي او ددې قوت د ښكارونې لپاره رسول الله ﷺ متعدد كوښښونه وكول چې ستاسې فام ورته را ګرځوم .

١. رسول الله ﷺ خپل ملګري په هر ډول اسلحو باندې مجهز را روان كړل چې خلكو دوه زره كسان په اسلحو باندې مجهز كتل ترينه ډاريدل كله چې مكې مكرمې ته را نيږدې شول په خپل كړي ترون يې وفا كول غوښتل چې مكې ته دجنګي سلاح سره نه ورځي صرف دومره سلاح به ورسره وي لكه يو مسافر يې چې په لاره باندې د ځان د ساتنې لپاره له ځان سره وړي نو اسلحه يې په يو ځاى كې ټوله كړه دوه سوه كسان صحابه يې دهغې د ساتنې لپاره پريښودل او حضرت محمد بن مسلمة ❽ يې ددې دوه سوه كسانو په سر باندې امير كړو كله چې دوى عمره وكوله بيا نور صحابه ﷺ

راغلل چې د اسلحې ساتنه وکوي او دا دوه سوه کسان لاړل چې عمره وکوي رسول الله ﷺ پوه وو چې دوی له مدينې نه روانيږي نو د مکې کفار به دوی څاري نو ښه ده چې دا مسلمانان په اسلحو باندې مجهز ووينې او همداسې وشول کله چې دوی په اسلحو باندې مجهز را ووتل نو قريشو ورته مخې ته احوال را ولېږلو چې په تړون کې دا ماده وه چې تاسې به په اسلحو باندې داسې مجهز نه راځئ .. رسول الله ﷺ ورته په ځواب کې وويل چې مونږ به اسلحه مکې ته د ننه ساحې ته نه دروړو نو هم په تړون باندې وفا وشوه او هم يې د هغوی په زړونو کې د مسلمانانو رعب ور وا چولو .

۲. رسول الله ﷺ چې مکې مکرمې ته ننوتلو چاپېر ترينه صحابه وو د ځلانده تورو کړی جوړه کړې وه او چېرته به چې رسول الله ﷺ تللو نو هر طرف ته به يې ځلانده تورې ځلېدلې او د قريشو د خيانت او يا بل ممکنه مصيبت نه يې دده ﷺ ساتنه کوله چې دا منظر ډېر عجيب ښکاره کېدو .

۳. کله چې صحابه ﷺ مکې ته داخلېدل نو ټولو په ډېر تيز اواز سره تلبيه (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لاَ شَرِيكَ لَكَ) ويله ځرنګه چې دوی ۲۰۰۰ کسان وو نو د

دوی اواز د انسان زړه ته ور ننوتلو او ټوله فضاء يې له اواز نه ډکه کړې وه .

٤. حضرت عبد الله بن رواحة ➑ را وړاندې شو د رسول الله ☸ په وړاندې يې د غيرت شعرونه ويل او ټولو صحابه وو به ورته غوږ نيولو او شعر د قريشو په وړاندې ډېر مهم شی وو نو رسول الله ☸ هم ورته اجازه ورکړه حضرت عمر ➑ ورته را وړاندې شو حضرت ابو رواحة ➑ ته يې ويل دا ته څه کوې په حرم کې او بيا د رسول الله ☸ په وړاندې ته اشعار وايې؟ رسول الله ☸ ورته وويل پرې يې ږده دا د دوی په زړونو باندې له غيشې نه زيات اثر کوي .

٥. رسول الله ☸ صحابه وو ته امر کولو چې د طواف په اولو شوطونو کې دې رمل (د پهلوانانو په څېر تلل) وکوي او تېز دې لاړ شي چې خلک يې وينې نو پوه شي چې دوی تکړه او پهلوانان دي او دا سنت تر قيامت پورې پاتې دی چې تر قيامت پورې دا ښکاره کوي چې مسلمانان تکړه دي .

٦. رسول الله ☸ صحابه وو ته امر وکولو چې له احرام نه چپ طرف اوږې را ښکاره کړئ ترڅو مشرکين ستاسې عضلات ووينې وډار شي او تر تاثير لاندې راشي ددې خبرو حکمت دا وو چې په مکه کې به خلکو ويل چې مسلمانان د يثرب تبو اوس خراب

کړي دي قوت پکې نشته لکن چې کله هغوی په خپلو سترګو ولیدل چې دوی څنګه لکه د پهلوانانو داسې تلل کوي او څنګه عضلات یې دي او څنګه تیز ځي نو دوی یو بل ته ویل چې تاسې خو ویل دا د یثرب تبو کمزور کړي دي؟ دا خو بالکل نه دي کمزور .

۷. دا دری ورځې رسول الله ﷺ مونځ په حرم کې په جمع سره کولو نو کفارو چې دا لیدل په یوه قیادت سره دا ټول خلک څنګه ښکته او پورته کیږي نو ټول حیران پاتې وو .

۸. رسول الله ﷺ حضرت بلال ته اواز وکولو چې ورشه د کعبې په سر باندې و درېږه او اذان وکوه دوی چې ولیدل دا بلال هغه کس وو چې لکه مال داسې به اخستل کېدو او خرڅول کېدو کله به دوی په پړي باندې تړلو او د مکې په لارو کې به ماشومانو وربانديې لوبې کولې اوس اسلام هغه ته دومره عزت ورکړو چې ټول مسلمانان د دوی د مهربان قائد حضرت رسول الله ﷺ په شمول اوس چپ دي او بلال ❽ په ټوله زمکه کې د بهترین ځای کعبې په سر درېږي او دوی ته د اسلام کلمې په لوړ اواز سره وايي دې خبرې د ټولو کفارو په زړه باندې زيات اثر وکولو .

۹. رسول الله ﷺ د خپلو ټولو صحابه وو سره عاميانه وضع کوله کفارو په خپلو سترګو وکتل

چې رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره څومره عاجزي او تواضع کوي او هغوی يې څومره قدر کوي څرنګه چې دوی مخکې فکر کاوه چې رسول الله ﷺ به لکه بادشاه داسې وي او صحابه يې لکه رعيت چې بادشاه څنګه له رعيت سره په تکبر کې خبرې کوي دوی به هم همداسې وي لکن دا هرڅه بدل وو رسول الله ﷺ د دوی سره په عاجزي کې خبرې کولې بيا يې هم دوی قدر کولو .

۱۰. پدې شپو کې رسول الله ﷺ د حضرت ميمونة بې بي سره نکاح وکوله او په هغې باندې يې لکه د واده داسې پروګرام جوړ کړو پدې سره يې ښکاره کړه چې په مکه کې دوی په ډار کې نه دي بلکه عام ژوند کولی شي او له هيڅ شي څخه وېره نه لري حتی چې ډوډی يې تياره کړه د مسلمانانو په شمول يې مشرکين هم وليمې ته را وغوښتل لکن هغوی د شرکت کولو نه انکار وکولو لکن هغوی پوه شول چې رښتيا خبره داده چې مکه د رسول الله ﷺ خپل وطن دی .

ددې سره سره لويه خبره دا وه چې حضرت ميمونة رضی الله تعالی عنها د بني عامر له قبيلې نه وه او دا يوه د عزت نه ډکه قبيله وه چې هر وخت به دوی په فخر سره ويل چې د بني عامر قبيلې ښځه تر اوسه پورې چا نه ده بندي کړې او ددې قبيلې په ټولو عربو کې يو خاص نوم وو نو د ميمونې رضی الله تعالی عنها په واده سره مشرکين

پوه شول چې ددې قبيلې سره د رسول الله ﷺ تړون هم پيدا شو او د دوی لپاره دا څه د خوشحالۍ خبره نه وه او له بله پلوه دا پدې وخت کې د کفارو د يوه مخور مشر خالد بن وليد خاله وه نو ددې بي بي سره واده هم يو سياسي پر مختګ وو .

نو پدې لسو کارونو سره رسول الله ﷺ د مسلمانانو نوم او نشان پورته کړو او د ټولو خلکو په زړه کې يې داسې وېره ور واچوله چې بيا به څوک د مسلمانانو سره مقابلې کولو ته تيار نه شي .

د دريو شپو تېرولو نه وروسته رسول الله ﷺ او صحابه کرام ﷺ مدينې منورې ته ستانه شول لکن د کفارو په زړونو کې يې ډېر څه پرېښودل ..



د مکې فتح



20رمضان 8 هـ = 630 م

لکه مخکې چې تېر شول د رسول الله ﷺ او د مکې د کفارو په مينځ کې د حديبيې په نوم يوه صلح وشوه په هغه صلح کې د متعددو مادو څخه يوه ماده دا وه چې د رسول الله ﷺ او د مکې د کفارو په مينځ کې به تر ۱۰ کلونو پورې جنګ بند وي او دا خبره هم وه چې هرڅوک غواړي هغوی د رسول الله ﷺ په تعهد کې داخلېدلی شي بيا به قريش دهغوی سره جنګ نه کوي او هرڅوک کولی شي چې د قريشو په تعهد کې داخل شي بيا به مسلمانان له هغوی سره جنګ نه کوي نو ددې امله بني خزاعة او بني الدئل چې له مخکې نه دواړه زړې دښمنانې قبيلې وې اوس خزاعة د مسلمانانو او بني الدئل د قريشو په تعهد کې داخلې شوې نو چې کله دوی د مسلمانانو او قريشو سره په تړون کې داخلې شوې نو ددېنه وروسته دوی هم تر لسو کالونو پورې يو له بل سره د جنګ کولو نه بند

شول لكن تر اسلام وړاندي آخري ځل خزاعة له بني الدئل څخه كسان وژلي وو او وار په هغوى باندې پاتې وو نو هغوى د موقع نه استفاده كول غوښتل په داسې وخت كې چې د خزاعة د قبيلې د خلكو گمان وو چې اوس خو مونږ په تړون كې تر ۱۰ كلونو پورې له جنگ نه بند يو نو بې غمه وو .

د حديبيې د تړون ماتېدل

د بني الدئل د قبيلې يو كس چې نوفل بن معاويه نومېدو د هجرت په آتم كال يې د شعبان په مياشت كې څه كسان يې د خپلې قبيلې له ځان سره كړل د خزاعة په څه كسانو باندې د شپې حمله وكوله پدې وخت كې دوى د الوتير نومي اوبو سره وو د مكې مكرمې په جنوب غرب كې د دواړو قبيلو په مينځ كې جنگ وشو بني الدئل څرنگه چې د مكې د خلكو په تعهد كې وو دوى هم ورسره د خزاعة په مقابل كې مرسته وكوله او د شپې په تياره كې يې ورسره جنگ وكولو چې څنگه دا واقعه تېره شوه خپله قريش هم چې تېر كال په عمرة القضاء كې يې د مسلمانانو طاقت په سترگو ليدلى وو پښېمان شول او ناست وو يو له بل سره يې مشوره كوله چې بايد څه وكوو له بله پلوه عمرو بن سالم الخزاعي د خپلې قبيلې څلوېښت كسان له ځان سره ملگري كړل رسول الله ﷺ ته مدينې منورې ته راغلل او ټوله قصه يې ورته تېره كړه او د هغه خيانت په اړه يې خبر وركړو چې د تړون څخه

وروسته قريشو کړی وو او دا چې په دې جنګ کې څوک ووژل شو او دا چې قريشو په جنګ کې د هغوی مرسته وکوله ښکاره خبره ده چې پدې سره د قريشو او رسول الله ﷺ په مينځ کې د حديبيې کړی تړون مات شو رسول الله ﷺ د مکې د فتح لپاره د اسلام په تاريخ کې لوی لښکر لس زره کسان مجاهدين تيار ول شروع کړل .

د غلطي بښنه غوښتل

لکن قريش چې کله پدې خبر پوه شول چې غلطي خو مو وکوله ابو سفيان، صفوان بن امية، عکرمة بن ابي جهل او نور مشران را ټول شول خبرې يې کولې چې څه وکوو؟ په آخر کې فيصله پدې وشوه چې ابو سفيان چې پدې وخت کې د مکې د کفارو مشر وو دا به لاړ شي او له رسول الله ﷺ نه به د شوي جرم معافي وغواړي کېدای شي هغه دا د تړون ماتول معاف کړي لکن هغه ابو سفيان چې د تکبر غر يې تر اسمانه پورې رسي په هر ځای کې يې د مسلمانانو سره په جنګ کې خاص حيثيت درلود د احد په جنګ کې يې د کفارو جنګياليو په جنګ د ور تېزولو لپاره خپله ښځه هم بيولې وه او پدې وخت کې د رسول الله ﷺ په دښمنانو کې اول دده نوم راځي څنګه به اوس ځي او رسول الله ﷺ ته به د بښنې سوال کوي؟ ددې ټولو خبرو سره سره ابو سفيان تر خپل کبر تېر شو او مدينې منورې ته د بښنې غوښتلو په نيت باندې روان شو او لوی کار

قريشو دا ور په غاړه كړی وو چې په هر قيمت كېدای شي او كه هر ډول جرمانه غواړي نو رسول الله ﷺ ته يې وركړه چې دا غلطي معاف كړي او اوس زمونږ سره جنګ ته را روان نه شي .

د رسول الله ﷺ سره رښتوني مينه

په داسې وخت كې چې د هېچا زړه نه منله رسول الله ﷺ د معجزې په ډول خپلو صحابه وو ته وويل : ابو سفيان به راځي او د صلح وخت به اوږدول او دخپلې غلطي معافي به غواړي .

دی چې مدينې ته را ورسېدو د رسول الله ﷺ كور ته ورغلو زمونږ د همدې سلسلې په دريم كتاب كې تېر شوي دي چې د رسول الله ﷺ يوه بي بي ام حبيبة رضی الله تعالی عنها دده لور وه ورغلو دهغې مباركې رضی الله تعالی عنها كور ته د ام حبيبة رضی الله تعالی عنها سره دده ليدل ډير وخت وروسته وو ځكه د اسلام په ابتداء كې ام حبيبة رضی الله تعالی عنها حبشې ته د خپل خاوند عبيد الله بن جحش سره مهاجره شوې وه هغه هلته مړ شو او ام حبيبة رضی الله تعالی عنها هماغلته د رسول الله ﷺ د استازي په واسطه د رسول الله ﷺ سره نكاح شوې وه او مهر يې هم د حبشې بادشاه ٤٠٠ درهمه ورته وركړي وو او دهغی ځای نه بيا مدينې منورې ته راغلې وه نو وروسته د ١٦ كلونو به اوس ابو سفيان د خپلې لور ام حبيبة رضی الله تعالی عنها سره مخامخ كيږي ده فكر كاوه

چې ام حبيبة رضی الله تعالی عنها به دده ډېر ګرم استقبال وکوي او ده ته به ډېره خوشحاله شي هغه چې ددې کوټې ته ور ننوت غوښتل يې چې په يو وړوکې فرش باندې کينې بي بي ور منډه کړه هغه فرش يې ترې ټول کړو او ابو سفيان يې پرې نه ښودو چې په هغه فرش باندې کيني دی ورته حيران شو او ورته يې وويل بچۍ ! هغه فرش د زما قابل ونه ګڼلو او که زه د فرش قابل ونه ګڼلم ؟

دې ورته وويل هغه د رسول الله ﷺ فرش دی پدې باندې دلته زما په کوټه کې هغه ﷺ کيني او ته تر اوسه پورې مشرک او نجس يې زه نه غواړم چې مشرک دهغه ﷺ په فرش باندې کيني .

پدې سره ام حبيبة رضی الله تعالی عنها خپل پلار ته ښکاره کړه چې مسلمانان ټول يو بدن دی حتی که زما لور هم ده نو اوس زما نه بلکه د رسول الله ﷺ ده او لور ته يې وويل : لورې زما نه وروسته ته بده شوې يې ... او په غصه کې ترېنه ووتلو .

ابو سفيان په داسې وخت کې چې زړه يې سخت مات وو او ده چې فکر کاوه زما به سخت او ګرم استقبال وکوي دهغې لور نه سخت نا اميده وو لاړو د رسول الله ﷺ سره مخامخ شو او دهغه څخه يې وغوښتل چې دا غلطي شوې ده دا راته معاف کړئ او همدا صلح به همداسې پرېږدو له مونږ نه غلطي شوېده او زه اوس بښنې غوښتلو ته راغلی

يم رسول الله ﷺ دده خبرې واورېدې او هېڅ ځواب يې ورته ورنه کړو بيا را ووتلو.

د ابو سفيان نا اميده کېدل

ابو سفيان په نا اميدي کې و ګرځېد حضرت ابو بکر صديق ؓ يې پيدا کړو هغه ته يې وويل چې ته زما لپاره رسول الله ﷺ ته واسطه شه چې هغه زما عذر ومني او قريش پدې غلطي کې معاف کړي هغه بغير ددېنه چې څه بهانه ورته وکوي په ښکاره ټکو کې ورته وويل زه پدې موضوع کې رسول الله ﷺ ته ستا شفاعت نشم کولی .

ددې نا اميدي نه وروسته ابو سفيان لاړو په اسلامي دولت کې دريم کس حضرت عمر ؓ ته ترې ويې غوښتل چې د رسول الله ﷺ په وړاندې دده شفاعت وکوي چې دا صلح همداسې پاتې شي او دا غلطي دې مونږ ته معاف کړي هغه ورته وويل زه ستا واسطه شم چې رسول الله ﷺ ستاسې غلطي معاف کړي؟ زما د قسم وي چې که زه ستاسې د جنګ لپاره بغير د مېږي نه بل شی هم پيدا نه کړم په هغه به هم زه لتاسې سره جنګ کوم (که لما سره د مېږيانو لښکر هم وي زه به لتاسې سره پرې وجنګېږم) او ته ما رسول الله ﷺ ته د صلح د وخت د اوږدولو لپاره واسطه کوې؟ ..

ددېنه وروسته چې حضرت علي ؓ ته ورغلو هغه ته يې ډېرې زارې وکولې چې رسول الله ﷺ ته زما په

اړه سپارښتنه وکوي چې مونږ معاف کړي هغه ورته وويل چې کله رسول الله ﷺ ستاسې د خيانت په اړه اورېدلي دي دهغه غصه دومره زياته شوېده چې هېڅوک ورسره خبرې نشي کولی پدې وخت کې حضرت حسن رضي الله عنه وړوکی ماشوم وو د حضرت علي او فاطمې رضی الله تعالی عنهما په مينځ کې يې لوبې کولې ابو سفيان بله لاره پيدا نه کړه حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها ته يې وويل چې که دا ماشوم لما سره ولېږې زه به دده سره رسول الله ﷺ ته ورشم که هغه ماته د قريشو دا غلطي معاف کړي حضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها ددې لپاره چې هغه هم دده په مخ د نا اميدي شپږمه څپړ ورکړي ورته وويل دا زما بچی خو تر اوسه ماشوم دی او ددې نه دی چې د لويانو په کارونو کې دخيل شي دا نشي درسره تلی ته پخپله ورشه .

بيا يې حضرت علي رضي الله عنه ته وويل چې زه خو بالکل نه پوهېږم څه وکوم ماته نصيحت وکوه زه څه وکوم؟ حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل ته خو د بني کنانة د قبيلې مخور مشر يې او په صحابه وو کې د بني کنانة وو څخه ډېر کسان دي ته ورشه له خلکو نه وغواړه کېدای شي څوک پيدا شي چې رسول الله ﷺ ته ستا له لوري واسطه شي .

ده ورته وويل پدې به زما څه کار وشي؟

حضرت علي رضي الله عنه ورته وفرمايل : نه زما د قسم په الله وي پدې هم ستا څه نه کيږي لکن زه بل څه نه وينم نو زه تاته څه ووايم؟

ابو سفيان چې له هرڅه نه نا اميده وو بيا هم راغلو او په مسجد کې يې اواز وکولو که څوک پيدا شي چې دده لپاره رسول الله ﷺ ته واسطه شي لکن هېڅوک نه را پاڅېدل او نه چا ورته اواز وکولو نو دا اومه څپړ وه چې دده په مخ لګېده نو نا اميده شو بېرته يې په خپل ا وښ باندې سپور شو او مکې ته روان شو په لاره کې يې حضرت بلال حضرت صهيب حضرت سلمان ؓ وليدل هغوی وويل : تر اوسه د الله ① توري د دښمن په غاړو کې خپل ځای ته نه دي رسېدلې حضرت ابو بکر صديق ❽ چې هلته نېږدې ورسره تېرېدلو دا خبره يې واورېده ورته يې ويل : تاسې د قريشو سردار ته داسې خبرې کوئ؟ بيا راغلو رسول الله ﷺ ته يې د ددوی له دې وينا څخه شکايت کولو رسول الله ﷺ چې د ابو بکر صديق ❽ دا خبره واورېده نو ددې په ځای چې د ابو بکر صديق ❽ طرف واخلي او دی هم په ابو سفيان باندې زړه بد کړي ده ﷺ د خپلو عاشقانو طرف واخيست ورته يې وويل ای ابابکر دوی چې ابو سفيان ته دا خبره وکوله تا به دوی غصه کړي وي؟ که چېرته تا دوی غصه کړي وي نو تا خپل رب غصه کړی دی حضرت ابو بکر صديق ❽ بېرته په منډه دوی ته راغلو ورته ويل يې ای ورونو ما تاسې غصه کړئ؟ دوی ورته وويل نه وروره الله د وبښه .

ابو سفيان مكې ته ستون شو

ابو سفيان مكې مكرمې ته راغلو دوى ترې پوښتنه وكوله چې څه دې وكول

ده ورته تُوله قصه وكوله چې رسول الله ﷺ ته ورغلم هغه راته هېڅ ځواب را نه كړو او بيا مې يو په بل پسې مشران صحابه وليدل چې رسول الله ﷺ ته زما شفاعت وكوي ابو بكر صديق ته ورغلم هېڅ څه خير مې ورسره پيدا نه كړو، عمر ❸ ته ورغلم هغه خو تيار دښمن وو، علي ❸ ته ورغلم هغه ډېره نرمي او ښه رويه راسره وكوله يوه طريقه يې راته وښودله خو كار يې ورنه كړو.

دوى ورته وويل څه يې درته وښودل؟

ده ورته وويل : راته يې وويل چې ورشه په جومات كې خلكو ته اواز وكوه كېداى شي څوك پيدا شي چې رسول الله ﷺ ته ستا شفاعت وكوي .

دوى ورته وويل : نو بيا دهغې سره څه وشول؟

ده ورته وويل : هېڅ هم ونه شول .

دوى ورته وويل : نو بيا خو هغه هم هسې ټوكې در پورې كړي دي .

ده ورته وويل : نه قسم دى هغه را پورې ټوكې نه كولې لكن بله هېڅ لاره نه وه

ددې ورځې نه وروسته قريشو ته هېڅ هم ور پاتې نه شول او هېڅ لاره ورسره نه وه چې څه وكوي صرف د رسو ل الله ﷺ د راتلو انتظار يې وېستلو

د مکې د فتح راز پټ ساتل

رسول الله ﷺ درى ورځې وړاندې ددې چې د قريشو له لوري نه ورته د تړون د ماتولو خبر راشي حضرت عائشې رضى الله تعالى عنها ته وويل ځان تيار کړه چېرته ځو نور يې ورته هېڅ هم نه وو ويلي او تر ډېره وخته پورې يې دا راز صرف له ځان سره ساتلى وو ددې لپاره چې قريش ددېنه خبر نه شي او د جنګ تيارى له مخکې نه ونه کوي کله چې ابو بکر صديق رضي الله عنه د خپلې لور کور ته ورغلو ويې کتل چې هغه خپل کالي او نور شيان سره تړلي دي پوښتنه يې وکوله لورې دا تيارى د څه لپاره دى؟ هغې مبارکې ورته وويل ماته هم نده معلومه رسول الله ﷺ صرف وويل چې ځان تيار کړه ابو بکر صديق رضي الله عنه وويل نه پوهېږم چې پدې وخت کې رسول الله ﷺ د څه لپاره تياري کوي دا وخت خو اوس له چا سره د جنګ هم نه دى .. حضرت عائشې رضى الله تعالى عنها ورته وويل والله که زه هم خبره وم .

رسول الله ﷺ ددې لپاره چې د وتلو راز پټ وساتي او څوک خبر نه شي چې دى د مکې د فتح لپاره وتلى دى نو د وتلو نه وړاندې يې د حضرت ابا قتادة بن ربعي رضي الله عنه په مشرى کې آته کسان بلې خوا ته ولېږل ددې لپاره چې خلک هم فکر وکوي چې رسول الله ﷺ به په دوى پسې ورځي او هغوى ته هم معلومه نه وه چې رسول الله ﷺ کومې خوا ته ځي

رسول الله ﷺ چې د مکې په لور روان شو نو په هغوی پسې خبر ورغلو چې رسول الله ﷺ خو د مکې په لورې حرکت وکولو بيا هغوی هم راغلل او په لاره کې درسول الله ﷺ سره يو ځای شول .

رسول الله ﷺ په داسې اندازه او طريقه باندې خپل لښکر برابر کړو چې ساری يې نه درلود لس زره کسان جنګيالي وو او د مدينې په شاوخوا کې يې کسان مقرر کړل چې هغوی کوښښ کولو چې څوک لاړ نه شي او د مکې خلکو ته خبر ورنه کړي بيا رسول الله ﷺ دعا وکوله ويل يې ای الله د دوی غوږونه او سترګې ونيسه چې دوی له مونږ نه خبر نه شي او مونږ په يو دم ووينې او په يو دم زمونږ اواز واوري .

د مسلمانانو د لښکر په اړه مکې ته ليک

د رسول الله ﷺ ددې لښکر په اړه حاتم بن ابي بلتعة د مکې خلکو ته ليک وليکلو او يوې ښځې ته يې ورکړو چې مکې ته په سفر روانه وه رسول الله ﷺ ته په وحی سره ښکاره شوه چې د ښځې سره يو ليک دی چې د لښکر په اړه په ټولو تفصيلاتو باندې مشتمل دی حضرت علي، حضرت زبير او حضرت مقداد رضي الله عنهم پسې ورغلل او ښځه يې د مدينې منورې په ۱۲ ميله لرې فاصله کې په روضة خاخ نومې ځای کې را ونيوله ورته يې وويل : لتا سره چې

کوم ليک دی هغه راکړه دې ورته وويل لما سره ليک نشته صحابه وو ﷺ ورته وويل که ته مونږ ته ليک را نه کړې مونږ به ستا جامې دربانديې و باسو ترڅو مو چې ليک را پيدا کړی نه وي بالآخره دا وډاره شوه او ليک يې له خپلو کمڅيو څخه ورته را وويستو صحابه وو ﷺ ته يې ورکړو او هغوی راوړو رسول الله ﷺ ته يې ورکړو رسول الله ﷺ حاتم بن ابي بلتعة را وغوښت او ددې ليک په اړه يې ورڅخه پوښتنه وکوله دا د ولې لېږلی وو؟ ده ورته وويل ای رسول الله ﷺ په ما باندې عجله مه کوئ زه درته خپل عذر وايم : زه په قريشو کې وم هغوی زما لحاظ او قدر کولو او زه قريش نه وم نو چې کله د ټولو مهاجرو په څېر مهاجر شوم نو د ټولو مهاجرو په ډول مې خپله کورنی هلته پاتې شوه د نورو مهاجرو خو هلته خپلوان وو دکورنی ساتنه ورته هغه خپلوانو کوله زما کورنی هلته په خطر کې وه نو ما وې که دا خط زه ور ولېږم کېدای شي هغوی زما د کور نی د خلکو سره يو ښه رويه وکوي صرف پدې نيت مې لېږلی وو پدې نيت مې نه وو لېږلی چې يا زه کافر يم او يا مې د اسلام په ضد کوم کار کول غوښتل .

رسول الله ﷺ وويل دې کس رښتيا وويل .

حضرت عمر ❽ وويل : ای رسول الله ﷺ ما پرېږده چې دا منافق قتل کړم او سر ترې ووهم .

مهربان قائد رسول الله ﷺ وفرمایل : نه مه یې کوه دا په بدر کې هم حاضر وو الله ① هغه کسانو ته بښنه کړېده چې هغوی په بدر کې حاضر وو .
بیا آیة نازل شول .
سورة ممتحنة آیة ۱
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِي تُسِرُّونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا أَخْفَيْتُمْ وَمَا أَعْلَنْتُمْ وَمَنْ يَفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ

ترجمه : ای مومنانو مه نیسي زما او ستاسې دښمن په دوستۍ سره تاسې له هغوی سره دوستي کوئ او هغوی په هغه څه باندې کافران دي چې تاسې ته راغلي دي هغوی تاسې او رسول ددې امله له خپل ځای نه وباسي چې تاسې ایمان راوړی دی په الله ستاسې په خپل رب باندې که چېرته تاسې زما په لاره کې د جهاد او زما د رضا په طلب کې راوتلي یاست ... تاسې له هغوی سره پټه دوستي ساتئ او زه په هغه څه باندې ښه پوهېږم چې تاسې یې پټوئ او یا یې ښکاره کوئ او هغه څوک چې په تاسې کې دا کار کوي هغوی له سمې لارې نه بې لارې شوي دي .

د مکې فتح ته روانېدل ته روانېدل

رسول الله ﷺ د خپلو لسو زرو کسانو سره د مکې په لوري باندې روان شو ټول مهاجرين او ټول انصار مجاهدين ورسره وو هېڅوک هم تر پېنه نه وو پاتې حضرت ابا رهم کلثومَ بن حصين بن عتبة بن خلف الغفاري الکناني يې په مدينه منوره کې دخپل خليفه په توګه باندې پرېښودو په الجحفة نومي ځای کې د رسول الله ﷺ تره حضرت عباس چې رسول الله ﷺ ته معلومه وه هغه په پټه سره مسلمان وو او کله کله به يې د کفارو د تياري يا نورو پروګرامونو په اړه رسول الله ﷺ ته خبر هم ورکولو د مهاجر په توګه د خپل ټول اهل سره را وتلی وو رسول الله ﷺ يې په ليدلو ډېر خوشحال شو.

د رسول الله ﷺ د تره زوی ابو سفيان ابن الحارث

ابو سفيان ابن الحارث د رسول الله ﷺ د تره زوی وو دواړه رضاعي ورونه هم وو او په وړکتوب کې دواړه ډېر زيات سره خواږه وو لکن هغه تر دې وخته پورې سخت کافر وو او شاعر هم وو د رسول الله ﷺ په اړه يې ډېر سخت او بد الفاظ

ويلي وو او دده د شعرونو څخه مسلمانان ډېر زيات په تنګ وو يو وړوکی ماشوم زوی يې هم ورسره وو پوره قصه يې ددې سلسلې په دوهم کتاب کې تېره شويده رسول الله ﷺ ته په مخه ورغلو هغه ترينه مخ واړولو بيا بيا يې د رسول الله ﷺ سره د مخامخ کېدو کوښښ کولو لکن رسول الله ﷺ ترينه مخ اړولو رسول الله ﷺ ته ام سلمة د رسول الله ﷺ بي بي وويل دا خو ستا د تره زوی دی رسول الله ﷺ ورته وويل دا د تره زوی زما نه دی په کار ده په ما پسې ډېرې بدې خبرې کړې دي او دده له شعرونو څخه مسلمانان په تنګ وو بيا ده وويل چې که دا ځل هم رسول الله ﷺ لما سره مخامخ نه شي او ما معاف نه کړي ددې خپل زوی سره پدې دښتو کې ځم چېرته چې په دښته کې مړه شو هلته به دواړه مړه شو رسول الله ﷺ ته دا خبره ورسېده نو دی يې معاف کړو او مسلمان شو .

عبد الله بن امية المغيرة

عبدُ الله بنُ أمية بنِ المغيرة المخزومي القرشي هم ډېر سخت کافر وو او دا هغه کس وو چې رسول الله ﷺ ته يې ويلي وو (چې زه درته ګورم ته اسمان ته زينه کېږدې او پرې باندې ور و خېږې (نعوذ بالله) او له هغې خوا نه له ځان سره ليکل راوړې او څلوېښت ملائکې درسره وي هغوی ستا تصديق کوي

چې دا ته څه وايې دا ټول رښتيا دي نو بيا هم زه فکر نه کوم چې زه د ستا تصديق وکوم) د دومره سختو او غليظو خبرو سربېره هغه هم راغلو په لاره کې د رسول الله ﷺ سره مخامخ شو او توبه يې وويستله رسول الله ﷺ معاف کړو او ده اسلام قبول کړو .

د فتح نه وړاندې شپه

په لاره کې مکې مکرمې ته نېږدې په مر الظهران کې رسول الله ﷺ شپه وکوله او مرکز يې جوړ کړو د شپې يې ټولو صحابه وو ته امر وکولو چې هرڅوک د خپل اور بل کړي چې لس زره ځايه اور بل شو دا څه عجيبه منظره ښکاره کېده ټوله فضاء رڼا شوې وه حضرت عباس ؓ فرمايي ما چې دا اورونه وليدل نو په زړه کې مې وويل که سبا مسلمانان مکې ته په زور ننوتل د قريشو خو به داسې هلاکت وشي چې ياد يې پاتې شي د رسول الله ﷺ په قچر باندې سپور شوم د مکې خواته له لښکر نه را ووتلم ما وې که داسې څوک پيدا کړم چې مکې ته احوال يوسي چې مخکې له دې چې رسول الله ﷺ په تاسې باندې حمله وکوي تاسې راشئ او دده څخه امان وغواړئ او ځانونه تسليم کړئ .

د ابو سفيان ابن الحرب اسلام

أبو سفيان او حكيم بن حزام او بديل بن ورقاء له مكې مكرمې نه د شپې را وتلي وو كتل يې غوښتل چې څه ښكاره كيږي او كنه چې د مسلمانانو په اورونو يې سترګې ولګېدلې ابو سفيان وويل ما په خپل ژوند كې داسې اورونه او داسې فوځي ټولنه نه ده ليدلې .. هو ! ده رښتيا وويل ددينه وړاندې په تاريخ كې داسې فوځ په يو ځل چېرته نه وو تللى .

بديل وويل : دا به د خزاعة خلک وي .

ابو سفيان ورته وويل : نه د خزاعة خلک دومره لښكر نشي را ويستلى هغوى دومره نه دي .

حضرت عباس ☸ فرمايي ما يې دا اوازونه واوريدل او ومې پېژندل ورته اواز مې كړو اى ابا حنظله ده راته وويل ابوالفضل يې؟ ما ورته وويل هو! ده راته وويل دا څه قصه ده؟ ما ورته وويل دا رسول الله ☸ دى او ملګري يې دي سبا د قريشو د سبا خير نشته ابو سفيان ورته وويل : مور پلار مې لتا نه زار شه بيا راته ووايه څه چل وكوو؟ ما ورته وويل والله كه يې ګير كړي سر درڅخه پرې كوي راځه په ما پسې شا ته پدې قچر كېنه زه به د رسول الله ☸ ته وروولم ستا لپاره به امان ترې وغواړم معاف به دې كړي بيا هغه په ما پسې شا ته كېناستو او ما را روان كړو او دوه نور ملګري يې بېرته ستانه شول چې لښكر ته را ورسېدو خلكو به پوښتنه كوله دا څوک دى؟ چې د رسول الله ☸ قچره به يې وليده زه

به پرې سپور وم دوی به ويل : د رسول الله ☸ تره دی او درسول الله ☸ په قچره باندې سپور دی تردې چې د حضرت عمر ❽ په اور راغلم هغه وويل : دا څوک دي؟ او را پاڅېدو چې زما شا ته يې ابو سفيان وليدو ويې ويل : ابوسفيان د الله دښمن دی حمد ثناء ده هغه ذات لره چې ته يې بغير د جنګ او بغير د کوم تړون څخه مونږ ته په لاس کې راکړې او بيا په غصه کې در سول الله ☸ لوري ته روان شو او هغه ته يې وفرمايل : دا ابو سفيان دی الله ① مونږ ته بغير د کوم تړون او جنګ نه په لاس راکړو ما پرېږده چې سر ترې پرې کړم . ما ورته وويل ای رسول الله ☸ دا ما راوستلی دی حضرت عمر ❽ چې دده په اړه ډېره سختي کوله ما ورته وويل : صبر کوه عمره ❽ که دا چېرته د بني عدي (د حضرت عمر کورنۍ) نه وای قسم ده که تا دده په اړه دومره سختي کړې وای لکن دا د بني عبد مناف له کورنۍ څخه دی) ده راته وويل : ای عباسه په هغه ورځ چې ته مسلمان شوې که خطاب (د حضرت عمر پلار) مسلمان شوی وی ستا اسلام مې ډېر پرې خوښ وو وجه يې دا وه چې ستا اسلام د رسول الله ☸ ډېر خوښ وو ددېنه که خطاب مسلمان شوی وای .

رسول الله ☸ وويل : عباسه دا اوس له ځان سره خپل ځای ته بوزه سبا يې ماته راوله .

سبا مې چې ورته را وستو رسول الله ﷺ ورته وويل : ويحک اى ابا سفيان تاته دا نه ده معلومه چې الله يو دى شريک نه لري؟ ده ورته وويل مور پلار مې لتا قربان شه ته څومره د ښه زړه خاوند، معزز او د خپلولي ساتونکى يې که چېرته ما گمان کولى چې په دنيا کې د يو الله نه بغير بل خداى شته نو اوس به يې ماته څه فايده کړې وه .

بيا رسول الله ﷺ ورته وويل : ته پدې نه پوهېږې چې زه د الله ① رسول يم؟

ابو سفيان ورته وويل : په الله مې د قسم وي پدې اړه مې تر اوسه په زړه کې يو څه شته .

حضرت عباس ﷺ فرمايي : ما ورته وويل : خوار شې مخکې ددې چې ووژل شې اسلام قبول کړه .

هغه فوراً گواهي ورکړه او په اسلام مشرف شو .

د ابو سفيان خاص امتياز

بيا ما رسول الله ﷺ ته وويل چې ابو سفيان فخر خوښوي اى رسول الله ﷺ ده ته څه خاص امتياز ورکړه .


رسول الله ﷺ وويل : هو! چې په مکه کې هرڅوک د ابو سفيان کور ته ننوزي هغوى به په امن وي، څوک چې خپلې دروازې بندې کړي هغوى به په امن وي او څوک چې مسجد حرام ته ننوزي هغوى به په امن وي رسول الله ﷺ چې مکې مکرمې ته نېږدې شو

خپلو غازيانو ته يې لارې ور تقسيم کړې حضرت خالد بن وليد ❽ يې د لښکر په ميمنه (د ښې طرف په غازيانو) مقرر کړو چې په دوی کې د اسلم، سليم، غفار مزينة او جهينة قبائلو کسان وو دوی ته يې وويل چې د مکې د ښکته طرف نه به ور ننوزئ او که څوک درته مخې ته جنګ ته را ووتل تر هغه پورې يې لو کړئ (ويې ريبئ) چې لما سره په صفا کې مخامخ شئ .

حضرت زبير بن عوام ❽ يې په مهاجرينو باندې امير کړو او دوی ته يې وويل چې تاسې به د حرم نه په پورته خوا کې مکې ته داخليږئ .

ابو عبيدة ❽ يې په بياذقة ډله باندې مقرر کړو او هغوی ته يې خپله لاره ور وښوده په راتلونکې نقشه کې ښکاره کيږي .

سعد بن عبادة ❽ د انصارو سره په يوه ټولګي کې د رسول الله ﷺ تر مخ روان شو او دوی ته وويل شول چې چا درسره جنګ کولو نو ورسره به جنګ کوئ پدې سره ټولو ته خپلې لارې د راتلونکې نقشې مطابق ور معلومې کړل شوې .


په دې ځاى کې رسول الله
هر چا ته خپله لاره ور ښيله کړه
مکې ته تلونکې لارې
عراق ته لاره
د المعلاة مقبره
طائف او نجد ته لاره
المعلاة
قبرونه
کوهي
د ابي قبيس غر
د رسول الله لښکر
د خالد بن وليد لښکر
د زبير بن العوام لښکر
قيس بن سعد بن عبادة لښکر
د جدې لاره
حرم
غار حراء
د خندمة غر
جبل عمر
الليط
پخوانۍ قلا
يمن ته لاره
جبل الثور
Map by
M.Nazir Zabih

د دوی نه وړاندې ابو سفيان مکې ته منډه را اخيستې وه ويل يې ای خلکو محمد په داسې لښکر کې راغلو چې دهغه سره مخامخ کېدل ممکن نه دي څوک چې د ابو سفيان کور ته ننوزي هغوی ته به څه نه وايي خلکو ورته وويل مونږ څنګه ټول ستا په کور کې ځای کېدلی شو؟ ده ورته وويل څوک چې خپل کور ته ننوزي او دروازه پسې بنده کړي هغه هم په امن دي او څوک چې جومات ته ننوزي هغه هم په امن دي خلکو منډه کړې خپلو کورونو ته او جومات ته ننوتل .

د مسلمانانو لښکر له څلورو لارو مکې ته داسې ننوتل چې قريشو ته يې ددې وخت ورنه کړو چې هغوی ددوی د مقابلې لپاره يو صف جوړ کړي او يا د جنګېدلو په اړه فکر وکوي ټول په يو وخت کې له هرې خوا نه په مکه مکرمه ور ننوتل صرف له کومه لوري چې خالد بن وليد را روان وو هلته عکرمة بن ابي جهل ، صفوان بن امية ، سهيل بن عمرو او څه نور داسې کسان ورسره وو چې جنګ يې کول غوښتل او په غيشو يې ويشتل شروع کړل لکن خالد بن وليد ❽ ډېر زر دهغوی په محاصره کولو باندې امر وکولو او لږ وخت وروسته يې هغوی پسې واخيستل او تېښتې ته اړ شول او پدې سره په مکه مکرمه باندې د مسلمانانو واکمني قائمه شوه او مکه د مسلمانانو په لاس باندې فتح شوه د مسلمانانو له لوري کرز بن جابر الفهري او خنيس بن خالد الخزاعي چې په داسې لاره لاړل چې په کومه باندې

د مسلمانانو لښکر نه وو روان او مشرکينو ته په لاس ورغلل او شهيدان يې کړل ددوی نه بغير د مسلمانانو له لوري نه څوک خوږ نه شول او د مشرکينو له لوري نه ۱۲ کسان او د يو قول له مخې ۲٤ کسان ووژل شول پاتې يې و تښتېدل .
د جمعې مبارکه ورځ وه د هجرت آتم کال د روژې شلمه ورځ وه چې رسول الله ﷺ مکې مکرمې ته په داسې حالت کې ننوتلو چې سورة فتح يې تلاوت کولو او تور پټکی يې په سر وو احرام يې په ځان نه وو د الله تعالی شکريه يې اداء کوله چې دا دومره لويه فتح يې ورکړه او خپل ځای ته يې فاتح را ستون کړو .
خلک په آرام شول تول خلک پوه شول چې کفار د مقاومت او جنګ نه لاس په سر شول رسول الله ﷺ راغلو د بيت الله طواف يې وکولو پدې وخت کې په حرم کې ۳٦۰ بتان وو د رسول الله ﷺ په لاس کې د غيشو لیندۍ وه په هغه به يې بت ته اشاره کوله او دا آيت به يې لوستلو :
جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ
د معجزې په ډول به هغه بت په زمکه را پرېوتلو او د کعبې د ننوتلو نه يې انکار وکولو او ويل يې چې پدې کې د ننه تصويرونه دي هغه ترې را وباسئ خلک ورغلل هلته دوه عکسونه وو چې دوی ګمان کاوه دا حضرت ابراهيم او حضرت اسماعيل عليهما السلام دي هغه يې را وويستل او مات يې

کړل بيا رسول الله ﷺ د کعبې د ننه ور ننوتلو او تکبيرونه يې پکې وويل حضرت اسامة بن زيد، حضرت بلال، حضرت طلحه ؓ هم ورسره وو يو څه وخت يې پکې تېر کړو چې را ووتل حضرت عبد الله بن عمر ؓ د حضرت بلال ؓ نه پوښتنه و کوله چې رسول الله ﷺ د ننه څه وکول؟ هغه ؓ ورته وويل رسول الله ﷺ په داسې حالت کې چې دوه ستنې يې ښي طرف ته يوه يې چپ طرف ته او درې يې شاته وې په مانځه و درېدو (پدې وخت کې د مکې مکرمې د ننه شپږ ستنې وې نوی تصوير او ټول معلومات يې ددې سلسلې په اول کتاب کې تېر شوي دي) رسول الله ﷺ چې د مانځه نه فارغ شو نو د کعبې په طرفونو کې را تاو شو تکبيرونه يې وويل بيا يې دروازه خلاصه کړه ټول خلک په انتظار وو قريش هم را ټول شوي وو چې اوس په څه کيږي او دوی څه وکوي رسول الله ﷺ دروازه را خلاصه کړه او د دروازې په طروفونو باندې يې خپل مبارک لاسونه کېښودل او ښکتنی ايت يې تلاوت کړو .

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ

ترجمه : ای خلکو ما تاسې د يو مذکر او يوې مونث څخه پيدا کړي ياست بيا مې په قبائلو او کورنيو باندې ددې لپاره وويشلی چې تاسې يو بل سره و پېژنئ په تاسې کې الله تعالی ته ډېر معزز

هغه كس دى چې له الله ① نه زيات وېرېږي الله تعالى ښه عالم او ښه خبر ذات دى .
او خلكو ته يې خبرې وكولې او قريشو ته يې وويل چې الله ستاسې نه د جهالت پرده اوس پورته كړه د اسلام رڼا يې ستاسې ځاى ته راوړه او د الله تعالى حمد او ثناء يې وويله چې مسلمانانو او اسلام ته يې د تاريخ لويه كاميابي او فتح ور په برخه كړه .

د كعبې كلياني

د كعبې كلياني پدې وخت كې د عثمان بن طلحة سره وې چې په ا سلام هم نه وو مشرف شوى او دا هغه كس وو چې تر هجرت وړاندې يوه ورځ رسول الله ☸ دده څخه كلياني ددې لپاره غوښتې وې چې رسول الله ☸ غوښتل د كعبې د ننه ووينې نو ده ورته ډېر سخت بد الفاظ ويلي وو او ورته غصه شوى وو نو په هغه وخت كې د معجزې په ډول رسول الله ☸ ورته ويلي وو چې ګوره يو وخت به دا كلياني لما سره وي او چې چا ته يې وركوم زما خوښه به وي اوس چې مكه فتح شوه حضرت علي ❽ غوښتل چې دا كلياني له هغه څخه واخلي او دا يوه دعزت خبره وه او د بني هاشم د كورنى چې د رسول الله ☸ خپله كورنى وه د ډېرو كسانو دا شوق وو چې كلياني دوى ته وركړل شوې واى او دا شرف د بني هاشم له كورنى سره واى لكن رسول الله ☸

بېرته هغه کلياني عثمان بن طلحة ته ورکړې او ورته يې وويل نن ورځ د نيکی او وفا ورځ ده .
د مانځه وخت را نېږدې شو رسول الله ﷺ حضرت بلال ❽ ته وويل چې د کعبې سر ته وخېږه او اذان وکوه لږ لرې ابو سفيان ، حارث ابن هشام، عتاب بن اسيد ناست وو او د بلال او دهغه د اذان او دا چې که مونږ خبر وای چې دا حق دی نو مونږ به يې هم متابعت کړی وای او داسې نورې خبرې يې کولې لږ درنګ وروسته رسول الله ﷺ ورغلو ورته يې وويل چې تاسې کومې خبرې کولې ما ته هغه ټولې را ورسېدلې او هغه د دوی خبرې يې ورته وکولې هغوی حيران شول نو سم د لاسه حارث او عتاب وويل مونږ ددې ګواهي ورکوو چې ته د الله رسول يې ځکه په هغه وخت کې چې مونږ دا خبرې کولې هېڅوک هم له مونږ سره نه وو چې زمونږ په ګمان تاته به يې زمونږ خبرې رسولې وي دا خبرې تاته خامخا الله کړي دي .
د فتح په سبا باندې رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې د خزاعة قبيلې خلکو (چې د رسول الله ﷺ سره په تعهد کې وو) د هذيل قبيلې نه يو کس چې مشرک وو دهغه کس په بدل کې وژلی دی چې مخکې وژل شوی وو رسول الله ﷺ راغلو خلکو ته يې پدې اړه خبرې شروع کړې ويل يې :
ای خلکو الله ① له هغه وخت نه چې زمکې او اسمانونه يې پيدا کړي دي مکه حرم کړېده او ترقيامته پورې به حرم وي هغه څوک چې په الله ①

او دهغه په رسول ﷺ باندې ايمان لري هغه ته روا نه دي چې پدې کې وينه تويه کړي، يا ترينه ونه پرې کړي، نه مخکې روا وه او نه وروسته روا ده صرف دا اوس وخت زما لپاره روا شوه دا د مکې په اهل باندې يو غضب وو او د اوس نه وروسته د مکې حرمت هماغه ډول دی لکه مخکې چې وو هغه کسان چې حاضر دي هغه کسانو ته دې ووايي چې غير حاضر دي که تاسې ته چا وويل: رسول الله ﷺ په حرم کې جنګ کړی وو تاسې ورته ووايـاست چې الله ① د رسول الله ﷺ لپاره حلاله کړې وه او ستاسې لپاره يې نه ده حلاله کړې ای د خزاعة قبيلې خلکو خپل لاسونه له جنګ څخه پورته کړئ ډېر جنګونه او قتلونه مو وکول تاسې داسې قتل کړی دی چې زه يې محکوم کوم ددېنه وروسته چې څوک قتل کړل شي دهغه وارثانو ته اختيار دی يا به ورته قاتل قصاص کيږي او يا به يې معاف کوي.

رسول الله ﷺ په صفا باندې دعا کوله انصارو په خپل مينځ کې وويل رسول الله ﷺ خو اوس خپل ځای فتح کړو هسې نه چې اوس دلته ژوند اختيار کړي او مدينه پرېږدي .. رسول الله ﷺ چې له دعا څخه فارغ شو دوی ته يې وويل څه مو وويل؟ دوی ورته وويل هېڅ مو هم نه دي ويلي يا رسول الله ﷺ لکن رسول الله ﷺ بيا ورته وويل: نه ماته ووايـاست تاسې څه ويل؟ دوی ورته وويل مونږ ډارېږو هسې نه چې ته اوس دلته پاتې شې او بيا

مدينې ته لاړ نه شي . ده ورته وويل : نه داسې نه شي کېدلى ژوند به مې هم ستاسې سره وي او مرګ به مې هم ستاسې سره وي انصار صحابه ❽ ډېر زيات خوشحال شول .

رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کې د فتح نه وروسته ۱۹ ورځې پاتې شو خلکو ته يې اسلام ور ښودلو او يو بل لوري ته يې صحابه لېږل چې بتان به په مخ ورتلل هغه به يې ماتول او خلک به يې د يو الله① عبادت ته را بلل او رسول الله ﷺ اعلان وکولو چې څوک په الله ① او د قيامت په ورځ باندې ايمان لري نو په کور کې يې چې څومره بتان وي هغه دې مات کړي او هېڅ بت دې په کور کې جوړ نه پرېږدي .

هغه کسان چې رسول الله يې د قتل امر کړى وو

په مکه کې نه (۹) کسان داسې وو چې رسول الله ﷺ دهغوى په اړه ويلي وو : چېرته چې په مخ درشي دا به قتل کيږي اګر که د کعبې تر پردو لاندې هم وي هغه کسان په لاندې ډول وو.

١. عبد العزى بن خطل التميمي
٢. عبد الله بن أبي سرح القرشي
٣. عكرمة بن أبي جهل القرشي
٤. الحارث بن نفيل بن وهب

٥. مقيس بن صبابة الكناني (دا يو ځل مسلمان شوى وو بيا يې يو انصاري صحابي شهيد كړو بېرته مرتد شو او مكې ته لاړو)

٦. هبار بن الأسود القرشي

٧،٨. قينتان كانتا لابن خطل(دوى دواړو به په بدلو كې د رسول الله ☸ په اړه بد ويل)

٩. سارة مولاة لبعض بني عبد المطلب بن هاشم (دا هغه ښځه وه چې د حاطب بن أبي بلتعة ليک ورسره وو قصه يې لږ وړاندې تېره شوه د اسلام سخته دښمنه وه)

د يو روايت له مخې هند بنت عتبة هم پدې كسانو كې داخله وه .

پدې كسانو كې ځينې ګير كړل شول او ووژل شول او ځينو يې توبه وويسته او اسلام يې قبول كړو رسول الله ☸ معاف كړل .

عبد العزى بن خطل رښتيا هم په داسې وخت كې ګېر كړل شو چې د كعبې تر پردو لاندې يې ځان پټ كړى وو مسلمانانو را ونيولو او رسول الله ☸ ته يې وروستلو هغه ☸ يې په قتل باندې امر وكولو او ووژل شو .

عبد الله بن أبي سرح القرشي حضرت عثمان ❽ رسول الله ☸ ته راوستلو دهغه لپاره واسطه شو او د رسول الله ☸ نه يې ورته بښنه وغوښته هغه معاف كړو او دى په اسلام مشرف شو .

عكرمة بن أبي جهل القرشي هم معاف كړل شو او په اسلام مشرف شو .

الحارث بن نفيل بن وهب هغه كس وو چې په مكه كې يې رسول الله ﷺ ته په ضرر رسوونكو كې تر هرچا وړاندې وو او ډېر زيات تكليفونه به يې وركول حضرت علي ❽ ته په لاس ورغلو او قتل يې كړو .

مقيس بن صبابة الكناني د نميلة بن عبد الله ❽ په لاس بانديې ووژل شو.

هبار بن الأسود القرشي هغه كس وو چې كله د رسول الله ﷺ لور زينب رضى الله تعالى عنها هجرت كولو دى ورته په لاره كې ولاړ وو او په هغې مباركې بانديې يې وار كړى وو هغه په تېږه ور غورځېدلې وه او په ګېډه ماشوم يې ضائع كړى وو هغه د فتح په ورځ له مكې نه تښتېدلى وو بيا وروسته رسول الله ﷺ ته راغلو بښنه يې وغوښته او اسلام يې قبول كړو رسول الله ﷺ معاف كړو .

په قينتانو كې يوه ووژل شوه او د بلې لپاره او همدارنګه د سارة لپاره د رسول الله ﷺ نه بښنه و غوښتل شوه او په ا سلام باديې مشرفې شوې .

سره ددې چې د مكې خلكو د رسول الله ﷺ سره زيات ظلمونه كړي وو لكن رسول الله ﷺ هغوى ته عمومي بښنه اعلان كړه او ټول يې معاف كړل ددې بښنې فايده دا شوه چې د مكې خلك به ډلې ډلې په اسلام كې داخلېدل لوى، واړه او ښځينه په

راتلې په اسلام کې به داخلېدلې او د رسول الله ﷺ سره به يې بيعت کولو .
حضرت مجاشع بن مسعود ❽ خپل وروړ رسول الله ﷺ ته راوستلو ورته ويل يې دا مې تاته راوستلو چې لتا سره په هجرت باندې بيعت وکوي . رسول الله ﷺ ورته وويل : په هجرت کې چې څه وو هغه مهاجرو يوړل (اوس د مکې نه د هجرت ضرورت نشته) ده ❽ ورته ويل نو په څه به درسره بيعت کوي؟ رسول الله ﷺ ورته وويل په ايمان په اسلام او په جهاد باندې .

د ابو سفيان د مېرمن هند اسلام

په صفا باندې چې کله رسول الله ﷺ د سړيو د بيعت نه فارغ شو نو بيا د ښځو سره د بيعت سلسله شروع شوه د سفيان ښځه هند (هغه ښځه وه چې د ا حد په غزا کې شريکه وه او د رسول الله ﷺ د تره مبارک حضرت حمزة ❽ ګېډه يې ورباندې څيرلې وه او دهغه پوزه او غوږونه يې ورباندې پرې کړي وو) اوس په داسې حالت کې راغله چې ځان يې پټولو چې رسول الله ﷺ مې و نه پېژني او بيعت شروع شو
رسول الله ﷺ ورته ويل زه لتاسې نه بيعت اخلم چې تاسې به له الله ① سره شريک نه نيسئ غلا به نه کوئ

هند ورته وویل ابو سفیان سخت سړی دی (په مصرف کې سخت دی) که زه دهغه د مال نه څه شی اخلم دا غلا ده؟ ابو سفیان ولاړ وو هغه ورته وویل زما د مال نه چې ته کوم شی اخلې هغه تاته معاف دي

رسول الله ﷺ ورته وخندل او ویې پېژندله ورته ویل یې : ته هند یې؟

دی ورته وویل هو ! څه چې مخکې تېر شوي دي هغه معاف کړه ای د الله ① رسوله الله ① دې تاته معافي وکوي .

رسول الله ﷺ ویل : زه ستاسې څخه بیعت اخلم چې زنا به نه کوئ؟

هند ورته ویل : آیا اصیله ښځه هم زنا کوي؟

رسول الله ﷺ ویل : زه لتاسې نه بیعت اخلم چې تاسې به خپل اولادونه نه مړه کوئ.

هند ورته ویل: مونږ له وړکتوب څخه را لوی کړل هغوی تاسې راته په بدر کې ووژل حضرت عمر ﷺ چې د رسول الله ﷺ نه لږ لاندې په صفا باندې ناست وو داسې یې ورته وخندل چې شا ته ړنګ شو رسول الله ﷺ هم ورته مُسکی شو .

بیا رسول الله ﷺ ورته وویل : زه لتاسې نه بیعت اخلم چې تاسې به بهتان نه جوړوئ .

هند ورته ویل : بالکل بهتان بد شی دی او تاسې مونږ ته صرف په نېکو کارونو باندې امر کوئ.

رسول الله ﷺ ورته ویل : زه ستاسې نه بیعت اخلم چې تاسې به زما نا فرماني نه کوئ .

هند ورته ويل : والله چې مونږ دې ځای ته راتلو په زړه کې مو دا نه وه چې مونږ به ستا نا فرماني کوو ددې ځای نه چې کور ته لاړه خپل بت يې په زمکه وويشتو او مات يې کړو او ورته ويل يې ستا له لاسه مونږ په دوکه کې وو .

صفوان بن امية له هغه کسانو څنې وو چې د رسول الله ﷺ له راتلو سره له مکې نه تښتېدلی وو سره ددې چې دده نوم په هغه کسانو کې نه وو چې رسول الله ﷺ يې په قتل باندې حکم کړی وو لکن د مسلمانانو سره په جنګونو کې دده نوم تر هرچا وړاندې وو ددې امله دی ډاريدو بيا د رسول الله ﷺ نه ورته حضرت عمير بن وهب الجمحی القرشي امان وغوښت رسول الله ﷺ ورته امان ورکړو او معاف يې کړو په اسلام باندې په داسې حالت کې مشرف شو چې ښځه يې تر ده څخه وړاندې په اسلام مشرفه شوې وه رسول الله ﷺ ددوی زړه نکاح په ځای پريښوده .

سهيل بن عمرو

دا هغه کس وو چې د رسول الله ﷺ سره يې په صلح حديبية کې د مشرکينو له لوري نه ليکل وکول دی وايي چې کله رسول الله ﷺ مکه فتح کړه زه خپل کور ته لاړم او په ځان پسې مې دروازه بنده کړه او ډير زيات ډاريدم ځکه زه هغه کس وم چې د رسول الله ﷺ او د صحابه وو په ذهن کې مې د

دښمني يو خاص ځاى درلود د بدر په جنګ کې شريک وم ، د احد په جنګ کې شريک وم او په حديبية کې مې د ټولو مشرکينو نمايندګي کوله دا هرڅه مې په ياد وو او په کور کې‌ناستم بيا مې عبد الله (دده زوى وو) ته وويل چې د رسول الله ﷺ نه زما لپاره امان وغواړه هغه چې لاړو رسول الله ﷺ ته يې وويل زما پلار ته تاسې امان ورکوئ؟ هغه ﷺ ورته وويل هو هغه د الله ① په امن کې دى ځان د را ښکاره کړي بيا يې شاو خوا ناستو خلکو ته وويل څوک چې د سهيل بن عمرو سره مخامخ شي هغه ته د بد نه ګوري هغه د ښه عقل او ښه شرف خاوند دى د سهل په شان څوک د اسلام نه جاهل نه پاتې کيږي او اوس هغه هم پوه شو چې څه ده کول ده ته يې ګټه ونه کوله .

عکرمه بن ابي جهل

د ابو جهل زوى وو هغه کسان چې د اسلام او مسلمانانو سره يې جنګ کولو دده نوم پکې تر ټولو زيات ځلېدو کله چې مکه فتح شوه هغه يمن ته وتښتېدو ښځه يې ام حکيم راغله رسول الله ﷺ ته ويل هغه لتا څخه يمن ته تښتېدلى دى هغه ډاريږي چې ته به يې مړ کړې هغه ته امان ورکړه رسول الله ﷺ ورته ويل هغه ته امان ورکړل شوى دى ام حکيم چې دا خبره واوريده خوشحاله شوه او د خپل خاوند عکرمة بن ابي جهل په لټون کې

ووتله هغه يې چې پيدا کړو هغه ته يې وويل ځان خلاص کړه
عکرمه ورته وويل : څه وکوم .
ام حکيم ورته ويل : لا اله ا لا الله ووايه
عکرمه ورته ويل : د همدې نه خو زه را تښتېدلى يم .
ام حکيم ورته ويل: گوره زه درته د داسې چا څخه راغلى يم چې ډېر غوره دى او مهربان دى اى د تره زويه گوره خپل ځان په هلاکت کې مه غورځوه ما درته د رسول الله ﷺ نه ا مان غوښتى دى هغه تاته امان درکړى دى .
عکرمه ورته ويل: تا رښتيا له هغه څخه ماته امان اخستى دى؟
دې ورته ويل : هو ما ورسره خبرې کړې دي هغه تاته امان درکړى دى .
ددې خبرې سره هغه مکې ته را روان شو کله چې را نېږدې شو رسول الله ﷺ د معجزې په ډول خپلو ملگرو ته وويل عکرمة راځي او اسلام قبلوي دده پلار (ابو جهل) ته ښکنځل مه کوئ مړيو ته ښکنځل ژوندیو ته ضرر رسوي او مړيو ته نه رسيږي .
عکرمه د خپلې ښځې نه جماغ و غوښته هغې ورته ويل : دا اوس نشي کېداى زه مسلمانه او ته کافريې .
عکرمه وويل: کوم شى چې تا اوس له ما څخه منع کوي دا ډېر لوى شى دى .
کله چې رسول الله ﷺ عکرمه وليد زيات ورته خوشحال شو او ور ټوپ يې کړل پداسې حالت کې چې

څادر مبارک يې هم په اوږو نه وو دهغه هرکلی يې وکولو بيا رسول الله ﷺ کېناستو عکرمه او ام حکيم ورته ولاړ وو.

عکرمة ورته ويل : دې ماته وويل چې تا ماته امان راکړی دی .

رسول الله ﷺ ورته ويل : هو دا رښتيا وايي تاته مونږ امان درکړی دی .

عکرمه ويل: نو بيا ما څه ته در غواړې؟

رسول الله ﷺ ورته ويل : دا چې ته ددې ګواهي ورکړې الله يو دی شريک نه لري او زه د الله رسول يم او دا چې ته زکات ورکړې او مونځ وکوې دا وکوې دا وکوې.... د اسلام ارکان يې ورته پوره کړل .

عکرمة وويل : دا خو ماته ډېر ښه شي ته در غواړي او دا ښه کار دی بيا عکرمة کلمه وويله رسول الله ﷺ چې دده له خولې څخه کلمه واورېده زيات پرې خوشحال شو .

عکرمه وويل : زه د ذکر پر ځای څه وايم ؟

رسول الله ﷺ ورته کلمه مبارکه ياده کړه چې دا وايه .

عکرمه وويل : ای رسول الله ﷺ زما لپاره دهغه څه بښنه وغواړه چې ما لتا سره کړي دي ستا دښمني مې کړېده ستا په خلاف مې جنګ کړی دی او ستا په مخامخ او يا په غياب کې مې په تا پسې خبرې کړي دي .

رسول الله ﷺ په همدې ځای له الله ① ورته ددې ټولو ياد کړل شويو څيزونو بښنه وغوښته .

عکرمة وويل : په الله باندې راضي يم چې زما رب دی ددېنه وروسته څومره مصرف چې ما د اسلام په ضد کې کړی دی اوس به زه دهغه دوه چنده په اسلام کې کوم او څومره جنګونه مې چې د اسلام په ضد کې کړي دي اوس به يې دوه چنده د اسلام د ترقي لپاره کوم او په ښه طريقه اسلام يې قبول کړو او و جنګېدو تردې چې شهيد شو .

فضاله بن عمر الليثي

دا هغه کس وو چې د فتح نه وروسته يې د رسول الله ﷺ د قتل اراده کړې وه رسول الله ﷺ پدې وخت کې د کعبې نه طواف کولو دی ورغلو رسول الله ﷺ ورته وويل فضالة يې؟ ده ورته وويل هو فضالة يم رسول الله ﷺ ورته ويل په زړه کې دې څه خبرې کولې؟ ده ورته وويل څه مې هم نه کولې صرف ذکر مې کولو رسول الله ﷺ ورته و خندل او ويې ويل استغفر الله .... بيا يې په سينه باندې لاس ور کېښود فضالة فرمايي چې ده څنګه خپل لاس زما له سينې څخه پورته کړو ددېنه وروسته په دنيا کې تر هرڅه نه محبوب شی ماته رسول الله ﷺ وو .

غزوة حنين



کله چې الله ① مسلمانانو ته د مکې په فتح باندې عزت ورکړو نو په عربو کې ورو قبائلو د اسلام په وړاندې د تسليم د سر د ښکته کولو نه بغير بله لاره پيدا نه کړه او په خپله خوښه يې اسلام ته غاړه کېښوده او د رسول الله ﷺ په حضور کې به ډلې ډلې حاضرېدل او په اسلام به مشرف کېدل لکن هغه قبيلې چې هغه لويې وې او ځان ته يې د فخر په سترګه کتل تر اوسه پورې يې په زړه کې دا خبره وه چې که دوی د رسول الله ﷺ سره مقابلې ته وړاندې شي دوی ميدان ګټلی شي لکه د هوازن او ثقيف قبيلې ، او همدارنګه

نَصْرٌ او جُشَمٌ او سعد بن بکر او د بني هلال څه خلک او داسې نور مالک بن عوف النصري ته را ټول شول هغه ته يې وويل چې مونږ غواړو د مسلمانانو د فتوحاتو لړۍ زمونږ لوري ته را اوږده نه شي ددې امله مونږ له دوی سره ستا تر مشري لاندې جنګ کول غواړو هغه هم ورته وويل ډېره ښه ده د جنګ تياري وکوئ .

د کفارو لښکر

د مالک بن عوف النصري په مشري کې ۳۰۰۰۰ ډېرش زره کسان جنګيالي را ټول شول او د مسلمانانو سره د جنګ لپاره وادي اوطاس ته راغلل (په پورتنۍ نقشه کې ښکاره کړل شوېده) او دوی په داسې حالت کې راغلل چې خپل واړه او ښځې يې هم له ځان سره را روان کړي وو .
دوی چې په وادي اوطاس کې وو يو سپين ږيری شپونکی هلته وو چې دُريد بن الصُمة نومېدو هغه وويل چې دا اوازونه د څه شي دي دلته په دښته کې د خرو اوازونه ، د اوښانو، د ماشومانو د ژړا او د مېږو د بغېدلو اوازونه څه کوي؟ چا ورته وويل مالک بن عوف النصري د جنګيالو سره دهغه ټول مالونه او کورونه را روان کړي دي ده مالک پيدا کړو او ورته يې وويل : دا هرڅه د د څه لپاره را روان کړي دي؟ ده ورته وويل زه غواړم چې د هر جنګيالي شا ته دده مال او اهل کېږدم چې دهغه څخه جنګ او دفاع وکوي دُريد ورته ويل دا ښه نظريه نه ده ځکه که ته

ميدان و گټې نو بيا دې هم صرف هغه کس په کار کيږي چې توره او نيزه يې په لاس کې وي او که ته يې بايلې نو بيا خو دا اهل زنانه او ماشومان هم ټول په خطر کې شول دا رايه ښه نه ده دوى له ځان څخه ستانه کړه او صرف جنگيالي درسره جنگ ته وړاندې کړه لکن هغه ددې تجربې لرونکي شخص خبره ونه منله .

د کفارو جاسوسان

مالک څه کسان را ولېږل چې د مسلمانانو جاسوسي وکوي او د هغوى د جنگي کسانو د شمېرې او سلاح په اړه خبرونه راوړي هغوى بېرته پداسې حالت کې راغلل چې حالات يې خراب وو او هېڅ معلومات ورسره نه وو ده ترې پوښتنه وکوله : خوارشئ څه درباندې وشول؟ دوى ورته وويل مونږ په لاره کې سپين سپين کسان وليدل چې په برگو آسونو باندې سپاره وو او مونږ يې نه پرېښودو چې لاړ شو او د هغوى خبر تاته راوړو .

د کفارو د لښکر حال معلومول

رسول الله ﷺ ته چې د دښمن د راتلو خبر ورغلو نو حضرت ابا حَدرَد الاسلمي يې ور ولېږلو او ده ته يې وويل ته به لاړ شې د دوى په مينځ کې به ور ننوزې او چې ښه په هرڅه باندې پوه شوې بيا به بېرته ترېنه راشې او خبر به يې راوړې هغه همداسې وکول او هلته يې په هرڅه باندې ځان

پوه کړو او بېرته راغلو رسول الله ﷺ ته د هغوی د شمار وسائلو او هرشي په اړه خبرې وکولې .

اسلامي لښکر د وادي حنين په لور روانېدل

د هجرت په آتم کال د شوال په ١٦ مه د شنبې په ورځ رسول الله ﷺ د ١٢٠٠٠ کسانو مجاهدينو سره د حنين په طرف روان شو پدې کې ١٠٠٠٠ کسان هغه وو چې د مکې په فتح کې يې ګډون کړی وو او ٢٠٠٠ ورسره نور کسان وو چې دفتح نه وروسته له مسلمانانو سره يو ځای شوي وو د صفوان بن امية څخه يې ١٠٠ زغرې او نور جنګي سامان د امانت په توګه و غوښتل په مکه مکرمه کې يې حضرت عتاب بن اسيد پرېښودو او مسلمانان له مکې نه ور ووتل .

دا شپه په لاره کې راغله رسول الله ﷺ ته يو کس راغلو ويل يې زه لوړ ځای ته وختلم ما وليدل چې دوی له ځانونو سره د دوی مالونه ښځې او ماشومان ټول را روان کړي دي رسول الله ﷺ ورته مسکی شو او ويې فرمايل ان شاءالله دا به سبا د مسلمانانو لپاره غنيمت وي .

د رسول الله ﷺ نظامي مهارت

پدې وتلو کې رسول الله ﷺ بيا خپل جنگي مهارت ښکاره کړو او يو څو داسې کارونه يې وکول چې په سرو زرو د ليکلو وړ دي .

١. رسول الله ﷺ ددې په ځای چې په مکه کې پاتې شي او د دښمن انتظار وکوي هغه مخې ته او دښتې ته ور ووتلو چې هلته ورسره جنگ وکوي د رسول الله ﷺ حکمت پکې دا وو که په مکه کې جنگ ورسره شروع کړي د مکې قريش اوس نوي مسلمان شوي دي لا يې اسلام په زړه کې پوره ځای نه دی نيولی هسې نه چې بېرته و گرځي او د ننه په مسلمانانو باندې شروع و کوي .

٢. هغه کسان چې نوي مسلمانان شوي دي ټول يې له ځان سره ملگري کړل هسې نه چې که په حنين کې مسلمانان ماتې وخوري دوی بيرته له اسلام نه و گرځي او مکه بېرته له اسلام نه بېله کړي .

٣. قريش يوه داسې قبيله وه چې خلک تېر زيات ډاريدل نو رسول الله ﷺ ټول نوي مسلمان شوي قريش له ځان سره ملگري کړل چې دهغوی په زړونو کې ددې امله هم رعب وغورځيږي چې ټول قريش يې ا وس ملگري دي .

٤. د رسول الله ﷺ په وس کې چې څومره طاقت وو ددې ټول طاقت سره جنگ ته وړاندې شول ځکه دهغه خوا نه رسول الله ﷺ ته معلومه وه چې ٣٠٠٠٠

دېرش زره کسان جنګ ته راغلي دي نو رسول الله ﷺ د ټولو خپلو ترتيباتو برسېره د صفوان بن امية څخه ۱۰۰ زغرې د نورو جنګي الاتو سره د امانت په ډول وغوښتې پدې وخت کې صفوان بن امية په مکه کې د اسلحې د مشهورو تجارانو له جملې نه وو لا تر اوسه په اسلام باندې مشرف شوی هم نه وو رسول الله ﷺ په خپله ترينه دا غوښتنه وکوله هغه ورته وويل : دا به لما څخه غصب کوی خو نه؟ رسول الله ﷺ ورته ويل نه امانت دی که کومه يوه ضائع شوه دهغې پيسې به تاته رسيږي پدې کې هم د رسول الله ﷺ حکمت دا وو چې د ده سره سلاح کمه کړي که څه غلط نيت يې په زړه کې راشي چې سلاح ورسره کمه وي نو ښه ده .

په لاره کې ځينو صحابه وو ﷺ ويل نن زمونږ تعداد ډېر زيات دی نن به مونږ د جنګياليو د کمښت له امله ماتې نه خورو دا خبره په رسول الله ﷺ باندې بده لګېدلې وه ځکه چې تکيه صرف د الله په مرسته باندې کول په کار وو نه په ډېر والي د کسانو دا خبره چې د دوی په خولو باندې راتله نو د دوی په زړونو کې هم وه او دا يو ډول تکبر ښکاره کوي نو ځکه دا خبره د الله ① او دهغه د رسول ﷺ خوښه نه شوه .

په شروع کې دم مسلمانانو ماتې

کله چې مسلمانان د حنين لور ته روان وو دوی ته معلومه نه وه چې کفارو ورته له مخکې نه کمينونه کېنولې دي او هغوی ته ويل شوي دي کله چې مسلمانان را روان وي نو تاسې به په يودم وربانديې داسې حمله وکوئ لکه يو کس چې حمله کوي دوی همداسې وکړل او په يو دم کفار را ښکاره شول د غيشو باران شروع شو او مسلمانان چې لا په لاره روان وو جنګ ته تيار نه وو د جنګياليو سره يو دم مخامخ شول نو مسلمانانو په شا را منډه کړه او هېڅوک نه پوهېدل چې څه کوي؟ کومې خوا ته لاړ شي خو صرف پدې پوهېدل چې بايد د دښمن سره په مخامخ ورنه شي صرف ۱۰ کسان د يو قول له مخې ۱۲ کسان يعني په زرو کسانو کې يو کس او د يوقول له مخې ۸۰ کسان صحابه جنګ ته ټينګ شول او په شا رانغلل ددې واقعې په اړه الله ① فرمايي :

سورة توبه آية ۲٥

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُدْبِرِينَ

ترجمه : الله ① لتاسې سره په ډېرو ځايونو کې مرسته کړېده او د حنين په ورځ چې تاسې خپل ډېر والي ته خوشحال وئ لکن ستاسې ډېر والي

لتاسې نه هېڅ شی دفع نه کړل او په تاسې باندې زمکه سره د فراخ والي تنګه شوه او تاسې په شا باندې را منډه کړه .

د ماتې په وخت کې د نويو مسلمانانو عکس العمل

پدې وخت کې چې د جنګ شروع وه مسلمانانو يو ډول ماتې وخوړه له مسلمانانو سره هغه کسان هم تللي وو چې نوي مسلمان شوي وو دهغوی حالونه مختلف وو ځينو يې سم د لاسه بېرته خپل کفر ښکاره کړو او ځينو يې په ماتې خوشحالي ښکاره کړه د مثال په ډول .
کلدة بن حنبل چې بيا وروسته په خپل اسلام بېرته ټينګ شوی دی پدې وخت کې يې ويل نن به سحر ماتې خوري يعني هغه په ښکاره سره اګر که اسلام اعلان کړی وو لکن په زړه کې يې تر اوسه پورې عقيده وه چې رسول الله ﷺ ساحر دی (العياذ بالله) .
شيبة بن عثمان چې د مسلمانانو په صف کې دمسلمان په صفت وتلی وو په حنين کې چې کله حالت سخت شو نه صرف دا چې خپل کفر يې ښکاره کړو بلکه د رسول الله ﷺ د قتل ناکام کوښښ يې وکولو (دا هم بيا وروسته سم مسلمان شوی دی)
ځينې يې داسې وو چې د مسلمانانو په ماتې يې خوشحالي ښکاره کړه لکه ابو سفيان چې پدې وخت کې يې اسلام لا په زړه کې پوره ځای نه وو نيولی

ويل يې اوس به دې دا ماتې تر بحر احمر نه وړاندې پای ته ونه رسيږي .

او ځينې يې داسې وو چې هغوی سره ددې چې نوي مسلمان شوي وو په خپل اسلام باندې ټينګ ودرېدل لکه عکرمة بن ابي جهل هغه وويل چې رسول الله ☸ په حقه دی په جنګ کې ماتې يا کاميابي دا د بيت الله څخه دي (دده مطلب دا وو چې د الله له لوري نه دي) .

سهيل بن عمرو چې دده دا خبره واورېده هغه ورته حيران شو هغه ورته ويل ستا او دده ☸ د مخالفت وخت خو اوس ختم شوی دی؟ يعني ستا د اسلام خو تر اوسه پورې دوه هفتې هم نه دي پوره شوې ته څنګه داسې ټينګ يقين کولی شې چې دا په حقه دی .

عکرمه ❽ ورته وويل هغه وخت کې مونږ په غلطه روان وو صرف د کاڼي عبادت به مو کولو مونږ ته يې هېڅ فايده او نقصان نشوای راکولی تش کاڼي وو.

د رسول الله ☸ نه ټول خلک و تښتېدل رسول الله ☸ خپل تره حضرت عباس بن عبد المطلب ❽ ته وويل چې په زوره اواز وکړه هغه کسان را وغواړه چې د صلح حديبيې په وخت کې يې زما سره د نه تښتېدلو بيعت کړی وو او دهغه بيعت کونکو په اړه الله تعالی فرمايلي وو چې دوی له اخلاصه او په پاکه اراده باندې بيعت کړی وو نو حضرت عباس ❽ په زوره چيغه کړه ای هغه کسانو

چې تر ونه لاندې مو د رسول الله ﷺ سره بيعت کړی وو ای په صلح حديبه کې شريکو کسانو ای انصارو ای د الله ① او دهغه د رسول سره مرسته کونکو کله چې دوی دا اواز واورېدو په يو ا واز يې چيغه کړې لبيک لبيک او د رسول الله ﷺ لوري ته يې رامنډه کړې .

د دوی نه وړاندې د رسول الله ﷺ سره يو څو صحابه چې :

أبو بكر الصديق.

عمر بن الخطاب.

علي بن أبي طالب.

عباس بن عبد المطلب .

أبو سفيان بن الحارث بن عبد المطلب.

ربيعة بن الحارث بن عبد المطلب.

الفضل بن العباس.

أيمن بن عبيد، وهو ابن أم أيمن.
أسامة بن زيد، رضي الله تعالى عنهم أجمعين.

يکې وو را تاو شوي وو او د حضرت عباس ❽ د اوازونو د کولو نه وروسته شاوخوا سل کسان ترينه را چاپېر شوي وو او اوس جنګ په سختۍ سره شروع شو د رسول الله ﷺ له لوري نه سل کسان په پوره مېړانه سره جنګېدل رسول الله ﷺ د خاورو يو موټی را واخيستو اود کفارو مخونو ته يې ور

وشيندلو او ويې فرمايل شاهت الوجوه الله ①
دهغه يو موټي نه د هر كافر مخ او ستركو ته څه
برخه ور ورسوله او جګړه ورو ورو په ګرمېدو
شوه لكه باران اول د يو يو څاڅكي نه شروع او
بيا سخت طوفان ترې جوړ شي د حنين په ميدان كې
تر ټولو وړاندې د زړور قائد ☸ مقاومت بيا د
لسو يا دولسو كسانو ټېنګدل بيا د سلو كسانو
ورګرځېدل وو بيا د ټولو صحابه وو په زړونو كې
د جنګ جذبه را وپارېده او ټولو د جنګ لور ته
مخه كړه د دواړو ډلو په مينځ كې د جنګ لحظې
سختې شوې.

د كفارو ماتې خوړل

د يو څه وخت سخت جنګ نه وروسته د كفارو لښكر
ماتې وخوړه او په منډه يې شروع وكوله الله
تعالى له مسلمانانو سره خپل نصرت ملګرى كړو
او دوى ته يې كاميابي ور په برخه كړه كفارو
منډې وهلې مالونه او هر شيان حتى چې خپلې
ښځې يې پرېښودلې او دوى تښتېدل سره ددې چې
دوى د ٢٥٠٠٠ څخه تر ٣٠٠٠٠ پورې جنګيالي كسان
وو، او په ښو اسبابو باندې مجهز وو بيا هم د
مسلمانانو سره جنګ ته ټينګ نه شول او د ماتې
سره مخ شول .

عيني شاهد

عمرو بن سفيان الثقفي يو له هغه کسانو څخه وو چې د حنين په ورح په منډه تښتېدلی وو دی وايي مونږ ډېر سخت ډار شوي وو مونږ په داسې حالت کې منډې وهلې چې مونږ فکر کاوه چې هر کانی او هره ونه په آس سپور جنګيالی دی او مونږ را نيسي .

د کفارو لښکر چې ډېر زيات وو هرڅه ترې ګډ وډ شول او نه پوهېدل چې څه وکوي په دريو برخو وويشل شو يوه ډله يې په غير منظمه توګه وادي اوطاس ته وتښتېدل په پورتنی نقشه کې ښکاره کړل شوېده .

يوه ډله يې د جزء النخلة نومي ساحې ته و تښتېدل او لويه برخه يې طائف ته و تښتېدل پدې کې د دوی مشر مالک بن عوف هم وو مسلمانان هم په دريو برخو وويشل شول يوه ډله وادي اوطاس ته پسې ولېږل شول يوه ډله ذات النخله ته پسې واستول شول او يوه ډله يې چې رسول الله ﷺ هم پکې وو او لويه برخه دا وه د طائف لوري ته يې د مشرکينو د لښکر په تعقيب مخه کړه.

د عربو په تاريخ کې تر ټولو زيات غنيمت

د دوی نه پاتې مالونه په وادي جعرانه چې د حنين سره نېږدې وه هلته را ټول کړل شول د عربو په تاريخ کې په يوه وخت تر ټولو نه زيات غنيمت وو رسول الله ﷺ د شپې رښتيا ويلي وو چې د دوی مالونه سبا ټول د مسلمانانو په لاس کې غنيمت دی داسې ښکاره کېده لکه مالک بن عوف چې هرڅه د مسلمانانو لپاره راوړي وو

په غنيمتونو کې شپږ زره ٦٠٠٠ ښځې بنديانې وې.

تر ٢٤٠٠٠ څلورويشت زره څخه زيات اوښان وو.

څلويښت زره ٤٠٠٠٠ مېږې وې .

١٥٠ کيلو سپين زر وو .

او نور هم ډول ډول مالونه او اسلحې په غنيمت نيول شوي وو .

رسول الله ﷺ چې دا ټول غنيمتونه را ټول کړل په همدې وادي کې يې پرېښودل او ويې ويل چې کله له طائف نه بېرته را وګرځو بيا به ددې غنيتمونو تقسيم کوو او دلته يې اوس د صحابه وو يوه ډله پرېښوده چې ددې غنيمتونو ساتنه به کوي .

د غزوة حنين ځاني تلفات

سره ددې چې ګمان کېدو چې کله د ۳۰۰۰۰ کسانو فوځ د ۱۲۰۰۰ کسانو سره مخامخ شي کېداى شي مړي او شهيدان تر شمار لاندې را نشي لکن بيا هم د مسلمانانو له لوري نه صرف ٥ کسان په شهادت ورسېدل او د کفارو له لوري نه ۷۰ کسان ووژل شول جنګ د مسلمانانو په کاميابي او د کفارو د شرم نه په ډکه تېښته پاى ته ورسېدو او رسول الله ﷺ د دوى په تعقيب باندې طائف ته لاړو چې هلته دوى محاصره کړي او لا نور ښه درس ورته ورکړي .


د غنيمتونو تقسيم

د طائف غزا وروسته را روانه ده لکن کله چې رسول الله ﷺ له طائف نه راستون شو وادي جعرانة ته راغلو او په لويه پيمانه را ټول شوى غنيمت يې تقسيم کړو هر چا ته يې پکې برخه ورکړه ډيره برخه يې پکې نويو مسلمانانو ته ورکړه ترڅو يې اسلام نور هم په زړه کې ننوزي او د شاو خوا نه کوچيانو او باندچيانو په رسول الله ﷺ باندې بيربار جوړ کړو د رسول الله ﷺ نه يې مالونه غوښتل رسول الله ﷺ ټول تقسيم کړو دخپل حکمت مطابق يې انصارو ته پکې برخه ورنه کړه هغوى خفه شول او له يو بل سره يې پدې اړه

خبرې کولې چې په دومره لوى غنيمت کې زمونږ برخه ولې ونه شوه؟ دا خبرې رسول الله ﷺ ته ورسېدې هغه را ټول کړل او ډېر خبرې يې ورته وکولې بالآخره يې ورته وويل اى انصارو ستاسې خوښه نه ده چې لدې ځاى نه به ځينې خلک اوښان او ځينې په مېږې بيايي او تاسې به له ځان سره رسول الله ﷺ خپل ځاى ته بېرته بوزئ ؟ دوى ټولو داسې وژړل چې ږيرې يې په اوښکو لندې شوې بيا يې ويل صحيح ده زمونږ خپل رسول الله ﷺ په خپله برخه کې خوښ دى نورمونږ هېڅ نه غواړو بيا رسول الله ﷺ انصارو دهغه زامنو او دهغه د زامنو زامنو ته د خير دعا وکوله .



غزوة الطائف



کله چې په حنين کې فتح د مسلمانانو په قسمت شوه نو مالک بن عوف په تېښته باندې طائف ته ورسېدو او هلته په قلا کې ننوتل او د يو کال خوراکه يې هم له ځان سره ننه ايستله بيا مسلمانان پسې ور ورسېدل او قلا يې محاصره کړه د دواړو ډلو تر مېنځ په غيشو جنګ کېدلو ا و مشرکينو بيا ددې توان په ځان کې نه ليدو چې ميدان ته را وزي او له مسلمانانو سره جنګ وکوي نو مسلمانانو طائف محاصره کړو او هلته ورته ډېره شول د مسلمانانو فوځ پدې وخت کې ۱۲۰۰۰ کسان وو که مشرکين جنګ ته راوتلي واى نو ښه جنګ به شوى وو ځکه د کفارو تعداد له

مسلمانانو څخه څو چنده زيات وو لكن الله ① دهغوى په زړونو كې وېره ور اچولې وه او جنګ ته تر آخره پورې را ونه وتل او غيشې به يې ويشتل پدې وخت كې ١٢ كسان مجاهدين ﷺ چې عبد الله بن ابي بكر رضى الله تعالى عنهما هم پكې وو په شهادت ورسېدل .

د مسلمانانو لپاره سخت كار دا وو چې د دوى غيشي په هغوى باندې نه لګېدل ځكه هغوى په قلا كې ځان پټولو او د هغوى غيشي په مسلمانانو باندې لګېدل .

حضرت حباب بن منذر ❽ رسول الله ☸ ته مشوره وركړه چې مسلمانان بايد د طائف له قلا نه دومره لرې خپل مركز جوړ كړي چې د كفارو غيشي ور ونه رسيږي دا مشوره ښه وه ددېنه وروسته مسلمانان هم په امن كې شول او بيا يې هم طائف په محاصره كې ساتلى وو .

د سلمان فارسي❽ جنګي مهارت

سلمان فارسي ❽ چې ښكلې جنګي تجربه درلوده او په غزوة خندق كې خندق هم دده مشوره وه يوه زانګوډوله لينده يې جوړه كړه چې دهغې په واسطه يې په لويو لوي كانو باندې د طائف د خلكو قلا وويشته دا تجربه كاميابه وه او پدې سره د قلا په يوطرف كې لاره وشوه لكن دا چې اوس به قلا ته مجاهدين څنګه نېږدې ورځې چې هغوې يې له پاسه په غېشو ولي نو ددې حل هم سلمان

فارسي ❽ را وويستلو چې د لرګيو واړه واړه ټانګونه يې جوړ کړل تر هغه لاندې به مجاهدين قلا ته نيږدې ورځي او د دښمن غيشي به په دوی نه لګيږي مجاهدين چې کله ننوتلو ته نيږدې شول نو دهغه خوا نه هغوی په داسې غيشو ويشتل شروع کړل چې په سر کې يې اور وو نو دې کار مجاهدين بېرته را شاته کړل .
مسلمانان پدې لاره هم قادر نه شول چې دوی له خپلو کورونو څخه د جنګ ميدان ته را وباسي نو يې په هغه باغونو باندې شروع وکوله چې تر قلا تاو شوي وو او دهغې له بېخ نه وېستل او سوزول يې شروع کړل ترڅو کفار تسليم کېدو ته اړ شي او يا جنګ ته را ووزي چې فيصله وشي دهغه خوا نه کفارو ورته را چيغه کړې دا باغونه او مالونه مه تباه کوئ يا به ستاسې شي که تاسې په مونږ غالب شوی او يا يې د الله ① لپاره پرېږدئ او د خپلولي لپاره يې پرېږدئ بيا رسول الله ☸ هغه باغونه پرېښودل او ويل يې د الله او د خپلولي له امله يې پرېږدو دا خبره دوی ځکه کوله چې د رسول الله ☸ دمور له لوري نه يوه نيا د ثقيف قبيلې څخه وه (کومه چې په طائف کې لويه قبيله وه) دا ښځه هند بنت يربوع الثقفية وه او د رسول الله ☸ پنځمه انا (نيا) وه .

د غلامانو لپاره ازادي اعلانول

اوس هېڅ لاره نه وه چې دوی له خپلې قلا او له لوړو دېوالونو څنګه را وباسي يو حکمت عملي رسول الله ﷺ دا وکولو چې اعلان يې وکولو هر غلام چې د قلا نه مونږ ته را وزي هغه به ازاد وي د غلامانو لپاره دا يوه ښه د خوشحالۍ خبره وه ټولو صحابه وو ور چغې کړې د هرې خوا نه چې کوم غلام مسلمانانو ته را وزي هغه به ازاد وي او پدې وخت کې په عربو کې د غلامانو تعداد ډېر زيات وو نو ترڅو چې د قلا د ننه خلک او مشران خبرېدل او په غلامانو باندې لارې بندولې نو ۲۳۰۰۰ شاوخوا غلامان د طائف له خلکو نه مسلمانانو ته را وتښتېدل بيا هغوی په لارو کې خپل سړي و درول او ټولې لارې يې بندې کړې پدې غلامانو کې د مسلمانانو څو فايدې وې.

۱. دا غلامان به ازاد او مسلمان شي دا د دوی د دنيا او آخرت لپاره په ګټه خبره ده .

۲. پدې غلامانو سره به د مسلمانانو لښکر زيات شي .

۳. دا غلامان چې بهرته را وزې کېدای شي دوی د مسلمانانو سره په لارښونه کې مرسته وکولی شي او دوی ورته ډول ډول معلومات له ځان سره راوړل او يوه لويه خبره دا وه چې په طائف کې د ننه دوی د خوراک دومره ذخيره لري چې که يو او يا څو کلونه دوی محاصره وساتل شي بيا هم د دوی خوراک د دوی لپاره بس دی .

دا معلومات مسلمانانو ته ځکه ډېر مهم وو چې مسلمانانو خپل ژونديې دلته نشواى تېرولى او له مدينې څخه مسلمانان پداسې حالت کې را وتلي وو چې په مدينه کې يې د ښځو او ماشومانو د ساتنې لپاره صرف يو څو کسان پرېښي وو او دلته مېشته کسان ټول اسلام ګڼل کېدو داسې هم نه وو چې د لښکر يو څه برخه بل ځاى وي نو اسلامي لښکر ته نور مسئوليتونه هم ور په غاړه وو هلته د مکې خلک نوي مسلمانان شوي وو هسې نه د موقع نه په استفادې سره بېرته بغاوت وکوي، د مدينې منورې په ماحول کې قبائل وو هسې نه چې په مدينه حمله و کوي، په وادي جعرانة کې په لوى تعداد غنيمتونه پراته دي تقسيم غواړي او داسې نور ضروري کارونه په سر پاتې وو چې کول يې غوښتل .

تر يوڅه وخته يې د طائف محاصره وساتله چې تقريباً تر ٤٠ ورځو پورې وه او د لا زيات د دوى په محاصره کې ساتل بې فايدې وو او پدې ٤٠ ورځو کې دا خبره ښه ښکاره شوه چې کفار نور ددې نه وتلي دي چې مسلمانانو ته دې په ميدان کې مخامخ شي او بله لويه فايده د زرګونو غلامانو اسلام او ازادي وه رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره او د يو داسې صحابي سره چې ښه جنګي تجربه يې درلوده پدې اړه مشوره شروع کړه چې اوس څه وکوو؟ که همدلته پاتې شو او اهل الطائف په محاصره کې وساتو څه فايده يې شته او کنه ؟

دا تجربه لرونکی صحابي څوک وو؟ عجيبه ده چې دا هغه کس وو چې نوفل بن معاوية الديلي ❽ نوميدو دا هغه کس وو چې د بني خزاعة قبيلې نه يې د يو کس په وژنه کې برخه اخيستې وه او لويه ونډه يې وه او دا هغه کس وو چې دده په سر د حديبيې تړون مات شو او همدا کس وو چې دده له امله د مکې فتح وشوه او همدا هغه کس وو چې د اسلام سره يې په زړه کې زياته او بې ساري دښمني وه هغه اوس مسلمان شوی دی او د رسول الله ☸ په هغه کسانو کې دی چې په جنګي ځايونو کې دده مشوره غواړي او هغه اوس د قريشو سره د حليف په ځای مسلمان دی او د خيانت په ځای اوس امانت ښکاره کوي د اسلام د دښمني په ځای اوس د رسول الله ☸ په صحابه وو کې شريک دی رسول الله ☸ دده څخه وپوښتل چې ستا څه رايه ده مونږ دا محاصره همداسې روانه وساتو که د طائف له خلکو سره څه وکوو؟ هغه چې ښه تجربه درلوده رسول الله ☸ ته وويل : ای رسول الله ☸ د دوی مثال اوس دهغه ګيدړ دی چې په سوري کې د ننه حصار کړل شوی وي که ورته صبر وکوې را وبه يې نيسې او که يې پريږدې نو تاته څه ضرر نشي رسولی .

د طائف محاصره پای ته رسول

رسول الله ﷺ ددې مشورې د آورېدلو نه وروسته حضرت عمر ❽ ته وويل په خلکو کې اواز وکوه چې مونږ سبا ددې ځای نه ځو په وادي جعرانة کې مو چې د حنين د غزا نه پاتې غنيمتونه نيولي دي دهغې ويش او تقسيم به کوو .

مسلمانانو مجاهدينو چې دا اواز واورېدو خوشحالي يې ښکاره نه کړه او ويې نه ويل چې ښه ده اوس په غنيمتونه واخلو بلکه رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته يې ويل : مونږ به بغير د فتح نه ځو؟ رسول الله ﷺ د دوی پدې جذبه خوشحال شو او دوی ته يې وويل جنګ ته ځان تيار کړئ سبا يې اجازه ورکړه چې جنګ وکوي لکن ددې جنګ نه هم مسلمانانو ته نقصان زيات شو رسول الله ﷺ بيا اعلان وکولو چې سبا ځو .


پدې ځل مسلمانانو د تللو تياری شروع کړو او هېچا هم ونه ويل چې د فتح نه بغير به ولې ځو ځکه مسلمانان پدې پوه شول چې کفار په محفوظ ځای کې دي جنګ ورسره کول د مسلمانانو په نقصان تماميږي مجاهدينو د تللو تياری کولو رسول الله ﷺ دوی ته کتل او ورته خندل يې .

د طائف نه روانېدل شروع شول صحابه چې ډېر زيات پدې غصه وو چې دومره وخت مو تېر کړو بيا هم ونه توانېدو چې د زړه د خلاصه جنګ وکوو او يا طائف فتح کړو نو رسول الله ﷺ ته يې ويل چې ثقيف په طائف کې موجوده قبيلې ته ښېرا وکوه .

رسول الله ﷺ وویل : ای الله ثقیف ته هدایت وکوه او مسلمان یې کړه.

او رسول الله ﷺ لاړو په وادي جعرانة کې یې غنیمتونه تقسیم کړل د غزوة حنین په آخر کي یې تفصیل تېر شو .

غزوة تبوک



د هجرت په نهم کال کې هغه وخت واقع شوه کله چې مسلمانانو د هجرت په آتم کال کې مکه فتح کړه رومیان چې له وړاندې یې د مسلمانو سره تاو تریخوالی درلود او د مسلمانانو سفیر حضرت حارث بن عمیر الازدي یې هغه وخت شهید کړی وو چې د رسول الله ﷺ له لوري یې هِرقل ته لیک ور وړی وو نو اوس یې فکر کاوه چې تراوسه پورې چا هم د روم د خلکو مقابله نشوای کولی او مسلمانان خو ورو ورو زیاتیږي پدې سره د رومیانو بادشاهي او په علاقه باندې واکمني په خطر کې ښکاره کېده نو هغوی کوښښ وکولو چې یو د اسې فوځ را ټول کړي چې اسلام وربانده ي د بیخ نه وباسي پدې نیت یې ٤٠٠٠٠ څلوېښت زره

جنګيالي له روميانو او عربو قبيلو څخه را ټول کړل د شام نه چې کوم تجاران مدينې ته راغلل رسول الله ﷺ ته يې د روميانو ددې پروګرام په اړه وويل او ددې کسانو په اړه مدينې منورې ته خبرونه را ورسېدل پدې وخت کې منافقين په مدينه منوره کې زيات شوي وو او په خپل سر يې يو مسجد هم جوړ کړی وو خلکو ته به يې په نظر کې ورکول چې دوی پدې مسجد کې عبادت کوي لکن دوی به پکې ټولېدل او د خپل نفاق خبرې به يې کولې رسول الله ﷺ ته يې هم دعوت ورکړو چې راشئ زمونږ په جومات کې يو وخت مونځ اداء کړئ لکن رسول الله ﷺ ورته وويل چې وروسته د غزا نه کله چې رسول الله ﷺ له تبوک نه را وګرځېدو ددې په ځای چې مونځ پکې وکوي رسول الله ﷺ يې په ړنګولو باندې حکم وکولو او پدې جومات کې به منافقين ناست وو د روميانو د فوځ په اړه به يې زياتې دعوې ګانې کولې او روميانو ته يې هم د مدينې منورې د مسلمانانو او دهغوی د پروګرامونو په اړه ليکونه لېږل پدې خبرو سره مسلمانان يو څه په فکر کې شوي وو چې روميان خو زيات دي او که دا له مسلمانانو سره جنګ وکوي دا به څه کيږي .

تبوک ته د وتلو تياري

رسول الله ﷺ ته چې کله دا خبر را ورسېدو دا په اوړي کې سخت ترينه ګرمي وه په زمکه باندې اوبه وچې وې او سخت تېز لمر وو لکن ددې هرڅه سره د رسول الله ﷺ سره د دشمن مخې ته د وروتلو نه بغير بل هېڅ حل نه وو رسول الله ﷺ ټولو مسلمانانو ته اعلان وکولو چې ځانونه تيار کړي او که څوک تلی شي نو ټول به ځو او که څوک نشي تلی هغوی دې په خپلو مالي مرستو سره د مجاهدينو د لښکر مرسته وکوي له هرې خوا نه مجاهدين مدينې منورې ته را ورسېدل او تبوک ته د وتلو تياری شروع وو پدې وخت کې د سورت توبې څه آيتونه نازل شول چې مسلمانانو ته يې د جهاد او د الله په لاره کې د قربانۍ ورکولو ترغيبونه ورکول پدې غزا کې د مجاهدينو قرباني د هر يو کس بېله بېله په سرو زرو د ليکلو وړ وه حضرت ابو بکر صديق ؓ پدې وخت کې په کور کې ټول ٤٠٠٠ درهم لرل او هرڅه يې چې په کور کې وو را يې وړل رسول الله ﷺ ته يې ورکړل حضرت عثمان ؓ ډېر زيات نقدي کمک وکولو چې تقريباً ٣٠٠ اوښان پرې د هرڅه سره کېدل دا پيسې يې د رسول الله ﷺ په لمن مبارکه کې ور واچولې او رسول الله ﷺ پکې لاس وهلو او ويل يې : ددېنه وروسته که عثمان هرڅه وکوي ضرر ورته نه کوي

په همدې ډول د صحابه وو نارينه او ښځينه وو رسول الله ﷺ ته هغه څه ورکول چې د دوی په وس کې وو.

رسول الله ﷺ د ۳۰۰۰۰ کسانو مجاهدينو سره په سخته ګرمي کې را ووتلو څومره مسلمانان چې وو تول ورسره شول منافقين تول پاتې شول او په مسلمانانو کې صرف دری کسان پاتې شول محمد بن مسلمة او د يو قول له مخې سباع بن عرفطة يې په مدينه منوره کې خليفه پرېښود او رسول الله ﷺ حضرت علي ❽ په خپل کور کې خليفه پرېښود چې د زنانه وو ساتنه وکوي سره ددې چې ګرمي ډېره زياته وه، منزل ډېر ا وږد وو او له بله پلوه دښمن ډېر زيات او قوي وو ددې هرڅه سره سره مسلمانان په ډېره قوي جذبه له رسول الله ﷺ سره روان شول تردې چې تبوک ته ورسېدل

تبوک ته رسېدل

کله چې روميانو ته د ددې خبرو ورسېدو چې رسول الله ﷺ تبوک ته له خپلو غازيانو سره يو ځای را ورسېدو او اوس صرف د دوی د ورتلو انتظار کوي دا اواز د روميانو لپاره اسماني تندر شو او دهغه کسان تول په ښارونو کې يوې بلې خوا ته خپاره شول او د مسلمانانو د لښکر سره يې دمخامخ کېدو څخه ډډه وکړه او جنګ ته را وړاندې نه شول پدې وخت کې ډېرې عربې قبيلې وې چې د روميانو سره په تعهد کې وې هغو له

روميانو سره تعهد مات کړو او د رسول الله ﷺ سره يې تعهد او تړون وکولو ځکه دوی اوس پوهېدل چې په ساحه کې اوس لوی قوت د الله ﷻ او دهغه د رسول دی روميان چې تر اوسه پورې يې لويې خبرې کولې اوس هېڅ هم پکې نشته د مسلمانانو سره ميدان ته له راوتلو څخه عاجز شوي دي .

په تبوک کې د ډارن دښمن انتظار

په تبوک کې رسول الله ﷺ شل شپې تېرې کړې او خلکو ته يې ښه ښکاره کړه چې د اسلامي فوځ مقابله اوس څوک نشي کولی او که يې کولای شوای نو پدې شلو شپو کې به خامخا د دوی مخې ته څوک راوتلي وو او د مدينې منورې نه تر تبوک پورې د ۱۵ ورځو لاره ده نو پوره پنځوس ورځې وروسته رسول الله ﷺ بېرته مدينې منورې ته په داسې حالت کې راستون شو چې ښځې ماشومان او ټول پاتې خلک د اسلامي لښکر استقبال ته ور وتلي وو او دوی ته يې د لويې فتح مبارکي ويله رسول الله ﷺ په جومات کې دوه رکعته مونځ وکولو او بيا کېناستلو منافقين ورته راتلل او جهاد ته د نه وتلو په اړه يې عذرونه وړاندې کول رسول الله ﷺ هم په ښکاره سره د هرچا عذر آورېدلو او منلو يې او باطن يې ا لله ﷻ ته سپارلو .

لکه مخکې چې تېره شوه په دوی کې دری کسان مسلمانان هم وو چې هغوی جهاد ته له وتلو څخه پاتې شوي وو هغوی په لاندې ډول وو .

حضرت کعب بن مالک ❽

حضرت هلال بن ا مية ❽

حضرت مرارة بن الربيع ❽

دوی د رسول الله ﷺ په مجلس کې حاضر شول او ویې نه غوښتل چې د جهاد نه د پاتې کېدو په ګناه پسې د درواغو ویلو ګناه هم پسې کړي نو یې په ښکاره سره اعتراف وکولو چې هېڅ عذر نه وو بس پاتې شوو .

رسول الله ﷺ صحابه وو ته وویل چې د دوی سره به څوک خبرې نه کوي حتی چې خپل کور و اله به هم له دوی سره خبرې نه کوي صرف د هلال بن امية ښځه د رسول الله ﷺ په اجازه ورسره پاتې شوه ځکه هغه مشر سړی وو خدمت ته یې ضرورت وو د دوی سره تر پنځوسو ورځو پورې صحابه وو ﷺ خبرې ونه کولې ډېر زيات په تنګ شول بيا د دوی په اړه آيت نازل شو چې د دوی توبه قبوله شوه .

لنډيز

د رسول الله ﷺ غزاواتو ته لنډه کتنه

رسول الله ﷺ په خپله چې په کومو غزاواتو کې برخه اخيستې ده هغه ۲۷ دي او د يو قول له مخې ۲۸ دي چې هغوی عمرة القضاء هم د غزاواتو په جمله کې شماري مونږ يې تفصيل ددې سلسلې د کتابونو په دريم کتاب کې شروع کړی وو او دادي لږ وړاندې پای ته ورسېدو لنډيز ته يې ستاسې فام را ګرځوم .

(1) غزوة الأبواء (وَدّان)

د هجرت په دوهم کال د صفر په مياشت کې وه .

د مسلمانانو بيرغ د حضرت حمزه ❽ په لاس کې وو .

صرف مهاجر مجاهدين پکې وتلي وو هدف يې په ودان کې د قريشو د قافلې مخه نيول او په هغه ځای کې د ميشتو خلکو سره تړون کول وو چې دوی به له مسلمانانو سره جنګ نه کوي هېڅ ډول جنګ پدې غزا کې نه وو .

(2)غزوة بَواط ... (أبواط)

دهجرت په دوهم كال د ربيع الاول په مياشت كې وه
هدف ترېنه بواط سيمې ته رسېدل وو چې هلته د قريشو په تېرېدونكې قافله باندې چې د ۲۵۰۰ اوښانو څخه تشكيل شوې وه چاپه واچوي لكن قافله تېزه تېره شوې وه مسلمانانو را ګېر نه شواى كړلى .

(3)غزوة ذي العُشَيْرة

د هجرت په دوهم كال د جمادي الاول په مياشت كې وه .
د مسلمانانو بيرغ د حضرت حمزة ❽ سره وو .
په مدېنه كې ابا سلمة بن عبد الاسد المخزومي د خليفه په توګه پاتې وو .
هدف يې د قريشو د هغه قافلې مخه نيول وو چې د مكې نه د شام لوري ته روانه وه د ۲۰۰ كسانو په تعداد كې مهاجرين يې مخې ته ور وتلي وو ټول صحابه ﷺ په خپله خوښه وتلي وو .
قافله د مسلمانانو د ورتلو څخه وړاندې تېره شوې وه .

(4)بدر الأولى ..... (سَفَوان)

د هجرت په دوهم کال د جمادي الآخر په مياشت کې وه .
هدف يې د هغه مشرکينو مقابله کول وو چې د مدينې منورې په چاپېريال کې يې د مسلمانانو په مالونو حمله کړې وه او څه اوښان او مېږ ې يې بېولي وې رسول الله ﷺ دهغوی په طلب کې ووتلو او تر بدر پورې پسې لاړو لکن هغوی په تېښته بريالي شول .
پدې غزا کې د مسلمانانو جنډه د حضرت علي ❽ په لاس کې وه او رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې يې زيد بن حارثة د خپل خليفه په ډول پرېښی وو .

(5)غزوة بدر الكبرى

د هجرت په دوهم کال د رمضان په مياشت کې وه .
هدف يې د قريشو دهغه قافلې مخه نيول وو چې له شام څخه مکې ته روانه وه ابو سفيان د قافلې مشري کوله چې د مسلمانانو له وتلو نه خبر شو ل دمکې نه يې مرسته وغوښته له مکې نه ورته ۱۰۰۰ کسان راغلل قافله په امن سره تېره شوه او مسلمانان د قافلې په ځای د هغه جنګې کسانو سره مخامخ شول چې د خپلې قافلې د مرستې لپاره راوتلي وو .

د جنګ لپاره صفونه جوړ شول .
يو كافر د مسلمانانو د حوض نه ا وبه څښل غوښتل مسلمانانو هغه ووژلو .
بيا درى ، درى كسان جنګ ته را وړاندي شول دريو مسلمانانو درى واړه كافران ووژل او په مسلمانانو كې يو زخمي شو .
مشركانو په مسلمانانو باندي حمله وكوله مسلمانانو دفاع كوله بيا مسلمانانو د دوى په حمله باندي حمله ور وكوله .
ملائكو په ميدان كې د مسلمانانو مرسته وكوله .
د ٣١٣ مسلمانانو څخه ١٤ كسان شهيدان شول (ددې سلسلې په دريم كتاب كې يې نومونه او پېژندنه تېر شول)
د كفارو له لوري نه ٧٠ كسان ووژل شول او ٧٠ كسان يې ژوندي ونيول شول
د جنګ نه وروسته مسلمانانو درى ورځې په ميدان كې تېرې كړې بيا مدينې منورې ته ستانه شول .

(6)بني قَيْنُقاع

د هجرت په دوهم كال د شوال په مياشت كې وه .
د بني قينقاع د يهودو نه يو يهودي زرګر د يوې مسلمانې ښځې نه ټكرى وغورځولو چې د هغې مخ ښكاره شي هغې چغې كړې يو مسلمان ور ټوپ كړل يهودي يې مړ كړو بيا هغوى پرې را ټول شول مسلمان يې شهيد كړو بيا رسول الله ﷺ په دوى پسې ورغلو او دوى يې محاصره كړل تردې چې هغوى

د مديني پرېښودلو ته غاړه كېښوده او له مديني نه ووتل .

(7)غزوة قرقرة أو قرقة الكُدْر ... (بني سُليم)

د هجرت په دوهم كال د شوال په مياشت كې وه . د بني سليم او غطفان قبيلو كسان را ټول كړي وو غوښتل يې په مدينه باندې حمله وكوي رسول الله ﷺ پسې ورغلو هغوی چې د مسلمانانو له ورتلو څخه خبر شول و تښتېدل .

(9)غزوة غطفان ... (ذي أَمَر)

د هجرت په دريم كال د محرم په مياشت كې وه هدف يې د هغه مشركينو سره جنګ كول وو چې د غطفان قبيلې نه را ټول شوي وو په مدينه منوره يې حمله كول غوښتل كله چې د رسول الله ﷺ د جنګياليو د ورتلو خبر ورته ورسېدو غرونو ته و تښتېدل مسلمانان ورته په ذي امر كې تر يوې مياشتې پورې پاتې شول بيا مديني منورې ته را ستانه شول .

(10)غزوة بُحران

د هجرت په دريم كال د ربيع الاول په مياشت كې وه .

هدف يې د هغه کسانو سره جنګ کول وو چې د بني سليم نه را غونډ شوي وو او د مسلمانانو سره يې د جنګ کولو تيارى کولو د مسلمانانو د ورتلو سره هغوى و تښتېدل ددې لپاره چې هلته پوره امن قائم کړي مسلمانان تر دوو مياشتو پورې هلته پاتې شول بيا مدينې منورې ته را ستانه شول .

(11)غزوة أحد

د هجرت په دريم کال د شوال په مياشت کې وه .
هدف يې د مدينې څخه دفاع کول وو او د قريشو دهغه لښکر مخه نيول وو چې مدينې منورې ته د جنګ لپاره د بدر د ورځې د بدل اخستلو او د اسلام د نوم ختمولو په نيت راغلي وو .
مسلمانان غازيان ۷۰۰ کسان وو ۵۰ پکې د آسونو سپاره وو .
کفار جنګيالي ۳۰۰۰ کسان وو ۲۰۰ پکې د آسونو واله وو .
د حضرت حمزة ❽ په شمول اويا کسان صحابه ﷺ په شهادت ورسېدل او ۲۳ کفار ووژل شول .

(12)غزوة حمراء الأسد

د هجرت په دريم کال د شوال په مياشت کې وه.
دا غزا د احد په سبا باندې وه هدف يې صرف د مسلمانانو د همتونو لوړ ښکاره کول وو د مکې

لښکر په لاره کې بېرته مديني منورې ته ګرځېدل غوښتل نو چې کله خبر شول چې مسلمانان په دوی پسې شا ته را وتلي دي هغوی مکې ته خپل تلل کاميابي وګڼله او بېرته ونه ګرځېدل .
مسلمانان په حمراء الاسد کې دری ورځې پاتې شول بېرته مديني منورې ته ستانه شول .

(13)غزوة بني النضير

د هجرت په څلورم کال د ربيع الاول په مياشت کې وه.
کله چې د بني النضير يهودو د رسول الله ﷺ د قتل پلان جوړ کړو نو رسول الله ﷺ ① په وحی سره دهغوی د بد پلان څخه خبر کړو نو ځکه رسول الله ﷺ د دوی له شر نه وساتل شو او پدې سره د دوی او مسلمانانو په مينځ کې شوی د امن تړون مات شو دوی له مدينې منورې څخه وشړل شول .

(14)غزوة بدر الموعد .... (بدر الآخرة)

د هجرت په څلورم کال د شعبان په مياشت کې وه .
هدف يې په هغه وعده باندې وفا کول وو چې د احد د غزا په آخر کې د مسلمانانو او کافرانو په مينځ کې پدې وشوه چې په راتلونکي کال کې به بيا په بدر کې په جنګ سره مخامخ کېږو مسلمانان جنګ ته را ووتل او بدر ته ورسېدل

هلته يې آته شپې د كفارو په انتظار كې تېرې كړې د كفارو لښكر يو ځل د ابو سفيان په مشرۍ كې را ووتلو بيا يې د قحطي او وچ كالي بهانه جوړه كړه او بېرته ستانه شول .

(15)غزوة ذات الرقاع

د هجرت په څلورم کال د شعبان په مياشت کې وه .

هدف يې د هغه کسانو سره جنګ کول وو چې د بني ثعلبة او بني محارب نه را وتلي وو او په مسلمانانو يې حمله کول غوښتل کله چې د مسلمانانو غازيانو فوځونه په دوی پسې ذات الرقاع ته ورسېدل هغوی ټول خپاره شوي وو .

د مانځه وخت شو مسلمانان ډارېدل چې که دوی په مانځه مصروف شي کفار له کومې خوا وربانديې حمله ونه کوي رسول الله ﷺ هلته صلاة الخوف اداء کړو او دا اول ځل وو چې دا مونځ کېدلو .

(16)غزوة دومة الجندل

د هجرت په پنځم کال د ربيع الاول په مياشت کې وه

هدف يې د هغه کسانو له مينځه وړل وو چې په دومة الجندل کې يې له خلکو نه مالونه اخستل او لاره يې نيوله رسول الله ﷺ په پټه سره په دوی پسې ور ووتلو پداسې حال کې چې د شپې به يې منزل کولو او د ورځې به يې ځان پټولو لکن بيا هم د رسول الله ﷺ تر رسېدنې وړاندې هغوی خبر شول هغوی صرف په خپله په تېښته بريالي شول او مالونه يې مسلمانانو ته په غنيمت کې پاتې

شول مسلمانان تر څو شپو پورې هلته پاتې شول بيا مدينې منورې ته را ستانه شول .

(17)غزوة بني المصطلق ... (المُرَيسيع)

د هجرت په پنځم کال د شعبان په مياشت کې وه.
هدف يې دهغه کسانو له مينځه وړل وو چې د بني مصطلق قبيلې نه د مسلمانانو سره جنګ کولو ته را ټولېدل کله چې د مسلمانانو لښکر په دوی پسې ورغلو دوی ترې و تښتېدل يو څه کسان پاتې شول هغوی جنګ کول شروع کړل يو څه وخت مسلمانانو او دوی په غيشو سره ويشتل کول بالآخره مسلمانانو غازيانو ورباندې حمله وکوله او دوی ته يې ماتې ورکړه .

(18)غزوة الخندق ... (الأحزاب)

د هجرت په پنځم کال د شوال په مياشت کې وه.
هدف يې د مدينې منورې نه دفاع کول وو او د ټولو عربو د قبيلو څخه د را جمع شويو ۱۰۰۰۰ لس زره کسانو مخه نيول وو .
د حضرت سلمان فارسي ❽ په مشوره باندې د کفارو په مخ کې خندق وويستل شو.
خندق د مسلمانانو مجاهدينو په لاس ساتل کېدو هغوی نشوای کولی چې تردې خندق تير شي يوه مياشت يې خواري وکوله لکن بيا يې هم ناکامي

هغه وخت په برخه شوه چې الله ① وربانديې داسې باد مسلط كړو چې هرشی يې ورته ګډ وډ كړل .

(19)غزوة بني قريظة

د هجرت په پنځم كال د ذی القعدې په مياشت كې وه.

د خندق د غزا په مهال بني قريظة يهودو چې په مدينه منوره كې وو هم د كفارو سره مرسته وكوله پدې سره د دوی او د مسلمانانو په مينځ كې د صلح تړون مات شو د خندق نه د بيرته را ګرځيدو سره سم مسلمانان په دوی پسې ورغلل او ١٥ ورځې يې محاصره كړل بالآخره تسليم شول حضرت سعد بن معاذ ❽ يې په حق كې فيصله وكوله چې سړي يې دې ووژل شي مالونه يې د تقسيم شي او ښځې يې دې بنديانې شي .

(20)غزوة بني لحيان

د هجرت په شپږم كال د جمادي ا لاول په مياشت كې وه.

هدف يې د بني لحيان قبيلې ته سزا وركول وو چې د رسول الله صحابه ﷺ يې هغه وخت شهيدان كړي وو چې رسول الله ☸ دوی ته د قران كريم او دين د ور ښودولو په موخه دوی ته ورليږلي وو .

(21)غزوة الغابة .... (ذي قَرَد)

د هجرت په شپږم کال د جمادي ا لاول په مياشت کې وه .

هدف يې دهغه کسانو را نيول وو چې د مسلمانانو د مال د څرولو په ځای يې حمله کړې وه يو شپونکی يې وژلی وو او يوه ښځه او څه اوښان يې له ځان سره تښتولي وو دوی په تېښته کامياب شول ښځه او څه اوښان يې د لاس نه را خلاص کړل شول .

دوه کسان يې ووژل شول او نور و تښتېدل او څه اوښان يې هم له ځان سره و تښتول .

(22)غزوة الحديبية

د هجرت په شپږم کال د ذی القعدې په مياشت کې وه .

رسول الله ﷺ د عمرې په نيت روان وو چې کفارو يې مخه ونيوله او عمرې ته يې پرې نه ښودو .

رسول الله ﷺ هغه لاره بدله کړه په کومه کې چې کفار ورته ولاړو وو له بلې لارې نه لاړو غوښتل يې چې مکې ته ننوزي او که پدې لاره کې څوک ورته مخه ونيسي نو جنګ په ورسره وکوي چې حديبيې ته ورسېدل د رسول الله ﷺ اوښه کېناسته او مخکې نه تله رسول الله ﷺ پوه شو چې دلته پاتې کېدل په کار دي نو په حديبية کې يې

مرکز جوړ کړو او کفارو ته يې خپل استازی ور ولېږلو .

کفارو د رسول الله ☸ استازی حضرت عثمان ❽ پرې نه ښودو چې بېرته مسلمانانو ته لاړ شي .

مسلمانانو فکر وکاوه چې دوی حضرت عثمان ❽ شهيد کړو نو ټول را ټول شول تر يوه ونه لاندې رسول الله ☸ د دوی نه بيعت واخيستو چې دوی به تر آخره دمه پورې د دښمن مقابله کوي دېته بيعة الرضوان وايي .

کفار چې ددې بيعت نه خبر شول حضرت عثمان ❽ يې را پرېښودو .

بيا کفارو خپل استازي را ولېږل په آخر کې پدې فيصله وشوه چې سږ کال به مسلمانان د عمرې نه بغير ستنيږي بل کال به بيا راځي او عمره به کوي .

(23)غزوة خيبر

د هجرت په اوم کال د محرم په مياشت کې وه .

هدف يې دهغه يهودو سر ټکول وو چې د بني غطفان او نورو عربو قبيلو خلک يې د مسلمانانو سره جنګ ته را پارول .

مجاهدين پداسې حالت کې د شپې خيبر ته ورسېدل چې هغوی ورباندې پوه نه شول سحر چې را رڼا شوه په خيبر باندې ورغلل .

يهود ټول په خپلو قلا ګانو کې ننوتل او د مسلمانانو سره ميدان ته را ونه وتل .

بالآخره فيصله وشوه چې دوی به رسول الله ﷺ ته تسليم شي او رسول الله ﷺ به يې معاف کړي او دوی به اسلامي دولت ته جزيه ورکوي .

❽ ددې جزيې ټولولو مسئول به محمد بن مسلمة وي .

(24)عمرة القضاء

د هجرت په اوم کال د ذو الحجې په مياشت کې وه .

د صلح حديبيې د شرطونو مطابق مسلمانان د عمرې کولو لپاره روان شول چې د ښځو او ماشومانو څخه بغير ۲۰۰۰ کسان وو .

څوک چې په صلح حديبية کې شريکان وو هغوی ټول پکې موجود وو .

د د ريو ورځو لپاره د مکې خلکو مکه دوی ته خلاصه کړه هغوی ترې غرونو ته لاړل .

رسول الله ﷺ اضافي سلاح تر مکې بهر پرېښودله او يوه ډله صحابه يې د هغې د ساتنې لپاره پرېښودل چې هغوی بيا وروسته عمره وکوله او نور صحابه د سلاح د ساتنې لپاره ورغلل .

مسلمانانو په مکه کې درې شپې تېرې کړې د عمرې مناسک يې اداء کړل بيا مدينې منورې ته ستانه شول .

(25)غزوة الفتح

د مكې مكرمې فتح د هجرت په آتم كال د رمضان په مياشت كې وه.

د قريشو له لوري نه د حديبې صلح ماته شوه .

ابو سفيان ددې غلطي له امله د بښنې غوښتلو لپاره مدينې منورې ته لاړو لكن رسول الله ﷺ ورسره خبرې ونه كولې .

رسول الله ﷺ لس زره كسان د مكې د فتح كولو لپاره روان كړل .

رسول الله ﷺ كوښښ كاوه چې د مكې د فتح راز پټ وساتي او بيا يې دعا هم كوله : اى الله ﷻ د دوى غوږونه او سترگې زمونږ نه بند كړه چې زمونږ په اړه وا نه وري او مونږ ونه ويني ترڅو چې ټول په يو دم ورشو .

چې كله مكې ته را ورسېدل خپل لښكر يې په څلورو لويو برخو باندې تقسيم كړو او هر چا ته يې مكې ته د ننوتلو خپله لاره ور په نښه كړه .

د لښكر ميمنة د حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه تر مشري لاندې به مكې ته د شمال له لوري څخه ننوزي .

د لښكر ميسرة به د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه تر مشري لاندې د جنوب له لوري مكې مكرمې ته ننوزي .

مهاجرين به د ابو عبيدة بن الجراح ❽ تر مشري لاندې د جنوب غرب نه مكې مكرمې ته ننوزي .

انصار به د سعد بن ابي وقاص ❽ تر مشري لاندې د غرب له لوري نه مكې مكرمې ته ننوزي .
دوى ته امر شوى وو چې هغه كسان به وژني چې د دوى مخې ته جنګ كولو ته راوزي .
په ټولو كې صرف خالد بن وليد ❽ د يو څه مقاومت سره مخامخ شو چې هغه هم ډېر زر ختم شو په پوره بريااليتوب سره مكه مكرمه فتح شوه .
په حرم كې پدې وخت كې ٣٦٠ بتان وو هغه ټول مات كړل شول .
له حرم نه د شرك ټولې نښې او اثار وويستل شول .

(26)غزوة حنين

د هجرت په آتم كال د شوال په مياشت كې وه.
كله چې مكه فتح شوه نو د هوازن او ثقيف خلكو نه غوښتل چې اسلام د نور هم فراخ شي نو د مسلمانانو سره د قطعي او فيصله كونكي جنګ لپاره ئې د ٢٥٠٠٠ څخه تر ٣٠٠٠٠ پورې كسان را ټول كړل رسول الله ﷺ په دوى پسې د مكې نه وادي حنين ته ور ووتلو .
كفار په كمين كې ورته ناست وو يو دم يې په مسلمانانو باندې د غيشو شروع وكوله .
پدې اول وخت كې مسلمانانو شا ته را منډه كړه او يو ډول ماتې يې وخوړه .

بيا د رسول الله ﷺ په خوا کې حضرت عباس ❽ مسلمانانو ته اوازونه وکول او مسلمانان بېرته د رسول الله ﷺ په خوا کې ور ټول شول جنګ يې شروع کړو کفارو ماتې وخوړه .
د عربو په تاريخ کې تر ټولو نه زيات غنيمت پدې غزا کې د مسلمانانو لاس ته ورغلو چې ٦٠٠٠ ښځې، ٢٤٠٠٠ اوښان، ٤٠٠٠٠ مېږې ١٥٠ کېلو سپين زر او ډېر نور مالونه وو .

(27)غزوة الطائف

د هجرت په آتم کال د شوال په مياشت کې وه.
کله چې په حنين کې کفارو ماتې وخوړه لويه برخه يې طائف ته و تښتېدل ددې لپاره چې هغوی ته نور هم ښه درس ورکړي رسول الله ﷺ په دوی پسې طائف ته ورغلو هغوی په قلا کې ترې ننوتل او جنګ ته ورته را ونه وتل مسلمانانو تر ٤٠ ورځو پورې محاصره کړل بيا بېرته ترې راغلل .

(28)غزوة تبوك

د هجرت په نهم کال د رجب په مياشت کې وه .
هدف يې دهغه روميانو سره جنګ کول وو چې د مسلمانانو سره يې د جنګ لپاره ٤٠٠٠٠ کسان روميان او عرب را ټول کړي وو .
دې غزا ته مسلمانانو تر هر وخت نه زيات تياری کړی وو ځکه چې د جنګ ځای ډېر لرې وو، د ګرمي

وخت وو او دښمن هم په تعداد کې ډېر زيات وو .

مسلمانانن د ۳۰۰۰۰ په تعداد کې پسې ورغلل چې ۱۰۰۰۰ پکې د آسونو سپاره وو .

ددې غزا نه صرف درى کسان مسلمانان پاتې وو او نور چې څومره پاتې وو هغه منافقين وو .

ځينې هغه غريبان مسلمانان وو چې راغلل رسول الله ﷺ ته يې ويل مونږ ته اسباب برابر کړه چې لاړ شو رسول الله ﷺ به ورته ويل لما سره څه نشته هغوى به ژړل او له ناکامه پاتې شول .

مسلمانانو ۱۵ ورځې له يوې خوا منزل وکولو او ۱۵ ورځې له بلې خوا .

۲۰ ورځې يې په ميدان کې د دښمن په انتظار کې تېرې کړې لکن دښمن ورته ميدان ته رانغلو چې د مسلمانانو مجاهدينو د ورتلو څخه خبر شول ټول و تښتېدل .

هغه عرب چې له روميانو سره په تعهد کې وو ټولو د رسول الله ﷺ سره خپل تعهد وکولو .

لکه چې ددې لړۍ په دريمه کړۍ کې تېره شوه چې د سيرت په کتابونو کې غزوة هغې واقعې ته وايي چې رسول الله ﷺ پخپله پکې تشريف وړی وي او سريه هغې واقعې ته وايي چې رسول الله ﷺ صرف صحابه ؓ پکې لېږلي وي اوس ستاسې فام د هغه سرايااوو لنډيز ته را ګرځوم چې رسول الله ﷺ په مختلفو حالتونو کې لېږلي دي .

سرية حمزة بن عبد المطلب (سرية سيف البحر)

دا سريه رسول الله ﷺ د حضرت حمزه ؓ په مشرۍ کې د سيف البحر سيمې ته لېږلې وه چې دېرش کسان مهاجرين مجاهدين پکې وو دهغه قافلې مخه يې نيول غوښتل چې ابو جهل د مکې نه د شام په لوري روانه کړې وه کله چې دوی د سيف البحر سيمې ته ورسېدل د قافلې سره مخامخ شول د ابو جهل د کسانو سره جنګ ته تيار شول هلته يو قومي مشر مجدي بن عمرو الجهني د دوی تر مينځ شو او جنګ ته يې پرې نه ښودل .
د رمضان په مياشت کې وه د هجرت اومه مياشت وه .

سرية عبيدة بن الحارث (سرية رابغ)

دا دوهمه سريه وه پدې کې رسول الله ﷺ د حضرت عبيدة بن حارث ❽ په مشري کې شپېته کسان مهاجرين د رابغ سيمې ته ولېږل سپين بيرغ يې حضرت مسطح بن اثاثه ته په لاس ورکړو ترڅو لاړ شي هلته د قريشو د تجارتي قافلې مخه ونيسي چې د ابو سفيان بن الحرب تر مشري لاندې وه حضرت عبيدة بن الحارث د ابو سفيان د کسانو سره مخامخ شو په غيشو باندې وارونه سره وشول لکن جنګ ته سره ورانه شول او په همدې سريه کې د الله ① په لاره کې لمړی غيشی حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ وار کړو .

سرية سعد بن أبي وقاص (سرية الخرّار)

د هجرت څخه ۹ مياشتې وروسته رسول الله ﷺ شل کسان مجاهدين د حضرت سعد بن ابي وقاص ❽ په مشرئ کې د خرار سيمې ته ولېږل او د دوی سپينه جنډه يې د حضرت مقداد بن عمرو❽ په لاس کې ورکړه او دوی ته وويل شول چې د الخرا سيمې نه وړاندې به نه ځي او هلته به د قريشو د قافلې مخه ونيسي .

دوی چې هلته ورسېدل قافله له دوی څخه وړاندې تردې سيمه تېره شوې وه بېرته مدينې منورې ته را ستانه شول .

سرية عبد الله بن جحش (سرية نخلة)

د هجرت په دوهم كال د رجب په مياشت كې رسول الله ﷺ د عبد الله بن جحش سره آته كسان مهاجرين ولېږل او دوی ته يې ليک وركړو ورته يې وويل كله مو چې د مكې په لوري دوه ورځې سفر وكولو بيا به دا ليک وګورئ دوی چې د دوه ورځو سفر نه وروسته هغه ليک وكتلو په هغه كې ليكلي وو چې تر نخلة پورې لاړشئ او د قريشو حالات و ګورئ او وڅېړئ احوال يې مونږ ته راوړئ .

د حضرت عبد الله بن جحش سره نور كسان په لاندې ډول وو .

أبو حذيفة بن عتبة ❽

عمرو بن سراقة ❽

عامر بن ربيعة ❽

سعد بن أبي وقاص ❽

عتبة بن غزوان ❽

واقد بن عبد الله ❽

صفوان بن بيضاء ❽

سرية عمير بن عدي ❽

عصماء بنت مروان هغه ښځه وه چې ښه شاعره وه او په خپلو شعرونو باندې به يې د رسول الله ☸ توهين کولو او په رسول الله ☸ پسې به يې بد ويل رسول الله د هجرت نه ۱۹ مياشتې وروسته هغه د خپلو صحابه وو سره ياده کړه دهغې دقوم يو سړي حضرت عمير بن عدي بن خرشة په هغې پسې د رمضان په ۲۵ ورغلو هغه يې په خپل کور کې ووژله .

سرية سالم بن عمير ❽

ابو عفک اليهودي هغه کس وو چې عمر يې تر ۱۲۰ کلونو ځخه آوښتی وو په خپلو خبرو او شعرونو سره به يې خلک د رسول الله ☸ سره مقابلې ته را پارول او د مسلمانانو په اړه به يې بد شعرونه ويل تردې چې د رسول الله ☸ صحابي حضرت سالم بن عمير ❽ چې ډېر زيات تقوی لرونکی انسان وو او بدري وو په ځان نظر کړو چې يا به ابو عفک وژني او يا به دی مړ کيږي په هغه پسې يې خپل کوښښ شروع کړو چې د هجرت په دوهم کال د شوال په مياشت کې يې هغه يوازي ويده ګير کړو قتل يې کړو .

سرية قتل كعب بن الأشرف

كعب بن اشرف هغه يهودي وو چې د رسول الله ﷺ سره يې بې ساري دښمني کوله اود بدر نه وروسته مکې ته لاړو خلک يې د رسول الله ﷺ سره جنګ ته را پورته کول رسول الله ﷺ ترينه تنګ شو صحابه وو ته يې وويل دده کار به ماته څوک وکوي؟ حضرت محمد بن مسلمة ورته ويل : غواړې چې قتل يې کړو؟ رسول الله ﷺ ورته وويل هو! محمد بن مسلمة ❽ له څو کسانو سره پسې ورغلو د خپل کور په صحن کې يې قتل کړو .

سرية زيد بن حارثة (القردة)

پدې سريه کې د بدر د حادثې نه وروسته رسول الله ﷺ د زيد بن حارثه تر مشري لاندې د هجرت نه ۲۸ مياشتې وروسته څه کسان القرده سيمې ته ولېږل چې هلته د قريشو د هغه تجارتي قافلې مخه ونيسي چې صفوان بن امية يې مشري کوله دوی ورغلل هغه قافله يې ونيوله صفوان بن امية د خپلو کسانو سره وتښتېد د دوی لارښود فرات بن حيان ژوندی ونيول شو چې بيا وروسته په اسلام مشرف شو رسول الله ﷺ د قافلې له مال نه پنځمه برخه بيت المال ته لرې کړه نور يې د سريې په کسانو باندې تقسيم کړو.

سرية أبي سلمة بن عبد الأسد المخزومي ❽

پدې سريه کې رسول الله ☸ د حضرت ابي سلمة بن عبد الاسد المخزومي ❽په مشري کې پنځوس کسان مهاجرين او انصار په بني اسد پسې وروسته ددې ور ولېږل چې رسول الله ☸ ته خبر راغلو چې هلته د خويلد زامنو طلحة او سلمة کوښښ شروع کړی دی ترڅو د مسلمانانو سره د جنګ کولو لپاره څه کسان را ټول کړي مسلمانان مجاهدين چې هلته ورغلل د دوی د ورتلو نه هغوی خبر شول ټول و تښتېدل جنګ ونه شو صحابه ❽ بېرته په امن سره مدينې منورې ته را ستانه شول .

سرية عبد الله بن أنيس ❽

کله چې رسول الله ☸ ته خبر راغلو چې په عرنة مقام کې سفيان بن خالد الهزلي کوښښ شروع کړی دی د مسلمانانو سره جنګ ته خلک را ټولوي نو رسول الله ☸ حضرت عبد الله بن انيس ❽ پسې ور ولېږلو هغه يې په خپل مرکز کې قتل کړو او سر يې رسول الله ☸ ته را وړو .

سرية المنذر بن عمرو

د حضرت منذر بن عمرو په مشري کې رسول الله ﷺ څلوېښت کسان اهل نجد ته ولېږل چې هغوی ته اسلام او قران ور زده کړي هغوی پرې را ټول شول دا ټول يې شهيدان کړل صرف کعب بن زيد هغه صحابي وو چې پدې ورځ د رسېدلي زخم نه جوړ شو بيا په خندق کې په شهادت ورسيدو.

سرية مرثد بن أبي مرثد

پدې سريه کې رسول الله ﷺ د مرثد بن ابي مرثد د يو قول له مخې د حضرت عاصم بن ثابت تر مشري لاندې لس کسان مکې ته لېږلي وو چې د هغه ځای نه دهغوی د حرکاتو او نورو شيانو په اړه مسلمانانو ته معلومات راوړي .

سرية محمد بن مسلمة

د غزوة خندق او غزوة قريظة د فارغېدلو څخه وروسته لمړۍ سريه وه رسول الله ﷺ د محمد بن مسلمة په مشري کې دېرش کسان صحابه په نجد کې د قرطاء سيمې ته ولېږل چې کله رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې د مسيلمة کذاب په تحريک باندي ثمامة بن اثال الحنفي د بني حنيفة قبيلې مشر

تحريک شروع کړی دی او څه کسان يې د رسول الله ﷺ سره د جنګ کولو ته پيدا کړي صحابه وو ﷺ په هغوی باندې يو دم چاپه واچوله څه کسان ترې وتښتېدل لکن ثمامة بن اثال يې ژوندی ونيولو او رسول الله ﷺ ته يې راوستلو په مسجد نبوي کې يې په يوه ستنه پورې وتړلو رسول الله ﷺ ورته را ووتلو ورته ويل يې: ثمامة لتا سره څه دي؟ ده ورته ويل لما سره خير دی که ته ما وژنې نو يو مجرم وژنې او که ما خلاص کړې نو شکريه به د اداء کوم او که مال غواړې څومره چې غواړې دربه يې کړم بيا څه وخت وروسته يې بيا ورسره همدا ډول خبرې وکولې چې دريم ځل هم همدا خبرې تکرار شوې نو رسول الله ﷺ امر وکولو چې پرې يې ږدئ.

کله چې خوشې کړو د مسجد سره نېږدې د خورما ونه وه هلته لاړو غسل يې وکولو او راغلو په اسلام مشرف شو.

سرية عكاشة بن محصن الأسدي

رسول الله ﷺ د څلوېښتو صحابه وو سره حضرت عكاشة بن محصن الاسدي الغَمر ته چې د بني اسد قبيلې اوبه وې هغه وخت ور ولېږلو چې رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې دلته څه کسان دي چې د مسلمانانو سره جنګ کول غواړي کله چې

صحابه رضي الله عنهم پسې ورغلل هغوی ترې خپاره شول او جنګ ورسره ونشو .

سرية محمد بن مسلمة (بذي القصة)

رسول الله ﷺ حضرت محمد بن مسلمة رضي الله عنه د لسو کسانو صحابه وو سره په بني ثعلبة پسې ور ولېږلو چې په ذی القصة نومي ځای کې وو هغوی د مسلمانانو له ورتلو نه خبر شول هغوی ورته سل کسان په کمين کې کېناستل او مسلمانانو چې په يو ځای کې شپه تېرول غوښتل دوی پرېښودل چې مسلمانان ويده شول هغوی وربانديې حمله وکوله او ټول يې شهيدان کړل حضرت محمد بن مسلمة رضي الله عنه سخت زخمي وو دوی فکر وکاوه چې شهيد دی سبا يوڅو مسلمانان په هغه لار تيرېدل دوی چې وليدل نو يې ويل انا لله و انا اليه راجعون پدې وخت کې محمد بن مسلمة ورته اواز وکولو او بيا يې دی مدينې منورې ته نقل کړو الله ① ده ته شفاء ورکړه بيا حضرت ابو عبيدة بن الجراح رضي الله عنه د څلوېښتو کسانو سره هغه ځای ته ورغلو د مالونو څخه بغير يې هلته هېڅوک هم پيدا نه کړل ټول خلک تښتېدلي وو مالونه يې له ځان سره مدينې منورې ته راوستل .

سرية أبي عبيدة بن الجراح

کله چې رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې په ذي القصة کې خلک دي د مسلمانانو سره جنګ ته ځان تيارول غواړي نو حضرت محمد بن مسلمة رضي الله عنه يې پسې ور ولېږلو هغوی ورته په کمين کې کېناستل دهغه ملګري يې شهيدان کړل بيا رسول الله ﷺ حضرت ابي عبيدة بن الجراح د څلوېښتو کسانو سره په هغه کسانو پسې ور ولېږلو هغوی ترې و تښتېدل صرف مالونه يې پاتې وو مسلمانانو هغه ترېنه مدينې منورې ته راوستل صرف يو کس يې ژوندی ورسره راوستلی وو هغه بيا په اسلام مشرف شو هغه يې هم پرېښودو.

سرية زيد بن حارثة (بني سليم)

پدې سرية کې رسول الله ﷺ حضرت زيد بن حارثة رضي الله عنه د بني سليم په خلکو پسې د هجرت په شپږم کال په ربيع الثاني کې ور لېږلی وو هلته يې صرف يوه ښځه پيدا کړه هغې ورته لارښونه وکوله چې په هغه ځای کې داسې کسان وو چې د مسلمانانو سره يې د جنګ په اړه تياريانې کولې مسلمانانو وربانديې حمله وکوله ډېر کسان يې چې يو د همدې ښځې خاوند هم پکې وو ژوندي ونيول ټول يې مدينې منورې ته راوستل رسول الله ﷺ دا ښځه او دهغې خاوند پدې انعام کې پرېښودل چې صحابه وو رضي الله عنهم ته يې سمه لاره ښودلې وه .

سرية زيد بن حارثة (العيص)

❽ پدې سرية کې رسول الله ☸ حضرت زيد بن حارثة العيص علاقې ته لېږلى وو چې هلته د قريشو د قافلې مخه ونيسي چې د ابو العاص بن الربيع په مشري کې له شام نه مکې ته روانه وه او ابو العاص د حضرت زينب رضى الله تعالى عنها خاوند وو لکن اوس د دوى په مينځ کې جدايي راغلې وه ځکه چې دى په اسلام نه وو مشرف شوى د سحر د مانځه په وخت کې زينب رضى الله تعالى عنها جومات لوري ته ور چغه کړه چې ما ابو ا لعاص ته امان ورکړى دى بيا هغه معاف کړل شو او د سريې خلکو ته هم وويل شول ستاسې خوښه کوم شيان چې تاسې اخيستي که يې ورکوئ او کنه خو دا کس د رسول الله ☸ زوم دى بيا ټولو صحابه وو په خوشحالۍ سره هغه مالونه ورکړل ابوالعاص روان شو کله چې مکې ته ورسېدو ټولو خلکو ته يې خپل مالونه و سپارل بيا يې خپل اسلام اعلان کړو او بېرته مدينې منورې ته راغلو رسول الله ☸ زينب بېرته ورته حواله کړه تفصيلي قصه يې ددې سلسلې په دوهم کتاب کې تېره شوېده .

سرية زيد بن حارثة (الطرف)

پدې سريه کې رسول الله ☸ حضرت زيد بن حارثه ❽ د الطرف سيمې ته بني ثعلبة قبيلې ته له پنځلسو کسانو سره ور لېږلی وو کله چې هغوی خبر شول چې د رسول الله ☸ کسان را روان دي هغوی ټول و تښتېدل او د جنګ لپاره را ونه وتل .

سرية زيد بن حارثة (حسمی)

پدې سريه کې رسول الله ☸ حضرت زيد بن حارثه ❽ د حِسمی نومي سيمې ته لېږلی وو .
رسول الله ☸ کله چې دحية الکلبي قيصر ته له يو خط سره لېږلی وو هغه بادشاه ده ته ښې جامې يوه چپنه او نورې څه تحفې ورکړې وې دی چې بېرته را روان وو چې حسمی ته را ورسېدو دلته د هنيد په نوم يو کس او دهغه زوی او جذام قبيلې څه نور خلک ورته په مخه کې ودرېدل هرڅه يې دده څخه واخيستل صرف زړې جامې يې دده په غاړه کې ور پرېښودې او دی يې خوشې کړو د جذام قبيلې څه مسلمانان پدې خبر شول هغوی ورغلل له هغه خلکو نه يې بېرته هر شی را ټول کړل او بېرته يې دحية الکلبي ته حواله کړل دحية الکلبي ❽ راغلو رسول الله ☸ ته يې ټوله

قصه وکوله رسول الله ﷺ سم د لاسه پنځه سوه کسان د زید بن حارثه ؓ سره ملګري کړل او پدي خلکو پسې یې ور ولېږل دوی به د شپې منزل کولو او د ورځې به پټېدل ترڅو یې په ورتلو څوک خبر نه شي په بې خبري کې یې په هغه ټولو غلو باندې په یو ځای چاپه واچوله هنید او دهغه زوی او دهغوی ګڼ ملګري ووژل شول زر اوښان یې په غنیمت کې ترینه ونیول او ۲۰۰ کسان ښځې او ماشومان یې بندیان کړل د بني الضبیب قبیلې ځینې خلک زید ؓ ته راغلل ورته یې ویل مونږ مسلمانان یو زید ورته وویل الحمدلله سورت ووایه ! هغه ورته وویل بیا رسول الله ﷺ ته د هغه قبیلې نه خلک راغلل چې مونږ مسلمانان یو او زید له مونږ سره داسې وکول رسول الله ﷺ حضرت علي ؓ ته وویل چې د دوی سره لاړ شه او زید ؓ ته ووایه چې د دوی مالونه ورکړي حضرت علي ؓ وویل زید ؓ به زما په خبره یقین څنګه کوي؟ رسول الله ﷺ ورته ویل دا زما توره درسره د نښې په ډول یوسه .

حضرت علي ؓ چې حضرت زید ؓ ته راغلو او د رسول الله ﷺ خبره یې ورته وکوله زید ورته وویل پدي خبره څه نښه ده چې دا پیغام رسول الله ﷺ را لېږلی دی؟ حضرت علي ؓ ورته د رسول الله ﷺ توره ښکاره کړه زید ؓ هغه و پېژنده او بیا یې په

خلکو کې چغه کړه ای خلکو د دوی نه مو چې څه مالونه اخیستي هغه ورکړئ دا ده رسول الله ﷺ د نښې په ډول خپله توره را لېږلې ده او هغه امر کړی دی.

سرية زيد بن حارثة (وادي القرى)

پدې سریه کې رسول الله ﷺ حضرت زید بن حارثه ❽ په عیینه بن حصن پسې ور لېږلی وو ددې قصه مخکې تېره شوه هغه کس وو چې د مدینې منورې له ساحې نه یې د مسلمانانو څه ا وښان تښتولي وو .

سرية عبد الرحمن بن عوف

پدې سریه کې رسول الله ﷺ حضرت عبد الرحمن بن عوف ❽ دومة الجندل ته لېږلی وو چې هلته خلکو ته د اسلام دعوت ورکړه او که چا درنه سر غړونه کوله جنګ ورسره کوه اوه سوه کسان صحابه یې ورسره ولېږل هلته یې خلکو ته اسلام وړاندې کړو تردې چې د قبیلې مشر الاصبغ هم په اسلام مشرف شو بیا حضرت عبد الرحمن بن عوف دهغه لور ترې وغوښته هغه هم راضي شو په نکاح یې ورکړه هماغلته یې وربانده واده جوړ کړو په بېرته راتلو کې یې مدینې منورې ته راوستله .

سرية علي بن أبي طالب (فدك)

پدې سريه کې رسول الله ❁ حضرت علي ❽ د فدک سيمې ته سعد بن بکر قبيلي ته په هغه کسانو پسې ورلېږلی وو چې د خيبر د يهودو سره د رسول الله ❁ په خلاف په جنګ کې د مرستې وعده کړې وه او د خيبر يهود يې جنګ ته را هڅول .

سرية زيد بن حارثة (مدين)

پدې سريه کې رسول الله ❁ حضرت زيد بن حارثه ❽ د مدين سيمې ته چې دحضرت شعيب ⌛ ځای وو او د تبوک لور ته وو لېږلی وو .

سرية عبد الله بن عتيك

پدې سريه کې رسول الله ❁ حضرت عبد الله بن عتيک ❽ د څه نورو صحابه وو ☙ سره په سلام بن ابي الحقيق يهودي پسې هغه وخت ور لېږلی وو کله چې ده په يهودو کې د رسول الله ❁ په خلاف تحريک چلولو او دده ❁ جنګ ته يې خلک را بلل دوی ورغلل او هغه يې د شپې قتل کړو بېرته ترينه راغلل .

سرية عبد الله بن رواحة

کله چې سلام بن ابي الحقيق ووژل شو دهغه په ځای په يهودو باندې اسير بن رزام مشر شو ده به ويل زه به په محمد داسې څه وکوم چې بل چا وربانډې نه وي کړي نو يې په غطفان قبيله کې تحريک شروع کړو او درسول الله ﷺ په خلاف يې خلک جنګ ته را بلل رسول الله ﷺ پسې حضرت عبد الله بن رواحة رضي الله عنه د دېرشو کسانو سره ور ولېږلو دوی ورته وويل مونږ تاته د محمد ﷺ له لوري نه راغلي يو هغه غواړي چې ته له مونږ سره لاړ شې هغه لتا سره څه خبره کوي او کېدای شي تا به د خيبر د علاقې مشر مقرر کړي ده له خپلو کسانو سره مشوره وکوله دوی مشوره ورنه کړه دوی ورته وويل محمد نه غواړي چې له بني اسرائيلو څخه څوک مشر کړي ده ورته وويل لکن اوس هغه له جنګونو څخه ستړی شوی دی پدې کسانو کې عبد الله بن عتيک رضي الله عنه هم وو دی وايي چې دېرش کسان مونږ وو دېرش کسان راسره دوی را ووتل او هرچا په سپرلۍ باندې ورسره يو کس کېنولو را روان شوو په لاره کې زه د اسير بن رزام سره په يوه سپرلۍ وم هغه پدې سفر باندې شکي شو او پښېمانه شو زما تورې ته يې لاس را اوږد کړو اخستل يې غوښتل ما ورته وويل ای د خدای دښمنه خيانت شو؟ ای د خدای دښمنه خيانت کوې؟ پدې کې مو جنګ شو او توره مې پرې را تاو کړه ومې وهلو جنګ شروع شو او ټول مو قتل کړل .

سرية كرز بن جابر الفهري

پدې سريه کې رسول الله ☸ حضرت کرز بن جابر الفهري ❽ په هغه آتو کسانو پسې ور ولېږلی وو چې مسلمانان شوي وو بيا په مدينه کې بيماران وود رسول الله ☸ نه يې وغوښتل چې دوی د مالونو خاوندان دي که اوس هم دوی د مالونو ساحې ته ولېږل شی دوی به جوړ شي رسول الله ☸ د خپلو مالونو خوا ته لېږلي وو دوی بېرته کافر شوي وو او د رسول الله ☸ شپونکی يسار الراعي يې وژلی وو او اوښان يې تري روان کړي بولي وو حضرت کرز ❽ د شلو کسانو سره په آسونو باندې ورپسې ورغلو را ګير يې کړل رسول الله ☸ ته يې راوستل ټول ووژل شول .

سرية عمرو بن أمية الضمري

پدې سريه کې حضرت عمرو بن امية الضمري وروسته ددې لاړو چې خبيب بن عدي ❽ په دار ځړول شوی وو د شپې يې هغه له دار نه را خلاص کړو په زمکه يې واچولو چې بېرته يې زمکې ته وکتل هغه زمکې تېر کړی وو او هلته موجود نه وو ددې امله حضرت خبيب ❽ ته بليع الارض (د زمکې تېر کړی) وايي .

سرية عمر بن الخطاب

پدې سرية کې رسول الله ﷺ حضرت عمر رضي الله عنه د هوازن قبيلې په خلکو پسې ور لېږلی وو د هجرت په اوم کال کې په شعبان کې وه ده ته ويل شوي وو چې په هوازن قبيله کې ځينې داسې خلک دي چې هغوی د مسلمانانو سره د جنګ تياري کوي ته به ورشې د هغوی سره به ددوی په ځای کې جنګ وکوې ترڅو چې حضرت عمر رضي الله عنه هلته رسېدو هغوی ددې ځای څخه تښتېدلي وو په سريه کې هېڅ ډول جنګ ونشو دوی بيرته مدينې منورې ته په امن سره راستانه شول .

سرية أبي بكر الصديق

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د بني کلاب قبيلې په ځينې خلکو پسې ور لېږلی وو .

سرية بشير بن سعد الأنصاري (فدك)

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت بشير رضي الله عنه د دېرشو کسانو سره د فدک علاقې ته د بني مرة قبيلې په کسانو پسې ور لېږلی وو دوی چې بېرته له هغه ځای نه مدينې منورې ته په لاره وو د شا نه ډېر کسان پسې راغلل د شپې يې را ګير کړل په غيشو يې ويشتل سره کول تردې چې د حضرت بشير رضي الله عنه د

ملګرو غيشي ختم شول هغوى وربانديږ را تول شول څوک چې و تښتېدل هغوى و تښتېدل پاتې يې شهيدان شول حضرت بشير تر آخره ساعته جنګ وکولو تردې چې وغورځېدو دوى فکر کاوه چې مړ شو دشپې د شهيدانو له ځاى نه پاڅېدو په فدک کې يې د يو يهودي کور ته فناه ورووړه هغه وساتلو تردې چې د ګرځېدو قابل شو بيا مدينې منورې ته لاړو .

سرية غالب بن عبد الله الليثي

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت غالب بن عبد الله الليثي ❽ د ديرشو کسانو سره په بني عوال او بني ثعلبة پسې ميفعة سيمې ته لېږلى وو هلته د څه جنګ سره مخامخ شول او د يو مخور مشر په شمول يې څه کسان ووژل او په همدې سرية کې حضرت اسامه بن زيد ❽ يو کس پداسې حالت کې ووژلو چې هغه کلمه ويله ده فکر وکاوه چې دى لما څخه هسې ځان خلاصوي او له ډاره دا کلمه وايي او مسلمان نه دى نو يې ځکه ووژلو رسول الله ﷺ ورته غصه شو او ورته ويل يې (هلا شققت قلبه ا صادق ا کاذب) يعنې تا يې ولې زړه ورباندې نه څېرې کولو چې تا د ننه پکې ليدلى واى چې هغه رښتيا ويل که درواغ .

يعنې چې هغه په خوله کلمه ويله ستاسې لپاره همدا بس وه بيا يې وژل نه وو په کار .

سرية بشير بن سعد الأنصاري (يمن والجبار)

پدې سريه کې رسول الله ☸ حضرت بشير بن سعد الانصاري ❽ يمن او جبار سيمو ته له ۳۰۰ کسانو سره وروسته ددې ولېږلو چې رسول الله ☸ ته خبر راغلو چې پدې ځای کې عيينة بن حصن کسان را ټول کړي او له هغوی سره يې وعده کړېده چې دی به د رسول الله ☸ په خلاف د دوی مرسته کوي او دا ځای خيبر ته نېږدې وو نو رسول الله ☸ ور پسې صحابه ور ولېږل دوی چې هلته ورسېدل هغه خلک ټول ترېنه خپاره شول صرف دوه کسان يې پيدا کړل او يو څه د تښتېدليو کفارو نه پاتې مالونه وو هغه يې راټول کړل رسول الله ☸ ته يې مدينې منورې ته راوستل هغه دوه کسانو اسلام قبول کړو رسول الله ☸ بيا پرېښودل .

سرية بن أبي العوجاء السلمي

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت بن ابي العوجاء السلمي ❽ بني سليم قبيلې ته د پنځوسو کسانو سره ور لېږلی وو چې هغوی ته د اسلام لور ته بلنه ورکړي مخکېددې چې دوی هغوی ته ورشي هغوی ترينه خبر وو او ښه تياری يې ورته کړی وو او په سلاح باندې مجهز يې مخې ته راغلې وو دوی هغوی د اسلام لور ته را وغوښتل کفارو ورته وويل زمونږ د اسلام قبلولو ته څه ضرورت دی؟ پدې خبرو کې جنګ شروع شو او مسلمانان يې محاصره کړل او ټول يې شهيدان کړل صرف بن أبي العوجاء السلمي يې د سخت زخمي توب په حالت کې پريښودو.

سرية غالب بن عبد الله الليثي (الكديد)

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت غالب بن عبد الله الليثي ❽ بني الملوح ته په کديد سيمه کې ور لېږلی وو.

سرية غالب بن عبد الله الليثي إلى مصاب

رسول الله ﷺ حضرت زبير بن العوام تيار کړو چې د ۲۰۰ کسانو سره يې فدک ته ولېږي مخکېددې چې دوی روان شي غالب بن عبد الله الليثي د کديد نه را ورسېدو د هجرت آتم کال د صفر مياشت وه پدې وخت کې يې حضرت زبير بن العوام ؓ ته ويل ته کېنه دده په ځای يې حضرت غالب بن عبد الله الليثي ولېږلو .

سرية شجاع بن وهب الأسدي

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت شجاع بن وهب الأسدي ؓ دهجرت په آتم کال د ربيع ا لاول په مياشت کې د ۲٤ کسانو سره د هوازن قبيلې په ځينو کسانو پسې ور ولېږلو په سريه کې څه کسان ووژل شول او څه مالونه يې له ځان سره مدينې ته غنيمت را وستلي وو او دا علاقه له مدينې منورې نه د پنځو ورځو په مسافه کې وه او د دوی په سفر باندې ټولې ۱٥ ورځې ولګېدې .

سرية كعب بن عمير الغفاري

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت كعب بن عمير الغفاري ❽ ذات اطلاح نومي ځاى ته د ١٥ كسانو سره لېږلى وو چې هلته خلكو ته د اسلام لوري ته دعوت وركړي كله چې دوى هغوى د اسلام لوري ته را وغوښتل هغوى د اسلام نه انكار وكولو او له دوى سره يې جنګ شروع كړو تردې چې د كعب بن عمير نه بغير يې نور ټول صحابه په شهادت ورسول او كعب بن عمير د سخت زخمي په حالت كې مدينې منورې ته را ستون شو رسول الله ﷺ چې پدې واقعه خبر شو ډېر زيات وربانددې غصه شو او غوښتل يې چې په دوى پسې لوى فوځ ور ولېږي لكن وروسته خبر ورته را ورسېد چې هغه خلكو خپل ځاى پرېښى دى او بل چېرته تللي دي بيا رسول الله ﷺ هم لښكر ور ونه لېږلو .

سرية مؤتة

رسول الله ﷺ حضرت حارث بن عمير الازدي ❽ ملک بصري ته د شام ته د خپل استازي په توګه ور ولېږلو او خط يې ورکړو چې په هغه کې يې دی اسلام ته را غوښتلی وو هغه په ډېر کبر سره د رسول الله ﷺ استازی شهيد کړو او د استازي شهيد کول په اوس وخت کې هم بد عمل دی او په هغه وخت کې هم ډېر د شرم نه ډک جرم ګڼل کېدو رسول الله ﷺ ته چې دا خبر را ورسېدو نو زيات غصه شو او خلکو ته يې اعلان وکولو چې را ټول شي د روميانو سره جنګ ته تلل دي نو ۳۰۰۰ کسان جنګ ته را ټول شول اګست/سپتمبر 629 م - جمادی الأولی د هجرت آتم کال وو رسول الله ﷺ د دوی په سر باندې زيد بن حارثه ❽ امير کړو او بيا يې ورته وويل که چېرته دا شهيد شو بيا به حضرت جعفر بن ابي طالب ❽ ستاسې امير وي او که هغه شهيد شو بيا به حضرت عبد الله بن رواحة ❽ ستاسې امير وي .

د جمعې ورځ وه چې دوی روان شول د مجاهدينو خپلوان ورسره را وتلي وو ټولو ورته دعا ګانې کولې چې الله مو په خير فاتحين او صابرين خپلو کورونو ته را ورسوه .

دوی لاړل د شام يو کلي معان ته ورسېدل دوی ته خبر راغلو چې روميان خو جنګ ته په ډېر لوی تعداد کې راوتلي دي چې يو لک کسان روميان دي

او يو لک کسان ورسره نور د قبائلو نه را ټول شوي دي صحابه کېناستل مشوره يې کوله چې څه وکوو؟ مونږ خو دا فکر نه کاوه چې زمونږ د ۳۰۰۰ کسانو مجاهدينو مقابله به د دوو لکو کسانو سره کيږي ځينو پکې ويل چې رسول الله ﷺ ته به خط ولېږو او ورته به ووايو چې زمونږ دښمن خو دوه لکه کسان دي يا خو به په مونږ پسې نور کسان راولېږي او يا خو به مونږ ته څه امر وکوي په هغه امر به عمل وکوو چې هرڅه وو .

حضرت عبد الله بن رواحة ❽ پاڅېدو خبرې يې شروع کړې او ويې ويل : ای خلکو تاسې ددې لپاره راوتلي ياست چې که الله مو شهادت نصيب کړي والله مونږ دخلکو سره په عدد باندې جنګ نه کوو مونږ د خلکو سره صرف پدې مبارک دين جنګ کوو چې الله ① مونږ ته وربانديې عزت راکړی دی راځي چې ور وړاندې شو الله به په دوه ښو شيانو کې يو مونږ ته راکوي يا شهادت او يا کاميابي خلکو وويل والله ابن رواحة رښتيا وويل او ددې خبرې سره ټول په يوه جذبه ور وړاندې شول چې بلقاء سيمې ته ورسېدل د هرقل فوځونه څه روميان او څه عرب هم نېږدې کلي ته چې مشارف يې ورته ويل را ورسېدل مسلمانان پدې وخت کې د موتة په نوم کلي ته وړاندې شول په اوس وخت کې ورته کرک وايي مسلمانانو خپل فوځ تيار کړو په ميمنه (د فوځ په ښي طرف) باندې يې قطبة بن قتادة ❽ مقرر کړو په ميسره (د فوځ په چپ طرف) عباية

بن ملک يو انصاري مجاهد ❽ مقرر کړو صفونه سره ووړاندې شول او سخت جنګ شروع شو چې صرف د زخميانو فرياد د تورو اواز او د مسلمانانو د تکبير اوازونه پورته کېدل د زمکې نه تور ګرد پورته شو فوځونه ډېر په سخته سره مخامخ شول چې د مسلمانانو لمړی امير حضرت زيد بن حارثه ❽ د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو حضرت جعفر ❽ را ټوپ کړل او بيرغ يې پورته کړو د مسلمانانو فوځيانو په مخه کې وو جنګ ډېر سخت وو ښی لاس يې چا ووهلو او لاس يې ترې پرې کړو ده زر بيرغ په چپ لاس کې ونيولو او هغه يې زمکې ته پرې نه ښودو چپ لاس يې ترې ووهلو د پاتې بدن او سر په واسطه يې د اسلام بيرغ پورته کړو او زمکې ته يې پرې نه ښودو تردې چې شهيد شو .

عبد الله بن رواحة ❽ را ټوپ کړل او د مسلمانانو بيرغ يې پورته کړو او په بل لاس کې يې خپله توره واخيسته او په جنګ ور ګډ شو تردې چې د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو کله چې د مجاهدينو دريم قائد هم شهيد شو ثابت بن أرقم بن ثعلبة الأنصاري ❽ را ټوپ کړل او د مسلمانانو بيرغ يې پورته کړو اواز يې وکړو ای مسلمانانو امير و ټاکئ دوی ورته وويل همدا ته امير شوې ده وويل نه زه يې نشم کولی بيا وويل شول چې خالد بن وليد به امير وي او په اسلام کې د خالد بن وليد دا لمړی ځل وو چې امير شو ده په خپل جنګې مهارت د فوځ ښی طرف چپ طرف ته ولېږلو او چپ طرف يې ښي طرف ته ولېږلو او پدې وخت کې

شپه وه سبا چې صفونه سره مخامخ شول نو کفارو چې ولېدل کسان بدل دي دوی فکر وکاوه چې مسلمانانو ته لکه چې نور تازه دم فوځونه راغلي دي د هغوی زړه وغورځېدو

او مسلمانانو ته ویل شوي وو چې څومره مو وس وي دومره په سخته سره به حمله کوئ حضرت خالد بن ولید ❽ فرمايي د موتة په ورځ مې په لاس کې نه توري ماتې شوې چې کله سره مخامخ شول مسلمانان په همداسې سخته توګه د کفارو سره مخامخ شول هغوی ماتې وخوړه او مسلمانانو ته یې شا کړه میدان یې پرېښودو کله چې هغوی له میدان څخه و تښتېدل نو حضرت خالد بن ولید ❽ هم مسلمانانو ته وویل ودرېږئ په دوی پسې نه ورځو او بېرته مدینې منورې ته را ستانه شول او دا یوه ښه تجربه وه چې د ښه عزت په وخت کې په داسې وخت کې چې کفارو ماتې خوړلې وه دوی مدینې منورې ته را ستانه شول پدې جنګ کې د مسلمانانو له لوري نه تر ګمان څخه ډېر کم تلفات وو صرف ۱۲ کسان شهیدان وو او د رومیانو له لوري نه ۳۳۵۰ دری زره دری سوه پنځوس کسان وژل شوي وو

رسول الله ☸ ددې هرڅه په اړه په مدینه منوره کې صحابه وو ته خبر ورکړو هغوی ته یې وویل حضرت زید بن حارثه ❽ جنګ ته ورانددې شو هغه شهید شو بیا حضرت جعفر ❽ بیرغ واخیستو هغه هم شهید شو بیا عبد الله بن رواحة ❽ واخیستو هغه

هم شهيد شو او بيا د الله د تورو څخه يوې تورې واخيستو او هغه ته الله ① فتح ورکړه .
پدې غزا کې شهيدان په لاندې ډول وو .

1. زيد بن حارثة
2. جعفر بن ابي طالب
3. عبد الله بن رواحة
4. مسعود بن الاسود
5. وهب بن سعد
6. عباد بن قيس
7. عمرو بن سعد
8. الحارث بن النعمان
9. سراقة بن عمرو
10. أبو کليب بن عمرو
11. جابر بن عمرو
12. عامر بن سعد

رضوان الله عليهم اجمعين

سرية عمرو بن العاص إلى ذات السلاسل

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت عمرو بن العاص ❽ هغه وخت ذات السلاسل سيمې ته ولېږلو کله چې رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې د قضاعة قبيلې خلک سره ټول شوي دي او غواړي چې مدينې منورې ته په ورو ورو را نېږدې شي نو رسول الله ﷺ ور پسې ۳۰۰ کسان پداسې توګه ور ولېږل چې د شپې به منزل کوي او د ورځې به پټيږي ترڅو په دوى باندې حمله وکوي کله چې دوى ور نېږدې شول نو دوى ته معلومه شوه چې هغه ډېر کسان دي نو رسول الله ﷺ ته يې احوال را ولېږلو او مرسته يې ترې وغوښته رسول الله ﷺ حضرت ابو عبيدة بن الجراح د ۲۰۰ کسانو سره ور ولېږلو پدې کسانو کې حضرت ابو بکر صديق ❽ او حضرت عمر ❽ هم وو ټول مسلمانان چې سره يو ځاى شول نو په يو ځل يې په هغوى باندې حمله وکوله هغوى تريټه و تښتېدل او جنګ يې ورسره ونه کولو .

سرية الخبط

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت ابو عبيدة بن الجراح ❽ د هجرت په آتم کال د رجب په مياشت کې د ۳۰۰ کسانو مهاجرينو سره چې حضرت عمر ❽ هم پکې وو د جهينة يو کلي ته چې د بحر په غاړه وو لېږلى وو ددې کلي او د مدينې په مينځ کې د پنځو ورځو لاره وه په لاره کې دوى ډېر وږي شول د ونو د پانو خوراک ته مجبور شول يو ځل حضرت قيس بن سعد ورته يو اوښ واخيستو هغه يې ورته حلال کړو بيا بحر ورته يو لوى ماهى غاړې ته را وغورځولو ډېر لوى وو ټولو صحابه وو دهغه څخه خوراک کولو تردې چې بېرته د راګرځېدلو وخت يې شو را وګرځېدل د هېڅ ډول جنګ سره مخامخ نه شول .

سرية أبي قتادة بن ربعي الأنصاري إلى خضرة

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت أبي قتادة بن ربعي الأنصاري ❽ د ۱۵ کسانو سره د غطفان قبيلې ته لېږلى وو د يو څه جنګ سره مخامخ شول او د مقابل لوري نه مرګ وشو صحابه د ۱۵ ورځو سفر نه وروسته په خير سره د څه غنيمت سره مدينې منورې ته را ستانه شول .

سرية أبي قتادة بن ربعي الأنصاري إلى بطن إضم

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت أبي قتادة بن ربعي الأنصاري رضي الله عنه د هجرت په آتم کال کې د رمضان په آخرو شپو کې د آتو کسانو سره بطن اضم ته هغه وخت لېږلی وو چې رسول الله ﷺ فتح مکې ته روانېدو د دوی د لېږلو فايده دا وه چې خلک فکر وکوي چې رسول الله ﷺ هم په دې کسانو پسې ورځي او څوک شک ونه کوي چې رسول الله ﷺ د مکې په لور ځي .

سرية خالد بن الوليد إلى العزى

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت خالد بن الوليد رضي الله عنه د مکې مکرمې د فتح نه وروسته د هجرت په آتم کال د رمضان په مياشت کې د ۳۰ کسانو سره ولېږلو چې لاړ شئ په نخلة نومي ځای کې مشهور بت عزى وران کړئ دوی لاړل هغه يې وران کړو بېرته چې راغلل رسول الله ﷺ ته يې قصه وکوله رسول الله ﷺ ورڅخه پوښتنه وکوله چې څه شی دې ولېدل؟ ده رضي الله عنه ورته وويل نه .. رسول الله ﷺ ورته وويل څه لاړ شه هغه وران کړه نه دې دی

وران كړى كله چې حضرت خالد بن وليد په سخته غصه كې بېرته راغلو گوري چې يوه توره ښځه بغير د جامو څخه لوڅه ببر سر ولاړه ده هغه يې ووژله بيا چې رسول الله ﷺ ته ورغلو رسول الله ﷺ ورته ويل هو همدا عزى بس دا اوس ددېنه نا اميده شوه چې ددېنه وروسته دې ستاسې په ښارونو كې څوك دهغې عبادت وكوي .

سرية عمرو بن العاص إلى سواع

پدې سريه كې رسول الله ﷺ حضرت عمرو بن العاص ❽ د مكې مكرمې د فتح نه وروسته د هجرت په آتم كال د رمضان په مياشت كې د څه كسانو سره په سواع پسې چې د هذيل قبيلې بت وو ور ولېږلو چې وران يې كړي هغه يې وران كړو او بېرته ترېنه را ستانه شول .

سرية سعد بن زيد الأشهلي

پدې سريه كې رسول الله ﷺ حضرت عمرو بن العاص ❽ د مكې مكرمې د فتح نه وروسته د هجرت په آتم كال د رمضان په مياشت كې د ۲۰ كسانو سره په مناة بت پسې ور ولېږلو چې وران يې كړي دا د اوس، خزرج او غسان د خلكو بت وو دوى دهغه ورانولو ته ورغلل چې يوه توره لوڅه ښځه چې

ببر سر يې وو ورته را ووتله او فرياد يې كولو سينه يې وهله حضرت سعد ❽ ور وړاندې شو هغه يې ووژله او بيا يې بت وران كړو .

سرية خالد بن الوليد إلى بني جَذيمة

پدې سريه كې رسول الله ☸ خالد بن وليد ❽ د فتح د مكې نه وروسته بني جذيمة قبيلې ته ور ولېږلى وو چې هغوى اسلام ته را وغواړي او صرف هغوى ته د اسلام لوري ته دعوت وركړي .

سرية الطفيل بن عمرو الدوسي

پدې سريه كې رسول الله ☸ حضرت طفيل بن عمرو الدوسي ❽ په ذي الكفين بت پسې ورلېږلى وو چې وران يې كړي او دا د عمرو بن حممة الدوسي بت وو چې د هجرت په آتم كال د شوال په مياشت كې وران شو .

سرية عيينة بن حصن الفزاري

پدې سريه كې رسول الله ☸ حضرت عيينة بن حصن الفزاري ❽ بني تميم قبيلې ته د هجرت په

نهم كال د محرم په مياشت كې د پنځوسو كسانو سره ور لېږلى وو .

سرية قطبة بن عامر بن حديدة

پدې سريه كې رسول الله ﷺ حضرت قطبة بن عامر بن حديدة رضي الله عنه د خثعم قبيلې يو كلي ته د شلو كسانو مجاهدينو سره ور لېږلى وو .

سرية الضحاك بن سفيان الكلابي

پدې سريه كې رسول الله ﷺ حضرت الضحاك بن سفيان الكلابي رضي الله عنه د هجرت په نهم كال د ربيع الاول په مياشت كې د القرطاء سيمې ته د ګڼ شمېر مجاهدينو سره لېږلى وو دوى لاړل هلته يې خلكو ته د اسلام لوري ته دعوت وركړو هغوى له اسلام نه انكار وكولو دوى ورسره جنګ وكولو كفارو ته يې ماتې وركړه څه كسان يې ترې ووژل او څه يې ژوندي مدينې منورې ته راوستل .

سرية علقمة بن مجزز المدلجي

پدې سريه كې رسول الله ﷺ حضرت علقمة بن مجزز المدلجي رضي الله عنه حبشې ته د هجرت په نهم كال د ٣٠٠

کسانو سره د ربيع الثاني په مياشت کې لېږلی وو .

سرية علي بن أبي طالب إلى الفلس

پدې سريه کې رسول الله ☸ حضرت علي بن أبي طالب ❽ په فلس بت پسې ور لېږلی وو دا د بني طئ د قبيلې بت وو رسول الله ☸ ور پسې د حضرت علي ❽ په مشرۍ کې ١٥٠ کسان ور ولېږل چې وران يې کړي دا بت يې وران کړو هلته موجودو خلکو ورسره جنګ وکولو هغوی ته يې ماتې ورکړه او غنيمتونه يې ترې راوړل .

سرية عكاشة بن محصن الأسدي

پدې سريه کې رسول الله ☸ حضرت عكاشة بن محصن الأسدي ❽ د جناب سيمې ته د هجرت په نهم کال د ربيع الثاني په مياشت کې لېږلی وو .

سرية خالد بن الوليد إلى بني عبد المدان بنجران

پدې سريه کې رسول الله ☸ حضرت خالد بن الوليد ❽ د هجرت په لسم کال د ربيع الاول په مياشت

کې بني عبد المدان قبيلې ته چې په نجران کې وه لېږلی وو .

سرية علي بن أبي طالب إلى اليمن

پدې سريه کې رسول الله ﷺ حضرت علي بن أبي طالب رضي الله عنه د يمن خلکو ته د هجرت په لسم کال د رمضان په مياشت کې لېږلی وو او ورته ويلي يې وو چې خلک د اسلام لوري ته را وغواړه او چې چا درسره جنګ نه کولو ته ورسره جنګ مه کوه .

سرية أسامة بن زيد

دا د رسول الله ﷺ وروستنی سريه وه پدې کې يې اسامه بن زيد د ګڼ شمېر مشرانو صحابه وو سره د شام سيمې ته لېږلی وو .

ماخذونه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412هـ مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ-1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403هـ.

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ - 1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ - طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23-غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ-1982م.

24- غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ

25-فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26- الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27-زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28-السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ - 1996م.

٢٩-المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة الرسالة،

الطبعة الأولى، 1418هـ- 1997م.

30- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

31- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

32- القيادة العسكرية في عهد الرسول ﷺ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

33- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.

